د افغانستان بانک



# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک د ۱۳۹۷ مالي کال کلنی اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک



# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک د ۱۳۹۷ مالي کال کلنی اقتصادي او احصائیوي بولټن

د پولي سیاست آمریت
د افغانستان بانک
ابن سینا واټ
کابل
افغانستان
ټلیفون: ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+
وب پاڼه: www.dab.gov.af
بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ پیلیږي. دا بولټن د ۱۳۹۷ مالي کال (د ۲۰۱۷ کال د ډیسمبر له ۲۱ نېټې څخه د ۲۰۱۸ کال د ډیسمبر تر ۲۰ نېټې پورې) اقتصادي او احصائیوي بدلونونه رانغاړي.

**د محتویاتو لړلیک**

**عمومي کتنه** ........ ۱
**۱. نړیوال اقتصادي وضعیت** ........ ۵
**۱.۱ پرمختللي اقتصادونه** ........ ۶
۱.۱.۱ د امریکې د متحدو ایالتونو اقتصاد ........ ۶
۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد ........ ۶
۳.۱.۱ د جرمني اقتصاد ........ ۷
**۲.۱ راغوړېدلي اقتصادونه** ........ ۸
۱.۲.۱ د چین اقتصاد ........ ۸
۲.۲.۱ د هند اقتصاد ........ ۹
۳.۲.۱ د ترکیې اقتصاد ........ ۱۰
**۲. د بانکې او پولي بازار بدلونونه** ........ ۱۳
۱.۲ پولي پروګرام ........ ۱۳
۲.۲ د نقدینګی حجم ........ ۱۴
۳.۲ خالصه نړیوالې زیرمې ........ ۱۵
۴.۲ د اسعارو د مبادلې بازار ........ ۱۷
۵.۲ د آزاد بازار کړنې او د سیالیت شرایط ........ ۱۷
۱.۵.۲ د اسعارو لیلام ........ ۱۷
۲.۵.۲ د بانګه ایزو پاڼو لیلام ........ ۱۸
۳.۵.۲ الزامي او اضافي زیرمې ........ ۲۰
**۳. د انفلاسیون بهیر او لیدلوری** ........ ۲۳
**۱.۳ په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې** ........ ۲۴
**۴. د بهرني سکتور بدلونونه** ........ ۳۳
**۱.۴ د ادراینو بیلانس** ........ ۳۳
۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس ........ ۳۳
۲.۱.۴ بانګه ایز حساب ........ ۳۴
۳.۱.۴ مالي حساب ........ ۳۴
**۲.۴ د توکو سوداګري** ........ ۳۵
**۳.۴ د سوداګرۍ لوری** ........ ۳۶
**۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب** ........ ۳۹
۱.۳.۴ د وارداتو ترکیب ........ ۳۹
۲.۳.۴ د صادراتو ترکیب ........ ۴۰
**۴.۴ بهرنی پوراینې** ........ ۴۱

**۵.۴ خالصه نړیوالې زیرمې** ۴۲
**۵. د مالي سکتور بدلونونه** ۴۹
**۱.۵. د بودجې د اجراء نرخ** ۵۰
**۲.۵ اصلي بودجه (کسر او ډېریدنه)** ۵۰
**۳.۵ د عوایدو راټولول** ۵۱
۱.۳.۵ داخلي عواید ۵۱
۲.۳.۵ غیر مالیاتي عواید ۵۲
**۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې** ۵۳
**۵.۵ لګښتونه** ۵۴
**۶. د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی** ۵۷
۱.۶ د بانکي نظام شتمنی ۵۸
۱.۱.۶ ناخالصه پورونه ۵۹
۲.۱.۶ د پور د زیان زیرمې ۵۹
۳.۱.۶ د کریډټ ویشنه ۶۰
**۲.۶ د پورونو ډله بندي** ۶۲
۱.۲.۶ صعب الحصول پورونه ۶۲
۲.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پورونه ۶۳
۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه ۶۳
۴.۲.۶ د زیان په کټګورۍ کې پورونه ۶۳
۵.۲.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات ۶۳
۶.۲.۶ پانګه اچونه ۶۴
۷.۲.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۶۴
**۳.۶ پوراینې** ۶۴
۱.۳.۶ امانتونه ۶۵
۲.۳.۶ پور اخیستنې ۶۶
**۴.۶ نقدینه ګی (سیالیت)** ۶۶
**۵.۶ پانګه** ۶۶
**۶.۶ ګټورتیا (نافعیت)** ۶۶
**۷.۶ د اسعارو خطر** ۶۹
**۸.۶ د ټکټانې د نرخ خطر** ۶۹

**د ګرافونو لست**


۱.۱ ګراف: پرمختللي، راغوړېدلي او د پرمختګ په حال کې اقتصادونه او د نړۍ د کورنۍ ناخالصه تولیداتو وده...........۵
۲.۱ ګراف: د متحدو ایالتونو د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۶– ۲۰۱۸...........۶
۳.۱ ګراف: د امریکې د متحدو ایالتونو د مصرفي توکو د بیو شاخص (د بدلونونو سلنه)...........۶
۴.۱ ګراف: د بریتانیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ...........۷
۵.۱ ګراف: د جرمني د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۵ - ۲۰۱۸...........۷
۶.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۵ - ۲۰۱۸...........۸
۷.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د سکتورونو ونډه...........۸
۸.۱ ګراف: ، د هند د کورني ناخالصه تولیداتو کلنی د ودې نرخ...........۹
۹.۱ ګراف: د ترکیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۵ - ۲۰۱۸...........۱۰
۱۰.۱ ګراف: د ترکیې د مصرفي توکو د بیو شاخص د ۲۱۸ کال له جنورۍ – ډیسمبر...........۱۰
۱.۲ ګراف: د ۲۰۱۸ کال لپاره پولي زیرمې...........۱۴
۲.۲ ګراف: د ۲۰۱۸ کال لپاره په ګردښت کې پیسې...........۱۴
۳.۲ ګراف: خالصه بهرنۍ شتمنۍ، خالصه کورنۍ شتمنۍ او د پراخه مفهوم په توګه پیسې...........۱۵
۴.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، جاري امانتونه او د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه...........۱۵
۵.۲ ګراف: د خالصه نړیوالې زیرمې حقیقي کچه او هدف، په میلیون امریکایي ډالر، ۲۰۱۸ کال...........۱۷
۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ، ۲۰۱۸ کال...........۱۷
۷.۲ ګراف: د انګلیسي پاونډ او یورو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ، ۲۰۱۸ کال...........۱۷
۸.۲ ګراف: د هندي روپۍ او پاکستاني روپۍ پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ، ۲۰۱۸ کال...........۱۷
۹.۲ ګراف: د ایراني تومانو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنۍ اوسط نرخ، ۲۰۱۸ کال...........۱۸
۱۰.۲ ګراف: د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ...........۱۸
۱۱.۲ ګراف: د پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه، ۲۰۱۸ کال...........۱۹
۱۲.۲ ګراف: د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ...........۱۹
۱۳.۲ ګراف: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ...........۱۹
۱۴.۲ ګراف: د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ...........۱۹
۱۵.۲ ګراف: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ...........۲۰
۱.۳ ګراف: ملي عمومي انفلاسیون ( کال په کال)، ۲۰۱۸ کال...........۲۶
۲.۳ ګراف: د اوسط موندلو میتود ( کال په کال)...........۲۶
۳.۳ ګراف: ملي عمومي درې میاشتني انفلاسیون اوسط ( کال په کال)...........۲۶
۴.۳ ګراف: د کابل د انفلاسیون کلنی اوسط نرخ، ۲۰۰۴ – ۲۰۱۸...........۲۹
۵.۳ ګراف: د کابل عمومي انفلاسیون، ۲۰۰۴ – ۲۰۱۸...........۲۹
۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس (په میلیون امریکایي ډالرو)...........۳۴
۲.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حسابونه (په میلیون امریکایي ډالر)...........۳۵
۳.۴ ګراف: د افغانستان د بهرنیو مستقیمو پانګونو داخلي جریانونه (په میلیون امریکایي ډالر)...........۳۵
۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنې او بیلانس...........۳۶
۵.۴ ګراف: د صادراتو لورى (د ونډې سلنه)، ۲۰۱۸ کال...........۳۷

۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، ۲۰۱۷ کال ۳۷
۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۲۰۱۸ کال ۳۸
۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۲۰۱۷ کال ۳۹
۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۲۰۱۸ کال ۴۰
۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۲۰۱۷ کال ۴۰
۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۲۰۱۸ کال ۴۱
۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۲۰۱۷ کال ۴۱
۱۳.۴ ګراف: د بهرنیو پوراینو پرتلنه (په میلیون امریکایي ډالر)، ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کال ۴۲
۱۴.۴ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې، (په میلیون امریکایي ډالر)، ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کال ۴۲
۱.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو، لګښتونو، بودجې او بسپنو پرتلنه، ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کال ۴۹
۲.۵ ګراف: د ټولیزې بودجې پرتلنه، ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کال ۵۰
۳.۵ ګراف: د عملیاتي او پرمختیایي بودجې د اجراء د نرخ پرتلنه، ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کال ۵۰
۴.۵ ګراف: د اصلي بودجې کسر او ډېرېدنه، ( د بسپنو په ګډون او نه ګډون) ۵۱
۵.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ونډه، ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کال ۵۱
۶.۵ ګراف: د ټولیزه کورنیو عوایدو اجزاوې، ۲۰۱۸ کال ۵۱
۷.۵ ګراف: د ټولیزه داخلي عوایدو پرتلنه، ۲۰۱۸ کال ۵۲
۸.۵ ګراف: ستر داخلي عواید، ۲۰۱۸ کال ۵۲
۹.۵ ګراف: د ټولیزه غیر مالیاتي عوایدو د سترو اجزاوو پرتلنه، ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کال ۵۲
۱۰.۵ ګراف: د بسپنو ټولیزه کلنی شننه، ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کال ۵۳
۱۱.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې اجزاوې، ۲۰۱۸ کال ۵۳
۱۲.۵ ګراف: د بسنه ورکوونکو د ونډې پرتلنه، ۲۰۱۸ کال ۵۳
۱۳.۵ ګراف: د ټولیزه لګښتونو پرتلنه، ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کال ۵۴
۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ډلو ونډه ۵۸
۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه ۵۹
۳.۶ ګراف: د پور د پورتوفولیو کیفیت ۶۲
۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د بین البانکي طلباتو ونډه ۶۳
۵.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د پوراینو ونډه ۶۳
۶.۶ ګراف: په افغانیو ایښودل شوي امانتونه ۶۵
۷.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکیب ۶۵
۸.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ امانتونه ۶۵
۹.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي ۶۶
۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا (نافعیت) ۶۸
۱۱.۶ ګراف: د بانکي نظام له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه او له شتمنۍ څخه ترلاسه شوې ګټه ۶۸
۱۲.۶ ګراف: نهایي خالصه ټکټانه ۶۸

**د جدولونو لست**


۱.۲ جدول: د ۲۰۱۸ کال لپاره د نقدینګۍ حجم ۱۶
۱.۳ جدول: ملي عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۸ کال ۲۷
۲.۳ جدول: د کابل عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۸ کال ۳۰
۱.۴ جدول: د افغانستان د ادباینو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)، ۲۰۱۸ کال ۴۳
۲.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالر)، ۲۰۱۸ کال ۴۴
۳.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورى، ۲۰۱۸ کال (په میلیون امریکایي ډالر) ۴۴
۴.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورى، ۲۰۱۷ کال (په میلیون امریکایي ډالر) ۴۵
۵.۴ جدول: بهرنۍ پوراینې، ۲۰۱۸ کال ۴۵
۶.۴ جدول: خالصې نړیوالې زیرمې، ۲۰۱۸ کال ۴۶
۱.۶ جدول: د شتمنیو او پوراینو ترکیب ۵۹
۲.۶ جدول: د کریډټ سکتوري وېش، د ۲۰۱۴ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۸ تر سپټمبره پورې ۶۱
۳.۶ جدول: د بانکي نظام د ټینګښت مهم شاخصونه ۶۷
۴.۶ جدول: د ګټې/ زیان جدول ۶۸



## د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستیال پیغام

″د ټولنې د ډېرو زیانمن کیدونکو وګړو ملاتړ، د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه ده. دا چاره د سالم او اغېزناکه پولي سیاست د تطبیق له لارې ترسره کیږي، هغه سیاست چې د بانک پر لومړني هدف (د بیو پر ثبات) تمرکز کوي.″

## عمومي کتنه

د نړۍ اقتصاد د توليدي سکتور د ښه والي او د سوداګريزو کړنو د کموالي له امله معتدله وده کړې ده. که څه هم د سترو اقتصادونو ترمنځ خبرې اترې روانې دي، خو په دې برخه کې شته سوداګريز کړکيچونه لا حل شوي نه دي. د پورته يادو شويو کړکيچونو ترڅنګ د نړيوالې اقتصادي ودې د اټکل شوې کچې د کميدو په اړه شته اندېښنو د پانګوالو ليوالتيا راکمه کړې او د نړيوالو ونډه والو د بيو په کموالي کې يې ستره ونډه درلودلې ده. د امريکايي ډالرو پياوړتيا له امله په مالي بازار کې د پام وړ بدلونونه راغلي دي، د دې ترڅنګ د غوړيدو او پرمختګ په حال په ځينو لويو هېوادونو کې د پانګې بهيدنې او د اسعارو فشارونو زيات شوي او په ورته کې له مالي فشارونو سره يو شمېر هېوادونو مخ شوي دي. په ټوليزه توګه، اټکل کېږي چې نړيواله اقتصادي وده به د ۲۰۱۸ زيږديز کال له ۳ سلنې څخه په ۲۰۱۹ زيږديز کال کې ۲.۹ سلنې ته راټيټه شي. همدا ډول په پرمختللو هېوادونو کې اقتصادي کړنې کمزوره شوي دي. په اروپايي هېوادونو (د يورو په سيمه) کې اقتصادي کړنې د خالصه صادراتو د دوامداره کموالي له امله د مخکې اټکل په پرتله کمزوره شوي دي. کله چې يو شمېر هېوادونو د جاري حساب په لوړ کسر سره د مالي بازارونو د پام وړ فشارونه تجربه کاوه، د غوړيدو په حال کې بازارونو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو د ودې ټيټيدونکی بهير درلوده.

په افغانستان کې د مصرفي توکو د بيو شاخص د بدلونونو کال په کال سنجش ښيي چې په ۲۰۱۸ زيږديز کال کې د انفلاسيون اوسط نرخ ۰.۶ سلنې ته رسيږی چې د تير کال د ۵.۰ سلنه ثبت شوې کچې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د انفلاسيون په نرخ کې د کمښدو اصلي لاملونه په نړيوالو بازارونو کې د توکو کمې او ثابته بيې او په افغانستان کې د داخلي تقاضا کموالی ګڼل کيږي.

د افغانستان بانک په بازار کې د زياتې نقدينه ګۍ د لرې کولو او د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ د زياتو نوسانونو د کمولو په موخه په ۲۰۱۸ زيږديز کال کې په ټوليزه توګه ۲،۴۱۵.۵۲ ميليونه امريکايي ډالره ليلام کړي دي. په ورته خت کې، د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت د ۲۰۱۸ زيږديز کال له پيل څخه تر پای پورې ۸ سلنه کموالی موندلی دی.

د بانکي نظام شتمنۍ د ۲۰۱۸ زيږديز کال د ډسمبر په پای کې ۰.۲۰ سلنه وده کړې ده چې د تير کال د ورته مودې د ۵.۷۳ سلنه ثبت شوې ودې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د بانکي نظام پانګې، سره له دې چې د ۲۰۱۸ زيږديز کال په اوږدو کې ۴.۳۲ سلنه کموالي په درلودلو سره ۳۴.۳۹ ميلیارده افغانيو ته رسيږي، پياوړی وضعيت درلود. د بانکي نظام خالصه ګټه په ۲۰۱۸ زيږديز کال کې ۲.۴۳ ميليارده افغانيو ته رسيږي چې د ۲۰۱۷ زيږديز کال د ۱.۷۷ ميليارده افغانيو خالصې ګټې په پرتله د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي.

بهرني سکتور په جاري حساب کې د ۲۱ سلنه کسر او د ادانيو په بيلانس کې د ۷۳۴.۸۶ ميليونه امريکايي ډالره کسر په درلودلو سره د تير کال د ورته ربعې په پرتله د ۲۰۱۸ کال په دريمه ربعه کې کمزوره وده تجربه کړې ده. پولي زيرمو د ۲۰۱۸ زيږديز کال په پای کې ۰.۴۰ سلنه منفي وده ثبت کړې چې د ۲۰۱۷ زيږديز کال په پای کې د ۱۰ سلنې ودې په پرتله کموالی ښکاره کوي. په ګردښت کې پيسې چې د پولي زېرمو تر ټولو ستره برخه جوړوي، هم ۰.۱۸ سلنه منفي وده ثبت کړې ده.

خالصه نړيوالې زېرمې د ۲۰۱۸ زيږديز کال په اوږدو کې ۷،۷۰۵ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال په پرتله ۵ سلنه (۳۵۹.۶ ميليونه امريکايي ډالره) لږ څه زياتوالی ښکاره کوي.

# ١

# نړیوال اقتصادي وضعیت


# ۱
# نړیوال اقتصادي وضعیت

د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ د تولیدي سکتور د ښه والي او په سوداګریزو کړنو کې د کمـوالـي لـه املـه نـړیـوالـې اقتصادي ودې معتدله بهیر درلودلی دی. که څه هم د لـویـو اقتصادونو ترمنځ خبرې اتـرې لا هـم روانـې دي، خـو د سوداګریزو کړکیچونو پر کموالي یې د پام وړ اغیزه درلودلې نه ده. د یادو کړکیچونو ترڅنګ د نړیوالې اقتصادي ودې د کچې د کمیدو د اټکل په اړه شتوو اندېښنو د پانګوالو لیوالتیا راکمه کړې او د نړیوالو ونډه والو د بیو په کمیدو کـې یـې ستره ونډه درلودلې ده.

د غوړیدو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو (EMDEs) ته د پور ورکونې ټکټانه د لویو پرمختللو اقتصادونو د مـرکـزي بانکونو لخوا تر ډیرې کچې پورې د پالیسۍ د نه تطبیق له امله زیاته شوې ده. د امریکایي ډالرو پیاوړتیا، په مالي بازار کې د پام وړ بدلون او د غوړیدو او د پرمختګ په حال په ځیـنـو لویو هېوادونو کې د پانګې بهیدنې او د اسعارو د فشارونـو د زیاتوالي او د مالي فشار سره د ځینو هېوادونو د مـخ کـیـدو لامل شوي دي. سربېره پر دې، د انرژۍ بیو د پام وړ نوسانونه تجربه کړي دي چې د ۲۰۱۸ زیږدیز کال تر پـایـه پـورې د عرضې په عواملو کې چټک کموالي یې بنسټیز لامل په ګوته شوی دی. د نورو توکو، په تیره بیا د فلزونو بیې هم راټیـټـې شوي دي چې د توکو صادرونکو لپاره یې نوې ننګونې پـیـدا کړي دي. په ټولیزه توګه، اټکل کیږي چې نړیواله اقتـصـادي وده به د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د ۳ سلنې په پرتله په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې ۲.۹ سلنې ته راټیټه شي. همدارنګه په پـرمـخـتـللـو هېوادونو کې اقتصادي کړنو زیاتوالی موندلی دی. پـه ورتـه وخت کې د امریکې د متحده ایالاتو وده ثابته پاتې شـوې او د مالي هڅونې لخوا لا پیاوړې شوې ده. برعکس، پـه یـورو سیمه کې یې فعالیت د تیر کال په پرتله یو څه راکـم شـوی دی چې د خالصو صادراتو کموالی یې ستر لامل ګڼل کیږي. په داسې حال کې چې په پرمختللو هېوادونو کې اقـتـصـادي وده د تیر کال راهیسې ۲.۲ سلنې ته راټیټه شوې ده، خـو لا هم له ټاکل شوې کچې ښخه لوړه او له تیرو وړاندوینو سـره برابره ده.

د غوړیدو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو وده پـه ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې ۴.۲ سلنې ته راټیټه شوې ده چـې د تـیـرې اټکل شوې کچې پـه پـرتله ۰.۳ سلنه ټیټوالی ښکـاره کـوي چې په دې توګه د جاري حساب د لـوړ کسر لـرونـکـو هېوادونو د پراخ مالي بازار او د پام وړ ټیټوالي فشارونه تجربه کړي دي. په ټولیزه توګه، د لوړې ودې د شاخصونو له مخې د توکو د صادرونکو وضعیت د پام وړ خراب شوی دی چې په اړوند هېواد کې د دوی په وړاندې شته ننګونې یـې سـتـر لامل ګڼل کیږي. همدارنګه د توکو د واردوونکو کړنـې لـه پیاوړتیا سره سره بیا هم یو څه کموالی ښکاره کوي چـې د دې کموالي ستر لاملونه د ظـرفـیـت لـوړونـې پـر وړانـدې محدودیتونه او د صادراتو وده په ګوته شوي دي.

**۱.۱ ګراف: د پرمختللو هېوادونو، د غوړیدو په حال کې هېـوادونـو او د نـړۍ د کورني ناخالصه تولیداتو وده**




سرچینه: د پیسو د نړیوال صندوق اقتصادي لیدلوری


## ۱.۱ پرمختللي اقتصادونه

### ۱.۱.۱ د امریکې د متحدو ایالتونو اقتصاد

د امریکې د متحدو ایالتونو د اقتصادي ودې کلنی نرخ د تیر کال د ۲.۲ سلنې په پرتله په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې ۲.۹ سلنې ته لوړ شوی دی. په ورته وخت کې، په څلورمه ربعه کې حقیقي کورنیو ناخالصه تولیداتو هم زیاتوالی موندلی دی چې شخصي لګښتونو، غیر دولتي ثابتې پانګونې، صادراتو، شته شخصي پانګونو او دولتي لګښتونو په دې برخه کې مثبته ونډه درلودلې ده.


برعکس، کورني حقیقي ناخالصه تولیدات د ثابتې استوګنیزې پانګونې او د سیمه ایز او ایالتي دولت د لګښتونو له امله یو څه زیانمن شوي دي. همدارنګه هغه واردات چې په کورنیو ناخالصو تولیداتو کې شامل نه دي، هم زیاتوالی موندلی دی. د انفلاسیون نرخ د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د ۱.۹ سلنې په پرتله په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې ۲.۱ ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

**۲.۱ ګراف: د امریکا د متحدو ایالتونو د کورنیو ناخالصه تولیداتو د کلنۍ ودې نرخ ۲۰۱۸-۲۰۱۶**




سرچینه: د امریکا متحده ایالاتو د سوداګرۍ وزارت، د اقتصادي شننې او څیړنې اداره

**۳.۱ ګراف: د امریکا متحده ایالاتو د مصرفي توکو د بیو شاخص – ټول ښاري مصرفوونکي ( د بدلون سلنه)**




سرچینه: د امریکا متحده ایالاتو د کار وزارت، د کار د احصائیې اداره


### ۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد

په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې د بریتانیې اقتصاد شاوخوا ۱.۴ سلنه وده کړې ده چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال له ۴.۲ سلنه ستر اقتصادي رکود راهیسې خورا ټیټه وده ښکاره کوي. د ۲۰۰۸ زیږدیز کال د اقتصادي رکود څخه مخکې، په تیره بیا په ۲۰۰۰ زیږدیز کال کې د کورني ناخالصه تولیداتو له ۳.۷ سلنې ودې وروسته د بریتانیې اقتصاد په نسبي توګه ښه وده تجربه کړې ده.

د تولید له پلوه د کورنیو ناخالصو تولیداتو د سنجش/ ارزونې له مخې د خدمتونو په سکتور کې د مسلکي، علمي، اداري او مرستندویو خدمتونو د وروستی ربعې په وده کې یې ونډه لرلې ده، حال دا چې تولیدي او رغونې سکتور د کورنیو ناخالصو تولیداتو په وده کې منفي رول لوبولی دی.

د لګښت له پلوه د کورنیو ناخالصو تولیداتو د سنجش له مخې خصوصي او دولتي لګښت په وده کې مثبته ونډه لرلې ده، حال دا چې د ناخالصې پانګې جوړښت او خالص کاروبار د کورني ناخالصه تولیداتو په وده کې منفي ونډه لرلې ده.

۴.۱ ګراف: د بریتانیې د کورني ناخالصه تولیداتو وده




سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

### ۳.۱.۱ د جرمنی اقتصاد


د جرمني اقتصاد په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې ۱.۵ سلنه وده موندلې ده چې د تیر کال په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، د تیرو پنځو کلونو په پرتله دا تر ټولو ټیټه وده بلل شوې ده. لومړني معلومات ښکاره کوي چې سوداګریزو کړکیچونو د اروپا په خورا لوی اقتصاد کې پر صادروونکو د پام وړ اغیزه کړې ده.

د جرمني د احصائیې ادارې د راپور له مخې تر ارزونې لاندې موده کې د صادراتو په کمیدو او برعکس د وارداتو په زیاتیدو سره د یاد هېواد د بهرنۍ سوداګرۍ اوسنی وضعیت خراب شوی دی.

د یادې ادارې د راپور پر بنسټ د کورنۍ تقاضا په برخه کې توپیر لیدل کېږي چې پر بنسټ یې د یاد هېواد کورني لګښتونه کم ښودل شوي دي، حال دا چې شرکتونو د ماشین آلاتو، تجهیزاتو او رغونې په برخه کې ډېره پانګونه کړې ده.

په سپتمبر میاشت کې د لوګو د خپریدنې ټسټونو د حتمي کیدو له امله په موقتي بڼه د موټرو د تولید کمښت د سوداګرۍ د کموالي لامل شوی دی. همدارنګه د موټر جوړولو په صنعت او د پرچون پلورنې په سکتور کې شتوو ستونزو هم د کورني ناخالصه تولیداتو په ټیټوالي کې ونډه درلودلې ده.

۵.۱ ګراف: د جرمني د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۵ – ۲۰۱۸




سرچینه: د احصائیې فدرالي اداره (DESTATIS)، جرمني


سربیره پر دې، د جرمني د موټر جوړولو صنعت چې د صادراتو اړونده وده کې مهم رول لوبوي، د سوداګرۍ د کموالي یو بل لامل په ګوته شوی دی. د ”Dieselgate“ له درغلیزي رسوایۍ وروسته چې په دې وروستیو کلونو کې یې یاد سکتور ته ټکان ورکړی دی، د موټر جوړونې صنعت په نویو معیارونو د لوګو د خپریدنې د مخنیوي لپاره اقدامات کړي دي. د جرمني د موټر جوړولو صنعت د ټولنې لخوا د خپرو شویو معلوماتو پر بنسټ د تیر کال د سپتمبر میاشتې په پرتله د روان کال په ورته میاشت کې د موټرو تولید ۲۴ سلنه راټیټ شوی دی.

## ۲.۲ د غوړېدو په حال کې هېوادونه

### ۱.۲.۱ د چین اقتصاد

د چین اقتصادي وده په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې ۶.۶ سلنې ته رسیږي چې له ۱۹۹۰ زیږدیز کال راپدېخوا تر ټولو ډېر ټیټوالی ښکاره کوي. د یاد هېواد د کورني ناخالصه تولیداتو وده د ۲۰۱۸ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۶.۴ سلنه ثبت شوې ده چې د کال په کال ودې پر بنسټ د تیرې ربعې د ۶.۵ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

۶.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ۲۰۱۵ –۲۰۱۸





سرچینه: د چین د احصائیې ملي اداره

د کال په کال شمېرو پر بنسټ د ډسمبر په میاشت کې پرچون پلورنې ۸.۲ سلنه زیاتې شوې دي چې د تیرې نومبر میاشتې د ۸.۱ سلنې اټکل شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. همدارنګه په ۲۰۱۸ مالي کال کې صنعتي تولیدات ۶.۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۶.۶ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي چې د موټرو، ګرځنده تیلیفونونو او کمپیوټرونو په تولید کې کمښت یې ستر لامل په ګوته شوی دی. سربیره پر دې، د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په سپتمبر میاشت کې صنعتي تولید ۵.۷ سلنې ته راټیټ شوی دی.

په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې د فابریکو او ودانیو د رغونې په ګڼون د ثابتې شتمنۍ پانګونه ۵.۹ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۷.۲ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د ریل پټلۍ او سړکونو په برخه پر بیخ بنسټونو کمه پانګونه د دې ټیټوالي عمده لامل په ګوته شوی دی چې د تیر کال د ۱۹ سلنه زیاتوالي په پرتله په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې ۳.۸ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

په سترو پلورنځیو او انلاین پیر او پلور کې د لګښتي توکو ټولیزه پرچون پلورنې په ۲۰۱۸ مالي کال کې ۹.۰ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۰.۲ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. له ۲۰۰۳ زیږدیز کال راهیسې د لګښتي توکو د پرچون پلورنې د ودې نرخ د لومړي ځل لپاره ۱۰ سلنې ته راټیټ شوی دی چې د موټرو او ګرځنده تیلیفونونو کم پلور یې د ټیټوالي ستر لامل دی. د ۲۰۱۸ مالي کال په ډسمبر کې د لګښتي توکو ټولیزه پرچون پلورنه یوازې ۸.۲ سلنې ته رسیدلې ده.

۷.۱ ګراف: په کورني ناخالصه تولیداتو کې د نورو سکتورونو ونډه




سرچینه: په چین کې د جرمني د سوداګرۍ خونه

د تولید معیارونه او د صادراتو غوښتنې راکمې شوي دي چې د امریکې متحده ایالاتو سره د یاد هېواد د سوداګریزو شخړو دوام او نور عوامل پر ودې باندې تاثیر کوونکي لاملونه بلل کیږي. د امریکې متحدو ایالتونو او چین د جولای او سپتمبر په میاشتو کې پر یو بل ۲۵ سلنه تعرفې لوړې کړې دي چې


له امله يې د ۲۵۰ ميلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت د چین سوداګریزو توکو ته زیان رسیدلی او د امریکي متحده ایالاتو ته د یادو توکو په صادراتو کې کموالی راغلی دی. په ورته وخت کې د دې سوداګریزې جګړې د اغیزو په ډاګه کیدو وروسته له مني موسم راهیسي د توکو په تولید او لګښت کې د پام وړ کموالی راغلی دی. سره له دې چې د امریکې متحدو ایالتونو سره د چین د سوداګریزو شخړو پر کورنۍ اقتصاد اغیزه کړې، خو دا اغیزه د کنترول او کابو کیدو وړ ده. همدارنګه د یاد هېواد اقتصاد مخ په ټیټیدو دی، خو په تیرو څو میاشتو کې د اقتصاد د ثابت ساتلو بهیر او اقتصادي وده په ټولیزه توګه په کورنۍ تقاضا پورې تړلې ده.

د ودې دا کموالی به په ۲۰۱۹ کال کې هم دوام وکړي ځکه چې اټکل کیږي دا شخړې لا زیاتې او صادرات نور هم کم شي.

**۲.۲.۱ د هند اقتصاد**

د ۲۰۱۸ کال د اپریل له لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۱۹ کال د مارچ تر ۳۱ مې نېټې پورې د دې هېواد کورنۍ ناخالصه تولیدات ۷.۲ سلنه وده کړې ده چې د ۲۰۱۸ مالي کال د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ يې د تیر مالي کال د ۶.۷ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

۸.۱ ګراف: د هند د کورنیو ناخالصو تولیداتو د کلني ودې نرخ، ۲۰۱۵ – ۲۰۱۸




سرچینه: د اقتصادي همکارۍ او پراختیا سازمان (OECD)

د دې ترڅنګ، تمه کیږي چې په روان مالي کال کې حقیقي ناخالصه اضافي ارزښت (GVA) ۷ سلنې ته ورسیږي چې په ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کلونو کې یاده کچه ۶.۵ سلنه ښودل شوې ده.

همدارنګه د کرنې، بوټو یا ځنګلونو او کبانو وده د ارزونې لاندې ربعه کې ۳.۸ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۳.۴ سلنې ودې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. سربیره پر دې، تمه کیږي چې د تولیدي سکتور وده په روان کال کې ۸.۳ سلنې ته پورته شي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کلونو کې یاده کچه ۵.۷ سلنه اټکل شوې ده.

په ورته وخت کې اټکل کیږي چې د کان کیندنې سکتور وده د ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کلونو د ۲.۹ سلنې ودې په پرتله په روان مالي کال کې ۰.۸ سلنې ته راټیټه شي. همدارنګه د خدمتونو سکتور هم په تیر مالي کال کې د ۸ سلنې ودې په پرتله په روان مالي کال کې د ۶.۹ سلنې ودې شاهد ؤ.

تمه کیږي چې د عامه لګښتونو د ودې نرخ د تیر کال د ۱۰ سلنې په پرتله په روان کال کې ۸.۹ سلنې ته راټیټ شي.

همدارنګه اټکل کیږي چې په ۲۰۱۸ –۲۰۱۹ زیږدیزو کلونو کې د بریښنا، غازو، اوبو او نورو عام المنفعه خدمتونو کچه ۹.۴ سلنې ته ورسیږي چې د تیرې مودې د ۷.۲ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې، په روان مالي کال کې د رغونې سکتور وده ۸.۹ سلنه اټکل شوې ده چې د تیر کال د ۵.۷ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. مالي حقیقي ملکیتونو او مسلکي خدمتونو وده په روان کال کې ۶.۸ سلنې ته رسیږي چې د ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کلونو د ۶.۶ سلنې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي.


د هند د احصائیې مرکزي اداري د شمېرو له مخې د ۲۰۱۸ – ۲۰۱۹ کلونو په اوږدو کې د سړي سر ملي عاید ۱۱.۱ سلنې

ته رسیږي چې د تیر کال د ۸.۶ سلنې ودې نرخ په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د ۲۰۱۸ – ۲۰۱۹ کلونو په اوږدو کې بیې په ترتیب سره ۱۱.۵ سلنه او ۱۱ سلنه اټکل شوې دي چې د تیرو ۲۰۱۷– ۲۰۱۸ کلونو په اوږدو کې په ترتیب سره د ۱۱.۴ سلنې او ۱۰.۸ سلنې په پرتله توپیر ښکاره کوي.

### ۳.۲.۱ د ترکیې اقتصاد

د ترکیې د احصائیوي انستیتیوت د خپرو شویو معلوماتو له مخې، د ۲۰۱۸ کال په لومړۍ ربعه کې د ترکیې د کورنیو ناخالصو تولیداتو وده ۷.۴ سلنې، په دویمه او دریېمه ربعه کې په ترتیب سره ۵.۶ سلنې او ۱.۸ سلنې او په څلورمه ربعه کې۳ سلنې ته رسیږي چې د لومړۍ ربعې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د یاد هېواد د کورنیو ناخالصو تولیداتو کلنۍ وده په ۲۰۱۸ کال کې۲.۶ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۷.۴ سلنې په پرتله د پام وړ ټیټوالی ښکاره کوي. همدارنګه په ورته موده کې په هره پانګه کې کورنۍ ناخالصه تولیدات له ۱۰،۳۹۵ امریکایي ډالرو په پرتله ۹،۶۳۲ امریکایي ډالرو ته راټیټ شوي دي.


**۹.۱ ګراف: د ترکیې د کورنیو ناخالصو تولیداتو د ودې نرخ، ۲۰۱۵ – ۲۰۱۸**




سرچینه: د ترکیې احصائیوي انستیتیوت

د ترکیې لیره د امریکایي ډالرو پر وړاندې یو پر درې راکمه شوې ده چې پر بنسټ یې د انفلاسیون نرخ د تیرو پنځلسو کلونو په پرتله لوړ شوی دی. د لګښتي توکو انفلاسیون په لاندې ګراف کې ښودل کېږي.

**۱۰.۱ ګراف: د ترکیې د مصرفي توکو د بیو شاخص، ۲۰۱۸ جنورۍ– ډسمبر**




سرچینه: د ترکیې احصائیوي انستیتیوت

په ورته وخت کې، د توکو خصوصي لګښت چې د کورنیو ناخالصو تولیداتو له نیمایي ډیره برخه ده، په چټکۍ سره راکم شوی چې د کال په کال شمېرو پر بنسټ په څلورمه ربعه کې په منفي ډول ۸.۹ سلنه کمښت کړی دی. د خپرو شویو شمېرو له مخې، په تیر کال کې د کرنې سکتور اضافي ارزښت ۱.۳ سلنه او د صنعت سکتور ۱.۱ سلنه زیات شوی دی، حال دا چې د رغونې سکتور ۱.۹ زیاتوالی ثبت کړی دی چې په یاد سکتور کې د کال په کال شمېرو پر بنسټ د عمده او پرچون پلورنې، ترانسپورټ، زیرمه شویو توکو، اوسیدنې او خوړو اضافي ارزښت ۵.۶ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

همدارنګه د روان کال په اوږدو کې د بې کارۍ په کچه کې زیاتوالی راغلی دی چې پر بنسټ یې د ډسمبر په میاشت کې دا کچه ۱۳.۵ سلنې ته لوړه شوې ده. په ورته وخت کې یاده کچه د ۲۰۱۰ کال راهیسې تر ټولو لوړه کچه بلل کېږي.

# ۲

# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

## ۲
## د پانګې او پولي بازار بدلونونه

د پولي سکتور د شمېرو له مخې پولي زيرمو په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۰.۴۰ سلنه منفي وده ثبت کړې ده چې د ۱۳۹۶ مالي کال د دريمې ربعې د ۱۰ سلنې منفي ودې په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي. په ګردښت کې پيسې چې د پولي زيرمې يوه مهمه برخه جوړوي، د ۱۳۹۷ مالي کال له پيل څخه د روان کال تر پايه پورې ۰.۱۸ سلنه منفي وده ثبت کړې ده.

تر ارزونې لاندې ربعه کې د پولي زيرمو او په ګردښت کې د پيسو وده چې د افغانستان بانک عملياتي او ضمني موخې جوړوي، له ټاکل شويو موخو څخه ډېره ټيټه پاتې شوې ده چې د بازار او بانکونو نه د اضافه نقدينګۍ راغونډول يې ستر لامل په ګوته شوی دی.

د محدوده مفهوم په توګه پيسې (M1) د ارزونې لاندې کال په پای کې ۴۵۳،۴۸۰ ميليونه افغانيو ته رسېږي چې ۴ سلنه وده ښکاره کوي. د پراخه مفهوم په توګه پيسې (M2) هم ورته بهير درلودلی دی چې د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې يې کچه ۴۸۶،۰۳۴.۱۸ ميليونه افغانيو ته رسېږي او ۲.۵۷ سلنه (کال په کال) وده ښکاره کوي.

د افغانستان بانک د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د تبادلې د نرخ له حده زيات خپ ځپانده کېدو (نوسانونو) د راکمولو او په بازار کې د نقدينګۍ د مديريت کولو لپاره د ازاد بازار تر عملياتو لاندې د اسعارو او پانګه ايزو پاڼو له ليلام څخه کار اخلي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۷ مالي کال له پيله راهيسې د روان کال تر پايه پورې په ټوليزه توګه ۲،۴۱۵.۵۲ ميليونه امريکايي ډالره ليلام کړي دي څو په بازار کې له حده زيات سياليت د مديريت ترڅنګ د اسعارو په وړاندې د افغانيو څټک خپ ځپاندونه (نوسانونه) راکم کړي. د پانګه ايزو پاڼو ټوليزه ناترلاسه شوې کچه د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې ۳۳.۷۲۵ ميلیارده افغانيو ته رسېږي. په ورته وخت کې، د ۱۳۹۷ مالي کال له پيل راهيسې د روان کال تر پايه پورې د ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت ۸ سلنه راکم شوی دی.

### ۱.۲ پولي پروګرام


د ۱۳۹۷ مالي په اوږدو کې پولي زيرمې د يو مهم عملياتي هدف (د کړنې د معيار) په توګه او په ګردښت کې پيسې د ضمني هدف په توګه پېژندل شوي دي.

د پولي زيرمو (RM) کره پيسې چې د کورنيو بيو د ثبات او د افغانستان بانک د لومړنيو موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، د پيسو د مقداري تيورۍ په کارولو سره ټاکل کېږي. له همدې کبله، د پولي زيرمو او په ګردښت کې د پيسو لپاره ټاکل شوي هدفونه د اړونده مودې په اوږدو کې د اقتصادي ودې او انفلاسيون د تمو پر بنسټ ټاکل کېږي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د پولي زيرمې او په ګردښت کې د پيسو وده ۱۲ سلنه ټاکل شوې ده. د يادولو وړ ده چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د پولي زيرمو حقيقي وده منفي ۰.۴۰ سلنه او په ګردښت کې د پيسو حقيقي وده منفي ۰.۱۸ سلنه وه چې له ټاکل شوي هدف څخه ډېره ښکته ده. د افغانستان بانک د ازاد بازار د عملياتو له لارې ۲،۴۱۵.۵۲ ميليونه امريکايي ډالره ليلام کړي او ۱۰ ميليونه امريکايي ډالره يې د بريښنا پر شرکت باندې چې د افغانستان د بريښنا دولتي شرکت دی، پلورلي دي. همدارنګه د افغانستان بانک په ورته توګه ۱۲۸.۴۵ ميليونه يورو پلورلي دي څو د بازار څخه له


حده زيات سياليت له منځه يوسي او د بهرنيو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د زياتو څپ څپاندونو (نوسانونو) مخنيوی وکړي.

۱.۲ او ۲.۲ ګراف د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې لوړه کچه او حقيقي پولي زيرمې او په ګردښت کې پيسې ښکاره کوي.

**۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال پولي زيرمې**




**۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال په ګردښت کې پيسې (۲۲ ډسمبر ۲۰۱۷– ۲۲ ډسمبر ۲۰۱۸)**




سرچينه: د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

## ۲.۲ د نقدينه ګۍ حجم

د محدوده مفهوم په توګه پيسې او د پراخه مفهوم په توګه پيسې د پولي او مالي احصائيو د لارښود او د معلوماتو د راټولونې د لارښوونې پر بنسټ راټولېږي.

د محدوده مفهوم په توګه پيسې (M1) د امانت اېښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار او جاري امانتونه رانغاړي، حال دا چې د پراخه مفهوم په توګه پيسې (M2) په ترکيب کې د محدوده مفهوم په توګه د پيسو اجزاوې او داسې نورې لېږې سيالې شتمنۍ يا پيسه وزمه شاملې دي.

د ۲.۳ جدول ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پيسې (M1) د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې ۴ سلنه زياتوالی کړی دی چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ورته مودې په پرتله يو څه لوړوالی ښکاره کوي. د امانت اېښودونکو شرکتونو څخه بهر اسعار يا په ګردښت کې پيسې چې د محدوده مفهوم په توګه پيسو ۵۱.۵۰ سلنه جوړوي، ۰.۲۷ سلنه منفي وده موندلې چې د تېر کال د ورته مودې د ۱.۹ سلنې ثبت شوې ودې په پرتله ټيټوالی موندلی چې ۵۹۵ ميليونه افغانۍ توپير ښکاره کوي. جاري امانتونه چې د محدوده مفهوم په توګه د پيسو نورې برخې جوړوي، د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې ۸.۰۱ سلنه وده تجربه کړې ده، حال دا چې تېر کال په ورته موده کې يې ۴.۵ سلنه وده درلوده چې ۱۷،۳۲۷ ميليونه افغانۍ زياتوالی ښکاره کوي.

د پراخه مفهوم په توګه د پيسو (M2) کچه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۴۸۶،۰۳۴.۱۸ ميليونه افغانۍ ته رسېږې چې د تير کال د ۴۷۳،۶۳۶.۸۹ ميليون افغانۍ په پرتله ۲.۵۷ سلنه زياتوالی په ګوته کوي، خو د تير کال د ورته مودې د ۴.۱ سلنې ودې په پرتله يې ټيټوالی موندلی دی. د پراخه مفهوم په توګه د پيسو کمه وده په ګردښت کې د پيسو د ودې په کموالي پورې تړاو لري. دا شمېرې ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پيسې (M1) د پراخه مفهوم په توګه پيسې (M2) تر ټولو ستره برخه ۹۳.۳۰ سلنه جوړوي.


پيسه وزمه (Quasi Money) يا نور امانتونه چې د پراخه مفهوم په توګه د پيسو(M2) بله برخه جوړوي، د ارزونې لاندې کال کې منفي وده لرلې ده چې د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې د ۷.۸۳ سلنه ودې په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي. له

همدې امله، د پراخه مفهوم په توګه پر پيسو (M2) باندې د هغه د بدلون اغېزه ډېره کمه ده. په افغاني موده ايزه امانتونو کې کال په کال بدلون ۹،۷۵۲ ميليونه افغانۍ ته رسيږي چې ۲۳.۹۸ سلنه منفي وده ښکاره کوي، حال دا چې د اسعاري موده ايزه امانتونو وده د کال په کال شميرو پر بنسټ د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې منفي ۱۲.۲۳ سلنه لوړه شوې ده. پيسه وزمه چې د پراخه مفهوم په توګه د پيسو ۶.۷۰ سلنه جوړوي او د روان کال په اوږدو کې ۲۲،۸۰۳ ميليونه افغانۍ ته رسيږي.

د افغانۍ موده ايزه امانتونه او اسعاري موده ايزه امانتونه د پراخه مفهوم په توګه د پيسو په ترتيب سره ۲.۰۱ سلنه او ۴.۶۹ سلنه جوړوي.


همدا ډول د پراخه مفهوم په توګه پيسو (M2) د ونډې په توګه جاري امانتونه د ارزونې لاندې کال په پای کې ۴۸.۰۶ سلنې ته رسيږي (د زياتو معلوماتو لپاره د ۴.۲ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۳.۲ ګراف: خالصې بهرنی شتمنی، خالصې داخلي شتمنی او د پراخه مفهوم په توګه پيسې**




سرچينه: د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

**۴.۲ ګراف: په ګردښت کې پيسې، جاري امانتونه او پيسه وزمه د پراخه مفهوم په توګه پيسو د ونډې په توګه**




سرچينه: د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

| ۱.۲ جدول: د ۱۳۹۷ مالي کال د نقدينګۍ حجم ( د ۲۰۱۷ ډيسمبر ۲۲ – ۲۰۱۸ ډيسمبر ۲۲) | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په ميليون افغانۍ | د ۲۰۱۶ ډيسمبر خلورمه ربعه مبلغ | د ۲۰۱۷ ډيسمبر خلورمه ربعه مبلغ | کال په کال د سلنې بدلون | توپير | د ۲۰۱۸ ډيسمبر خلورمه ربعه مبلغ | کال په کال د سلنې بدلون | توپير |
| **۱- خالصه بهرنی شتمنی** | ۵۸۲،۷۶۶.۰۴ | ۶۵۱،۲۱۸.۷۴ | ۱۱.۷٪ | ۶۸،۴۵۳ | ۷۳۷،۸۶۰.۹۳ | ۱۳.۳۰٪ | ۸۶،۶۴۲ |
| (الف) بهرنی شتمنی | ۵۹۳،۹۱۴ | ۶۶۸،۳۶۱ | ۱۲.۵٪ | ۷۴،۴۴۷ | ۷۵۱،۱۲۵ | ۱۲.۳۸٪ | ۸۲،۷۶۴ |
| د افغانستان بانک د بهرنيو اسعارو زيرمې | ۴۸۴،۹۱۰.۹۹ | ۵۵۹،۶۲۰.۷۵ | ۱۵.۴٪ | ۷۴،۷۱۰ | ۶۱۵،۱۲۳.۰۵ | ۹.۹۲٪ | ۵۵،۵۰۲ |
| سره زر | ۵۳،۳۹۱ | ۶۱،۶۸۱ | ۱۵.۵٪ | ۸،۲۹۰ | ۶۶،۱۷۹ | ۷.۲۹٪ | ۴،۴۹۸ |
| نور | ۴۳۱،۵۲۰ | ۴۹۷،۹۴۰ | ۱۵.۴٪ | ۶۶،۴۲۰ | ۵۴۸،۹۴۴ | ۱۰.۲۴٪ | ۵۱،۰۰۴ |
| نورې بهرنی شتمنی | ۱۰۹،۰۰۳ | ۱۰۸،۷۴۰ | -۰.۲٪ | -۲۶۳ | ۱۳۶،۰۰۲ | ۲۵.۰۷٪ | ۲۷،۲۶۲ |
| (ب) بهرنی پوراينې | ۱۱،۱۴۸ | ۱۷،۱۴۲ | ۵۳.۸٪ | ۵،۹۹۴ | ۱۳،۲۶۵ | -۲۲.۶۲٪ | -۳،۸۷۸ |
| **۲. خالصه کورني شتمني** | -۱۲۴،۷۶۱.۷۶ | -۱۷۴،۶۴۳.۳۹ | ۴۰.۰٪ | -۴۹،۸۸۲ | -۲۴۹،۰۲۷.۰۱ | ۴۲.۵۹٪ | -۷۴،۳۸۴ |
| (الف) خالص کورنی کريډټ | -۱۷،۶۲۲ | -۳۶،۰۲۸ | ۱۰۴.۴٪ | -۱۸،۴۰۶ | -۷۶،۲۸۴ | ۱۱۱.۷۳٪ | -۴۰،۲۵۶ |
| د غير مالي عامه سکتور لپاره خالص کريډټ | -۶۳،۸۴۷ | -۸۴،۰۵۴ | ۳۱.۶٪ | -۲۰،۲۰۷ | -۱۲۱،۹۰۶ | ۴۵.۰۳٪ | -۳۷،۸۵۳ |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کريډټ | -۶۳،۹۴۲ | -۸۴،۱۴۸ | ۳۱.۶٪ | -۲۰،۲۰۷ | -۱۲۲،۰۰۱ | ۴۴.۹۸٪ | -۳۷،۸۵۳ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د مرکزي حکومت لپاره کریډټ | ۲۳,۰۱۵ | ۱۵,۳۳۹ | -۳۳.٤٪ | -۷,٦۷٦ | ۷,۱۸۵ | -۵۳.۱٦٪ | -۸,۱۵٤ |
| د مرکزي حکومت لپاره پورراینې | ۸٦,۹۵۷ | ۹۹,٤۸۷ | ۱٤.٤٪ | ۱۲,۵۳۰ | ۱۲۹,۱۸۵ | ۲۹.۸۵٪ | ۲۹,٦۹۹ |
| د مرکزي او سیمه ایز حکومت لپاره خالص کریډټ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰٪ | ۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰٪ | ۰ |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | ۹٤ | ۹٤ | ۰.۰٪ | ۰ | ۹٤ | ۰.۰۰٪ | ۰ |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډټ | ٤۷,۵۵۱ | ٤۹,۳۸٦ | ۳.۹٪ | ۱,۸۳۵ | ٤٦,٦۳۳ | -۵.۵۷٪ | -۲,۷۵۳ |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډټ | -۱,۳۲٦ | -۱,۳٦۱ | ۲.٦٪ | -۳٤ | -۱,۰۱۱ | -۲۵.۷۰٪ | ۳۵۰ |
| (ب) د پانګې حسابونه | ۱۲۷,٤۸۰ | ۱۵۵,۸٤۲ | ۲۲.۲٪ | ۲۸,۳٦۳ | ۱۸۹,۹۳۵ | ۲۱.۸۸٪ | ۳٤,۰۹۳ |
| (ت) نور خالصه اقلام | ۲۰,۳٤۰ | ۱۷,۲۲۷ | -۱۵.۳٪ | -۳,۱۱۳ | ۱۷,۱۹۳ | -۰.۲۰٪ | -۳٤ |
| **۳. د پراخه مفهوم په توګه پیسې** | ٤۵۵,۲۰٤.۱۳ | ٤۷۳,۸۳٦.۸۹ | ٤.۱٪ | ۱۸,٦۳۳ | ٤۸٦,۰۳٤.۱۸ | ۲.۵۷٪ | ۱۲,۱۹۷ |
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې | ٤۲۳,۲۵۹ | ٤۳٦,۷٤۸ | ۳٪ | ۱۳,٤۸۹ | ٤۵۳,٤۸۰ | ٤٪ | ۱٦,۷۳۲ |
| په ګردښت کې پیسې (هغه پیسې چې له امانت ایښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | ۲۱٦,۳۰۸ | ۲۲۰,۵۰۷ | ۱.۹٪ | ٤,۱۹۸ | ۲۱۹,۹۱۱ | -۰.۲۷٪ | -۵۹۵ |
| جاري امانتونه | ۲۰٦,۹۵۱ | ۲۱٦,۲٤۲ | ٤.۵٪ | ۹,۲۹۱ | ۲۳۳,۵٦۸ | ۸.۰۱٪ | ۱۷,۳۲۷ |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | ۳۱,۹٤۵.۲۵ | ۳۷,۰۸۸.۷٤ | ۱٦.۱٪ | ۵,۱٤۳ | ۳۲,۵۵٤.٤٤ | -۱۲.۲۳٪ | -٤,۵۳٤ |
| په افغانی امانتونه | ۱۱,٤۲۲ | ۱۲,۸۲۷ | ۱۲.۳٪ | ۱,٤۰۵ | ۹,۷۵۲ | -۲۳.۹۸٪ | -۳,۰۷٦ |
| په بهرنیو اسعارو امانتونه | ۲۰,۵۲۳ | ۲٤,۲٦۲ | ۱۸.۲٪ | ۳,۷۳۹ | ۲۲,۸۰۳ | -٦.۰۱٪ | -۱,٤۵۹ |
| له ونډو پرته بیه لرونکې پاڼې | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ | ۰.۰۰۰ |

سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۳.۲ خالصه نړیوالې زیرمې

د افغانستان بانک په نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو له نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او همدا ډول مهم اسعار لکه امریکایي ډالر، یورو، انګلیسي پونډ او داسې نور شامل دي. د افغانستان نړیوالې خالصې زیرمې چې په امریکایي ډالرو څرګندیږي، د شتمنۍ هغه زیرمې دي چې د پوراینې زیرمې ترې منفي شوي دي.

خالصه نړیوالې زیرمې د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې ۳۵۹.۶ میلیونه امریکایي ډالره (۵) سلنه زیاتوالی موندلی دی. د خالصو نړیوالو زیرمو کچه ۷،۵۵۰.۳۴ میلیونه امریکایي ډالره ټاکل شوې وه، حال دا چې حقیقي کچه یې د ارزونې لاندې موده کې ۷،۷۰۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي. د

### ۵.۲ ګراف د ارزونې لاندې موده کې حقیقي خالصه نړیواله زیرمې او د هغه د هدف بهیر ښکاره کوي.

د خالصو نړیوالو زیرمو کچه ۷،۴۰۲.۸۰ میلیونه امریکایي ډالره ټاکل شوې وه، حال دا چې حقیقي کچه یې د ارزونې لاندې موده کې ۷،۵۳۴.۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي. د ۵.۲ ګراف د ارزونې لاندې موده کې حقیقي خالصه نړیواله زیرمې او د هغه د هدف بهیر ښکاره کوي.

## ۴.۲ د اسعارو د تبادلې بازار


### ۱.۴.۲ د اسعارو د تبادلې نرخونه

د افغانستان بانک وروستی موخه د بیو د ټیکاو ساتل دي، خو د افغانستان بانک د خپل اصلي هدف ترڅنګ د ازاد بازار د عملیاتو لاندې په ګټوره توګه د پالیسي په تطبیقولو سره د پولي ابزارونو سمې ګټې اخیستنې ته هم متوجه وي.

د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د افغانۍ ارزښت د هندي روپۍ، پاکستاني روپۍ او ایراني تومان په وړاندې لوړ شوی دی، خو د نړیوالو اسعارو لکه امریکایي ډالرو، یورو، د اماراتو د درهم، سویسي فرانک، سعودي ریال او انګلیسي پونډ په وړاندې په نسبي ډول راکم شوی دی.

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د امریکایي ډالرو او نورو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د تبادلې ورځنی منځنی نرخ په لاندې ګرافونو کې وړاندې کیږي.

**۵.۲ ګراف: په ۱۳۹۷ مالي کال کې حقیقي خالصه نړیواله زیرمې او هدف**





سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۵.۲ د ازاد بازار کړنې او د سیالیت شرایط

### ۱.۵.۲ د اسعارو لیلام


په داخلي مارکیټ کې د بیو د ثابت ساتلو او د پیسو د عرضې د کنټرولولو په موخه د افغانستان بانک په اونۍ کې درې ځلې د اسعارو لیلام او په اونۍ کې یو ځلې د پانګه ایزو پاڼو لیلام ترسره کوي چې د افغانستان بانک ورځخه د عمده پولي ابزارونو په توګه کار اخلي. د افغانستان بانک په دوامداره توګه د اسعارو لیلام ترسره کړی څو له بازار څخه اضافي نقدینګي لرې کړي او د بهرنیو اسعارو، په ځانګړې توګه د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د زیاتو ځپ ځپاندونو (نوسانونو) مخه ونیسي.

**۶.۲ ګراف: د ۱۳۹۷ کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د تبادلې ورځنی نرخ**





سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۷.۲ ګراف: د ۱۳۹۷ کال په دریمه ربعه کې د انګلیسي پاونډ او یورو په وړاندې د افغانۍ د تبادلې ورځنی نرخ**





سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۸.۲ ګراف: د ۱۳۹۷ کال په اوږدو کې د هندي روپۍ او پاکستانی روپۍ په وړاندې د افغانۍ د تبادلې ورځنی نرخ**





سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۹.۲ ګراف: د ۱۳۹۷ کال په اوږدو کې د هندۍ روپۍ پر وړاندې د افغانۍ د نبادلې ورځنی نرخ**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۱۰.۲ ګراف: په ۱۳۹۷ مالي کال کې د امریکایي ډالرو د لیلام له لارې ورکړل شوی او د تقاضا مبلغ**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

د افغانستان بانک د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د ازاد بازار د عملیاتو د بهیر له لارې په ټولیزه توګه ۲،۴۱۵.۵۲ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي، په داسې حال کې چې په همدې موده کې یې ټولیزه تقاضا ۳،۳۶۱.۱۵ میلیونه امریکایي ډالره وه. په منځنی توګه په هر لیلام کې ۵۲ داوطلبانو ګډون کړی دی او له دې ډلې ۴۰ داوطلبان ګټونکي اعلان شوي دي چې په هر لیلام کې په منځني ډول ۱۹.۶۳ میلیونه امریکایي ډالره پلورل شوي دي چې په ټولیزه توګه ۱۷۴.۸۳۸ میلیارده افغانۍ ویستل شوي دي. همدا ډول، د تیرو شویو شمیرو له مخې د ۱۳۹۶ مالي کال په پای په ټولیزه توګه ۱،۹۴۷.۱۷ میلیونه امریکایي ډالر لیلام شوي دي، حال دا چې ټولیزه تقاضا ۲،۶۵۱.۹۵ میلیونه امریکایي ډالره وه. په روان کال کې په منځنی توګه ۴۴ داوطلبانو په هر لیلام کې ګډون کړی چې له دې ډلې ۳۳ ګټونکو داوطلبانو ته په هر لیلام کې په اوسط ډول ۱۳ میلیونه امریکایي ډالر ورکړل شوي دي چې په ټولیزه توګه ۱۳۲.۶۱۷ میلیارده افغانۍ ویستل شوي دي. ۲.۱۰ ګراف په ۱۳۹۷ مالي کال کې د امریکایي ډالرو د لیلام له لارې ورکړل شوی او د تقاضا مبلغ ښکاره کوي.

### ۲.۵.۲ د پانګه ایزو پاڼو لیلام

پانګه ایزې پاڼې د افغانۍ لنډمهاله بیه لرونکي پاڼې دي چې د افغانستان بانک لخوا د لومړني بازار پر پیرودونکو او ډېرې جواز لرونکو سوداګریزو بانکونو باندې په اوونۍ کې یو ځل پلورل کیږي.


د افغانستان بانک له پانګه ایزو پاڼو څخه د پولي ابزار په توګه کار اخلي څو د پیسو د عرضې وده مدیریت کړي. پانګه ایزې پاڼې د سوداګریزو بانکونو د اضافي نقدینګۍ د جذبولو لپاره کارول کیږي. اوس مهال، د افغانستان بانک د یوې اونۍ، یوې میاشتې، درېو میاشتو، شپږو میاشتو او د یو کال د سر ته رسیدلو مودو پانګه ایزې پاڼې بازار ته وړاندې کوي. د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې ونډه ۳۳.۷۲۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۳۸.۹۹۳ میلیارده افغانۍ په پرتله ۵.۲۶۸ میلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي.

د نا ترلاسه شوې ونډې د کمیدو ستر لامل د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۱۸۲ او ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام کموالی ګڼل کیږي. د افغانستان بانک د هیواد د اوسنی اقتصادي وضعیت په پام کې نیولو سره د ۱۸۲ او ۳۶۴

ورځينو پانګه ايزو پاڼو ليلام او د ټکټاڼي نرخونه په پرله پسې ډول راکم کړي دي، څو پانګونې ته خلك وهڅوي او مالي پوهې ته د خلکو لاسرسی زيات کړي. د اسانو شرايطو او ټيټې ټکټاڼي په درلودلو سره په پانګه ايزو پاڼو باندې د ټکټاڼي ټيټ نرخونه خلکو ته د بانکې پورونو په ورکړه کې اسانتياوې رامنځته کوي.


د ۷ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه ۷.۶۲ ميليارده افغانۍ، د ۲۸ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۸.۲۵ ميلياړده افغانۍ او د ۹۱ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۱۲.۳۷ ميليارده افغانۍ ثبت شوې ده. د ۱۸۲ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو نا ترلاسه شوې ونډه ۵.۴۷ ميليارده افغانۍ ته رسېږي چې د ارزونې لاندې کال په پای کې د پانګه ايزو پاڼو پر وړاندې ټوليزه ورکړل شوې ټکټانه ۱۰۸.۳۰ ميليارده افغانۍ ته رسيږي. سربيره پر دې، د ۷ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو د عيار شوې ټکټاڼي منځنی نرخ ۰.۱۵ سلنه، د ۲۸ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو نرخ ۰.۳۴ سلنه، د ۹۱ ورځنيو پاڼو ۰.۵۴ سلنه، د ۱۸۲ ورځنيو پاڼو ۰.۸۹ سلنه او د ۱۳۹۷ کال له پيل نه تر پايه پورې د ۳۶۴ ورځنيو پانګه ايزو پاڼو ليلام نه دی ترسره شوی چې د تير کال د ورته مودې په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي.

**۱۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال د پانګه ايزو پاڼو ناترلاسه شوې ونډه**





سرچينه: پولي برخه، د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

**۱۲.۲ ګراف: د اووه ورځو پانګه ايزو پاڼو ورکړل شوی او د تقاضا مبلغ په ميليون افغانۍ**





سرچينه: پولي برخه، د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

**۱۳.۲ ګراف: په ۱۳۹۷ مالي کال کې د ۲۸ورځو پانګه ايزو پاڼو ورکړل شوی او د تقاضا مبلغ**





سرچينه: پولي برخه، د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

**۱۴.۲ ګراف: د ۹۱ ورځو پانګه ايزو پاڼو ورکړل شوی او د تقاضا مبلغ**




سرچينه: پولي برخه، د پولي سياست آمريت، د افغانستان بانک

**۱۵.۲ گراف: د ۱۸۲ ورځو پانګه ایزو پاڼو ورکړل شوی او د تقاضا مبلغ**




سرچینه: پولي برخه، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۵.۲ الزامي او اضافي زیرمې

سوداګریزه بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولو امانتونو ۸ سلنه د افغانستان بانک په افغانیو حسابونو او ۱۰ سلنه په اسعاري حسابونو کې د الزامي زیرمې په توګه وساتي. د پورته امانتونو په بدل کې سوداګریزو بانکونو ته هیڅ ډول ټکټانه نه ورکول کیږي. د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې دا ټکټانه ۵،۶۹۶.۱۱ میلیونه افغانۍ، ۲۱۹.۷۰ میلیونه امریکایي ډالره او ۲۱.۶۳ میلیونه یورو ثبت شوې ده.

**د شپې د امانتونو اسانتیا:** دا اسانتیا ټولو سوداګریزو بانکونو ته برابره شوې، څو له خپلو اضافي بیلانسونو څخه ټکټانه ترلاسه کړي. د شپې امانتونو د اسانتیا د ټکټانې نرخ اوس مهال ۰.۱ دی. ( د یادونې وړ ده چې دا نرخ د ۲۰۱۷ کال د سپټمبر په ۱۱ نېټه د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د منظور شوي متحد المال پر بنسټ په ټولو بانکونو بانـدې د اجراء وړ دی).

د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې د شپې د امانتونو د اسانتیاوو د بیلانسونو اوسط ناترلاسه شوی مبلغ ۱۰،۷۸۰.۸۳ میلیونه افغانۍ ثبت شوی دی او په ورته موده کې د یادو اسانتیاوو په بدل کې د ورکړل شوې ټکټانې نرخ ۱۹.۴ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. اوس مهال الزامي زیرمې، د تیر په پرتله په داخلي او بهرنیو اسعارو ساتل کیږي چې پر بنسټ یې د ټولو امانتونو الزامي زیرمې په داخلي اسعارو (افغانۍ) ساتل کیږي.

**د شپې پور اسانتیا:** دا اسانتیاوې د سوداګریزو بانکونو لخوا د لنډ مهاله نغدي اړتیاوو لپاره کارول کیږي او بانکونو ته په هغه صورت اجازه ورکوي چې د نغدي سیالیت له کمښت سره مخ شي او اړتیا ولري چې د شپې په بربنسټ له د افغانستان بانک څخه په افغانیو پور ترلاسه کړي. کوم مبلغ چې له بانکونو څخه د دې اسانتیا په بدل کې ګرځول کیږي د تېرو ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام لـه مبلـغ څخه ۰.۱ سلنه لوړ دی. دا پور اخیستنه یوازې د پانګه ایزو پاڼو د ناتصفیه شوي مبلغ په مرسته تضمین کیږي.

د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې هیڅ بانک د پور له اسانتیا څخه برخمن شوی نه دی.

# ۳

# د انفلاسیون بهیر او لید لوری

## د انفلاسیون بهیر او لید لوری

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د صنعتي تولیداتو بیې د سوداګریزو توکو د عرضې د کمیدو، د امریکې متحدو ایالتونو لخوا د ټکتانې نرخ د زیاتیدو، د امریکایي ډالرو د ارزښت زیاتیدو، د لویو اقتصادونو ترمنځ د سوداګریزو کړکیچونو منځته راتلو او د غوړیدو او پرمختګ په حال کې هېوادونو کې د مالي بازار فشارونو په ګډون د یو لړ عواملو په پایله کې لوړې شوې دي. د انرژۍ غوښتنه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲.۳ سلنه زیاته شوې ده، چې بنسټیز لاملونه یې په روانه لسیزه کې چټکه وده، د پیاوړې نړیوال اقتصاد استثنایي کړنې او په ځینو سیمو کې تودوخې او سړښت ته زیاته اړتیا ګڼل کېږي. په یاده موده کې د طبیعي غاز تقاضا زیاته شوه چې پر بنسټ یې د انرژۍ په لګښت کې ۴۵ سلنه زیاتوالی راغلی دی. په یاده موده کې په امریکې متحدو ایالتونو او چین کې د غازو تقاضا د پام وړ زیاته شوې ده. په نړیواله کچه د ډبرو سکرو په لګښت کې ۰.۷ سلنه لوړوالی راغلی دی چې په اسیا او په تېره بیا چین، هند او د جنوبي او جنوب ختیځې اسیا په ځینو هیوادونو کې د نورو په پرتله ډیر زیاتوالی تر سترګو کېږي.

په دوراني وده کې له پراخ زیاتوالي وروسته چې شاوخوا دوه کاله یې دوام وکړ، د ۱۳۹۷ مالي کال په دویمه نیمایي کې اقتصادي پراختیا راکمه شوې ده. د سوداګریزو کړکیچونو د زیاتوالي د دوام، د چین او امریکې متحدو ایالتونو له لورې یو پر بل د تعرفو د لوړیدو، د سوداګریز باور راکمېدو، د مالي شرایطو سختیدو او په زیاتو اقتصادونو کې د پالیسۍ د زیاتې ناډاډمنتیا له امله اقتصادي فعالیت ټکنی شوی دی. همدارنګه د دې نړیوال شالید په وړاندې د هېواد او د دې سکتور اړوندو عواملو اقتصادي وده نوره هم راکمه کړې ده. نړیواله اقتصادي وده د ۱۳۹۷ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې ۳.۸ سلنې ته ورسیده، حال دا چې دا کچه د روان کال په دوهمه نیمایي کې ۳.۲ سلنې ته راټیټه شوه چې په ټولیزه توګه د تیر کال د ۴ سلنې ودې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

په نړیواله کچه تیلو ته تقاضا ۱.۳ سلنې ته لوړه شوې ده چې د تېرو ۲۰ کلونو په اوږدو کې یوځل بیا د امریکا متحده ایالتونه په نړیواله کچه د دې زیاتوالي په سر کې ځای لري چې له نفتو څخه د ترلاسه کېدونکو کیمیاوي موادو خورا زیاتېدل، د صنعتي تولید او ترانسپورتي خدمتونو زیاتېدل یې ستر لاملونه په ګوته شوي دي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د اومو نفتو بیو لوړیدونکې بهیر درلودلی دی چې کچه یې ۶۸.۳ سلنې ته رسیږي، حال دا چې په تیر کال کې یاده کچه ۵۲.۸ سلنه ثبت شوې وه. د وړاندوینې له مخې په راروان ۱۳۹۸ مالي کال کې به د اومو نفتو د یو بیرل په بیه کې ۷۴ امریکایي ډالره ټیټوالی راشي.

په ټولیزه توګه د ټولو تیلو تقاضا زیاته شوې ده چې د پرله پسې دویم کال لپاره کاني نفت (fossil oil) د دې ودې ۷۰ سلنه جوړوي. په ورته وخت کې د لمریزې او بادي انرژۍ تولید هم دوه برابره شوی دی چې د لمریزې انرژۍ په تولید کې یواځې ۳۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د انرژۍ د تولید یاده کچه په نړیواله توګه د بریښنا د لوړې تقاضا د پوره کولو لپاره لا هم چټکه او کافي نه ده چې پر بنسټ یې په ۱۳۹۷ کال کې د ډبرو سکرو په کارونه کې زیاتوالی راغلی دی. د کرنیزو توکو بیې د ۱۳۹۷ مالي کال په پیل کې زیاتوالی وموند حال دا چې په

روان کال کې ۱ سلنه او په څلورمه ربعه کې د پام وړ راټیټې شوې چې د مهمو غلو دانو د تولید زیاتوالی او تر یوې اندازې د کرنیزو توکو د صادرونکو د اسعارو او پیسو کموالی یې ستر لامل دی.

د چین لخوا د امریکې د متحدو ایالتونو پر سویابینو باندې د ۲۵ سلنه تعرفې له لوړولو وروسته نفتو او خوراکي توکو خورا زیات زیان لیدلی دی. د مشروباتو بیې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۵ سلنه راټیټې شوې دي، حال دا چې د چایو بیې ۲.۵ سلنه ټیټوالی موندلی دی چې د تیر کال د ۳ سلنه ثبت شوې کچې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. همدا ډول په ۱۳۹۷ مالي کال کې د تیلو او خوراکي توکو بیې نږدې ۲ سلنه راټیټې شوې دي، حال دا چې په ټولیزه توګه د سویابینو، خوراکي توکو او د ناریال غوړیو بیو ۱۱ سلنه ټیټوالی موندلی دی.

د غوښې او کرنیزو اومو موادو بیې د تیر کال په پرتله یو څه راکمې شوي دي او اټکل کیږي چې د کرنیزو توکو د بیو شاخص به په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲ سلنه لوړوالی ومومي چې د انرژۍ او کیمیایي سرې لوړ لګښتونه یې ستر لامل په ګوته شوی دی.

**۱.۳ په افغانستان کې د لګښتي توکو بیې**

اوس مهال په افغانستان کې د لګښتي توکو د بیو شاخص (CPI) د ۲۰۱۵ کال د اپریل میاشتې د بیو پر بنسټ راټولیږي، حال دا چې دا شاخص د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشتې د بیو پر بنسټ محاسبه کیده. په دې ګڼه کې د مصرفي توکو د بیو شاخص اجزاوې هم د نویو وزنونو سره سمون لري. د احصائیې د مرکزي ادارې د شمیرو او د افغانستان بانک د څیړنیزو معلوماتو له مخې، په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانستان د مصرفي توکو د بیو په شاخص کې لاندنی پایلې لیدل شوي دي:

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د مصرفي توکو د بیو په شاخص کې د کال په کال اندازه ګیرۍ بدلونونه په منځني ډول ۰.۶ سلنه د انفلاسیون نرخ ښکاره کوي چې د تیر کال د ورته دورې د ۵.۰ سلنې په پرتله کموالی په ګوته کوي. په نړیوال مارکیټ کې د سوداګریزو توکو ټیټ او ثابت نرخونه او په افغانستان کې د داخلي تقاضا ټیټه کچه د انفلاسیون نرخ د ټیټوالي اصلي لامل دی. په ورته وخت کې، د نړیوالو سوداګریزو توکو د بیو شاخص زیات اقلام، په ځانګړې توګه غیر انرژي توکو د تیر کال په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په اوږدو کې ټیټې بیې درلودلې دي.

د انفلاسیون نرخ د کال په کال پرتلنې په څېر د ربعې په ربعې د ارزونې او سنجش له مخې هم د ارزونې لاندې موده کې ټیټوالی ښکاره کړی دی.

د خپرو شویو شمېرو له مخې د انفلاسیون منځنی نرخ د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۰.۹ سلنې ته راټیټ شوی دی چې د تیر کال د ورته مودې د ۳.۳ سلنې ثبت شوي منځنی نرخ په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

په پلازمینه کابل کې د مصرفي توکو د بیو شاخص په ۱۳۹۷ مالي کال کې په اوسط ډول ۱.۴ سلنې ته رسېږي چې د تیر کال د ۵.۱ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د ربعې په ربعې شمېرو پر بنسټ د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې دا شاخص په اوسط ډول ۱.۷ سلنې ته راټیټ شوی دی، چې د تېر کال د ورته ربعې د ۳.۲ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

**۱.۱.۳ په عمومي انفلاسیون کې بدلونونه**

**۱.۱.۱.۳ کلني بدلونونه**

د مصرفي توکو د بیو شاخص د کال په کال د سنجش له مخې د ۱۳۹۶ کال په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

د شتو شمېرو پر بنسټ، د کال په کال د سنجش له مخې د عمومي انفلاسیون نرخ په ۱۳۹۷ مالي کال کې په ډراماتیکه توګه په اوسط ډول ۰.۶ سلنې ته راکم شوی چې د تېر کال د همدې دورې د ۵.۰ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي، حال دا چې د میاشتې د سنجش له مخې د انفلاسیون نرخ په اکتوبر، نومبر او ډسمبر میاشتو کې په ترتیب سره ۰.۷۵، ۱.۱۱ او ۰.۸۰ سلنه ثبت شوی دی.

همدا ډول دخوراکي او غیر خوراکي توکو بیې هم راټیټې شوي دي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د خوراکي توکو په شاخص کې د انفلاسیون اوسط نرخ منفي ۱.۰ سلنې ته راټیټ شوی دی چې د تېر کال د ورته ربعې د ۷.۰ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. په پورته یاد شوي شاخص کې د دیفلاسیون د نرخ د زیاتوالي عمده لامل د سبزیجاتو، وچو او تازه میوو، غوړو او شحمیاتو، غوښې، شیدو پنیر او هګۍ، غیر الکولي مشروباتو، بورې، خوږو توکو او ترشي اچارو د بیو ټیټوالی دی. د دې شاخص د سبزیجاتو او ترشي اچارو په بیو کې خورا زیات ټیټوالی ثبت شوی دی چې په اوسط ډول د تېر کال د ورته مودې د ۲۱.۷ سلنې او ۶.۹ سلنې په پرتله په ترتیب سره منفي ۹.۶ سلنه او منفي ۱۶.۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. له بله پلوه، د ډوډۍ او حبوباتو د بیو په شاخص کې خورا ډېر زیاتوالی راغلی دی چې د تیر کال د ورته مودې د ۱.۷ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله په ۱۳۹۷ کال کې په اوسط ډول ۳.۵ سلنې ته لوړ شوی دی.

د نا خوراکي توکو په کټګورۍ کې د تنباکو، ښوونې او روزنې، کور جوړونې، روغتیا او متفرقه توکو د ټیټو بیو له امله د انفلاسیون نرخ راټیټ شوی دی، حال دا چې د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د فرنیچرو، کورنی پوښاک، اړیکو، هوټلونو او ریسټورانټونو او د ترانسپورت بیې لوړې شوې دي. په دې کټګورۍ کې د کور جوړونې، تنباکو، او روغتیا د بیو په شاخصونو کې د پام وړ ټیټوالی لیدل شوی دی چې د تېر کال د ورته مودې د ۴.۵، ۷.۶ او ۱.۹ سلنې په پرتله په ترتیب سره ۱.۵، ۴.۱ او ۰.۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. له بله پلوه، د پوښاک او ترانسپورت د بیو شاخص د تېر کال د ورته مودې د ۲.۸ او ۵.۰ سلنې په پرتله په ۱۳۹۷ کال کې په ترتیب سره ۳.۵ او ۶.۵ سلنې ته لوړ شوی دی.

اصلي انفلاسیون هم په ۱۳۹۷ کال کې د تیر کال په پرتله د ټیټوالي بهیر درلودلی دی. د اوسط موندلو میتود (Trimmed mean) چې د اصلي انفلاسیون عمومي کچه ده، په اوسط ډول د تېر کال له ۴.۱ سلنې څخه ۱.۴ سلنې ته راټیټ شوی دی. د دې ترڅنګ، د مصرفي توکو د بیو شاخص انفلاسیون له ډوډۍ، حبوباتو، غوړیو او شحمیاتو او ترانسپورت پرته له ۵.۴ سلنې څخه منفي ۰.۱ سلنې ته راټیټ شوی دی.


**۲.۱.۱.۳ د ملي عمومی انفلاسیون درې میاشتنی بدلونونه**

انفلاسیون د کلنۍ ارزونې او سنجش په څېر د لنډې مودې ارزونې او سنجش له مخې هم ورته بهیر ښکاره کړی دی. د دې ارزونې او سنجش له مخې ملي عمومي انفلاسیون د تېر کال د ورته ربعې د ۳.۳ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۷ کال په څلورمه ربعه کې په اوسط ډول ۰.۹ سلنې ته راکم شوی دی. د عمومی انفلاسیون د ټیټوالي اصلي لامل د خوراکي توکو د بیو ټیټېدل (غیر انفلاسیون) په ګوته شوی دی. د دې برعکس، د غیر خوراکي توکو په کټګورۍ کې د انفلاسیون نرخ د تېر کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۷ کال په څلورمه ربعه کې لوړوالی ښکاره کوي.

د درې میاشتنۍ سنجش پر بنسټ، د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د تېر کال د ورته ربعې د ۴.۹ سلنې په پرتله د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې په اوسط ډول منفي ۰.۶ سلنې ته راټیټ شوی دی. د خوراکي توکو بیې لکه سبزیجات، وچې او تازه مېوې، غوړي او شحمیات، غوښه، شیدې، پنیر او هګۍ راټیټې شوي دي، حال دا چې د ډوډۍ او حبوباتو او ترشي اچارو بیې د تیر مالي کال د ورته مودې په پرتله راټیټې شوې دي. په ورته وخت کې، په دې کټګورۍ کې د سبزیجاتو او وچو او تازه مېوو بیې د تیر کال د ورته مودې د ۲۱.۶ او ۸.۹ سلنې په پرتله د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې په ترتیب سره منفي ۱۸.۱ او منفي ۱.۰ سلنې ته راټیټې شوې دي.

له بله پلوه، د غیر خوراکي توکو انفلاسیون د تېر کال د ورته مودې د ۱.۹ سلنې په پرتله د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې په اوسط ډول ۲.۳ سلنې ته زیات شوی دی. په دې کټګورۍ کې د ترانسپورت، ښوونې او روزنې، تنباکو، فرنیچرو او کورنیو توکو د اقلامو بیې د ارزونې لاندې موده کې خورا ډېرې لوړې شوي دي. د ترانسپورت شاخص بیې د تیرې مودې د ۱.۸ سلنې په پرتله ۱۰ سلنې ته لوړې شوي دي. په ورته وخت کې، د فرنیچرو او کورنیو توکو شاخص د تېر کال د ورته مودې د ۲.۹ سلنه ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۳.۷ سلنې ته زیات شوی دی. همدا ډول د پوښاک او متفرقه توکو د شاخصونو انفلاسیون د تېر کال د ورته مودې د ۳.۴ او ۳.۷ سلنه ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې په ترتیب سره ۳.۳ او ۲.۱ سلنې ته راښکته شوی دی.

**۱.۳ ګراف: عمومي انفلاسیون ( د کال په کال شمیرو پر بنسټ)**





سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۲.۳ ګراف: د کال په کال اوسط موندلو میتود (Trimmed mean)**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

**۳.۳ ګراف: په اوسط ډول ربعوار عمومي انفلاسیون ( د کال په کال شمیرو پر بنسټ)**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۱.۳ جدول: ملي عمومی انفلاسیون، ۱۳۹۷ مالي کال

| دوره | وزن | ۲۰۱۷<br>د ۲۰۱۵ د اپریل پر بنسټ | | | | ۲۰۱۸<br>د ۲۰۱۵ د اپریل پر بنسټ | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د ۲۰۱۷ اکتوبر | د ۲۰۱۷ نومبر | د ۲۰۱۷ ډسمبر | اوسط (دولس میاشتې) | د ۲۰۱۸ جولای | د ۲۰۱۸ اګسټ | د ۲۰۱۸ سپتمبر | د ۲۰۱۸ اکتوبر | د ۲۰۱۸ نومبر | د ۲۰۱۸ ډسمبر | اوسط (دولس میاشتې) |
| ټولیز شاخص | ۱۰۰.۰ | **۳.۸** | **۳.۱** | **۳.۱** | **۵.۰** | **-۰.۱** | **۰.۱** | **۰.۲** | **۰.۸۰** | **۱.۱۱** | **۰.۷۵** | **۰.٦** |
| خوراکي توکي او غیر الکولي مشروبات | ٤۷.۸ | ۵.۴ | ۴.۷ | ۴.۶ | ۷.۰ | -۳.۵ | -۲.۵ | -۱.۹ | -۰.۸۵ | -۰.۵۳ | -۰.۳۰ | -۱.۰ |
| ډوډۍ او حبوبات | ١٤.٦ | ۱.۰ | ۱.۰ | ۲.۰ | ۱.۷ | ۰.۶ | ۱.۰ | ۳.۳ | ۶.۷۴ | ۸.۴۶ | ۸.۱۷ | ۳.۵ |
| غوښه | ۷.٥ | ۵.۹ | ۵.۷ | ۵.۵ | ۷.۱ | -۰.۸ | ۰.۱ | ۱.۱ | ۱.۵۱ | ۰.۷۹ | ۱.۶۸ | ۱.۴ |
| شیدې، پنیر او هګۍ | ٤.۷ | ۴.۱ | ۴.۰ | ۳.۷ | ۳.۷ | ۰.۹ | ۱.۰ | ۱.۰ | ۱.۸۱ | ۲.۱۰ | ۱.۲۶ | ۱.۰ |
| غوړي او شحمیات | ٤.٦ | ۵.۴ | ۵.۲ | ۴.۴ | ۷.۹ | -۱.۶ | -۲.۲ | -۲.۲ | -۱.۶۴ | -۲.۶۰ | -۲.۴۷ | -۰.۶ |
| تازه او وچه میوه | ٥.۰ | ۸.۵ | ۱۰.۳ | ۷.۸ | ۸.۸ | ۱.۳ | ۳.۳ | ۰.۰ | -۰.۸۶ | -۳.۰۴ | ۱.۰۱ | ۰.۹ |
| سبزیجات | ٦.۰ | ۲۵.۷ | ۱۹.۶ | ۱۹.۴ | ۲۱.۷ | -۱۸.۳ | -۱۶.۱ | -۱۷.۲ | -۱۷.۵۶ | -۱۷.۸۷ | -۱۹.۰۰ | -۹.۶ |
| بوره او خواږه توکي | ۲.۷ | -۴.۸ | -۵.۱ | -۴.۶ | ۶.۶ | -۸.۳ | -۷.۶ | -۳.۶ | -۳.۴۲ | -۱.۷۶ | -۱.۶۲ | -۶.۷ |
| اچار، ترشي او... | ۱.۳ | -۹.۲ | -۱۵.۵ | -۱۹.۰ | ۶.۹ | -۱۷.۲ | -۱۵.۷ | -۱۳.۹ | -۱۱.۶۸ | -۵.۲۳ | -۲.۲۷ | -۱۶.۷ |
| غیر الکولي مشروبات | ۱.٤ | ۲.۰ | ۱.۹ | ۱.۷ | ۲.۴ | ۲.۰ | ۲.۶ | ۲.۲ | ۳.۶۶ | ۴.۳۳ | ۴.۴۹ | ۲.۳ |
| غیر خوراکي توکي، تنباکو او خدمتونه | ٥۲.۲ | ۲.۲ | ۱.۶ | ۱.۷ | ۳.۲ | ۳.۱ | ۲.۶ | ۲.۳ | ۲.۳۷ | ۲.۶۷ | ۱.۷۶ | ۲.۳ |
| تنباکو | ۰.۳ | ۴.۱ | ۴.۸ | ۳.۶ | ۷.۶ | ۴.۲ | ۴.۲ | ۵.۲ | ۶.۲۴ | ۵.۹۸ | ۶.۳۴ | ۴.۱ |
| پوښاک | ٤.٦ | ۲.۲ | ۳.۸ | ۴.۲ | ۲.۸ | ۳.۳ | ۳.۶ | ۳.۸ | ۳.۲۵ | ۲.۴۱ | ۴.۱۸ | ۳.۵ |
| کور جوړونه | ۱۹.۱ | ۳.۰ | ۱.۴ | ۱.۲ | ۴.۵ | ۳.۵ | ۲.۱ | ۰.۸ | ۰.۳۴ | ۰.۷۴ | -۱.۳۹ | ۱.۵ |
| فرنیچر او کورني توکي | ۱۱.۹ | ۲.۴ | ۳.۲ | ۳.۱ | ۲.۶ | ۲.۱ | ۲.۲ | ۲.۸ | ۳.۳۲ | ۴.۱۸ | ۳.۷۵ | ۲.۸ |
| روغتیا | ٦.۲ | ۰.۶ | ۰.۷ | ۰.۹ | ۱.۹ | ۰.۸ | ۰.۵ | ۰.۲ | ۰.۵۷ | ۱.۲۹ | ۱.۶۰ | ۰.۷ |
| ټرانسپورټ | ٤.۳ | ۴.۵ | ۰.۱ | ۰.۷ | ۵.۰ | ۹.۲ | ۹.۴ | ۹.۷ | ۱۰.۵۷ | ۱۰.۸۲ | ۸.۷۴ | ۶.۵ |
| اړیکې | ۱.۷ | -۲.۲ | -۲.۲ | -۲.۱ | -۲.۷ | ۰.۲ | ۰.۲ | ۰.۴ | ۰.۷۹ | -۰.۹۲ | -۱.۷ | -۰.۵ |
| معلومات او کلتور | ۱.۱ | -۴.۷ | -۴.۱ | -۴.۱ | -۳.۸ | -۱.۶ | -۰.۷ | ۰.۵ | ۱.۰۶ | -۰.۳۸ | -۰.۹۰ | -۱.۰ |
| زده کړه | ۰.٤ | -۰.۱ | -۰.۴ | ۰.۱ | ۸.۸ | ۸.۵ | ۵.۶ | ۴.۵ | ۴.۸۴ | ۶.۵۳ | ۶.۴۰ | ۵.۸ |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | ۱.۱ | -۱.۱ | ۰.۱ | ۰.۴ | ۰.۶ | ۳.۴ | ۲.۷ | ۳.۰ | ۳.۰۱ | ۲.۱۸ | ۲.۵۱ | ۲.۳ |
| متفرقه | ۱.٤ | ۳.۶ | ۳.۴ | ۴.۳ | ۴.۵ | ۳.۲ | ۳.۲ | ۲.۷ | ۲.۴۸ | ۲.۴۵ | ۱.۴۰ | ۳.۰ |
| د مصرفي توکو د بیو شاخص، پرته له ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تنباکو څخه | | **٤.۲** | **۳.٥** | **۳.۳** | **٥.٤** | **-۰.۷** | **-۰.٤** | **-۰.۷** | **-۰.٦٦** | **-۰.٥۲** | **-۰.۸۲** | **-۰.۱** |
| ۳۰٪ د اوسط مونډلو میتود | | **۲.۱** | **۱.۹** | **۲.۰** | **٤.۱** | **۱.۲** | **۱.٤** | **۱.٤** | **۱.۷۲** | **۱.٤۸** | **۱.۹۳** | **۱.٤** |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۱.۳ د کابل په عمومي انفلاسیون کې بدلونونه

#### ۱.۲.۱.۳ کلني بدلونونه

د کابل د مصرفي توکو د بیو شاخص عمومي انفلاسیون د تېر کال د ورته مودې د ۵.۱ سلنې په پرتله په ۱۳۹۷ کال کې په اوسط ډول ۱.۴۹ سلنې ته راښکته شوی دی.

خوراکي توکي چې د ټولیزه شاخص د عمومي وزن ۳۷.۲ سلنه جوړوي، د کال په کال بدلونونو پر بنسټ د یوه کال په موده کې دیفلاسیوني بهیر درلودلی دی. په دې کټګورۍ کې د دیفلاسیون عمده لاملونه د حبوباتو، غوښې، سبزیجاتو، بورې او خوږو توکو، شیدو، پنیر او هګۍ، غوړو او شحمیاتو، او د وچې او تازه میوې ټیټې بیې په ګوته شوي دي. په ټولیزه توګه، د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د تېر مالي کال د ۸.۵ سلنې په پرتله په ۱۳۹۷ مالي کال کې په اوسط ډول منفي ۰.۱۶ سلنې ته راټیټ شوی دی.

د نا خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ چې د ټولیزه شاخص ۶۲.۸ سلنه وزن جوړوي، د تېر کال د ۳.۰ سلنې په پرتله د ۱۳۹۷ کال په درېیمه ربعه کې په اوسط ډول ۲.۳ سلنې ته راټیټ شوی چې اصلي لامل یې د تنباکو، کور جوړونې، ښوونې او روزنې او د متفرقه توکو ټیټې بیې په ګوته شوي دي. که څه هم په دې کټګورۍ کې د فرنیچرو او کور جوړونې د انفلاسیون نرخ له ۲.۴ سلنې څخه ۳.۲ سلنې ته لوړ شوی دی.

له بلې خوا، اصلي انفلاسیون له ډوډۍ او حبوباتو، غوړیو او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته د ارزونې لاندې موده کې کموالی ښکاره کوي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د اصلي انفلاسیون نرخ په اوسط ډول ۱.۰ سلنې ته رسیږي په داسې حال کې چې په تېر کال کې دا نرخ ۵.۵ سلنه ثبت شوی ؤ. همدا ډول، د اوسط مونډلو میتود (۳۰٪) د تیر کال د ۴.۳ سلنې په پرتله په ۱۳۹۷ مالي کال کې په اوسط ډول ۱.۶ سلنه انفلاسیون ثبت کړی دی.

#### ۲.۲.۱.۳ د کابل د عمومي انفلاسیون درې میاشتني بدلونونه

د ربعې په ربعې د سنجش او ارزونې له مخې د ټولیز انفلاسیون پر بنسټ د کابل عمومي انفلاسیون ټیټېدونکی بهیر درلوده چې د لګښتي توکو د بیو شاخص پر بنسټ د خوراکي توکو بیو زیات انفلاسیون او د غیر خوراکي توکو بیو کم انفلاسیون ښکاره کړی دی.

همدا ډول دکابل عمومي انفلاسیون د تېر مالي کال د څلورمې ربعې د ۳.۲ سلنې په پرتله د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې په اوسط ډول ۱.۷ سلنې ته راټیټ شوی دی. د دې برعکس، د خوراکي توکو د شاخص انفلاسیون د تیر مالي کال د څلورمې ربعې د ۵.۸ سلنې په پرتله د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې په اوسط ډول ۰.۲ سلنې ته راټیټ شوی دی. په دې کټګورۍ کې د غوښې، سبزیجاتو، غوړو او شحمیاتو او د تازه او وچې میوې بیې راټیټې شوې دي چې د ارزونې لاندې موده کې د انفلاسیون ټیټه کچه ښکاره کوي. همدارنګه په دې کټګورۍ کې د سبزیجاتو بیو خورا ډېر ټیټوالی کړی دی چې د تیر کال د ۲۳.۱ سلنې په پرتله په ۱۳۹۷ مالي کال کې په اوسط ډول منفي ۱۹.۳ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

د دې ترڅنګ، د ربعوار شمیرو پربنسټ د ډوډۍ او حبوباتو د شاخص انفلاسیون د تیر کال د ورته مودې د منفي ۰.۳ سلنې په پرتله د ۱۳۹۷ مالي کال په څلورمه ربعه کې ۱۰.۶ سلنې ته لوړ شوی دی. د مصرفي توکو د بیو شاخص د نا خوراکي توکو کټګورۍ انفلاسیون ټیټېدونکی بهیر لرلی دی او د ۱۳۹۷ مالي کال د څلورمې ربعې د


انفلاسیون نرخ د ټیټوالي لامل شوی دی. په دې کټګورۍ کې د انفلاسیون اوسط نرخ د روان کال په څلورمه ربعه کې ۲.۶ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱.۶ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د ربعې په ربعې پرتلنې پر بنسټ په دې کټګورۍ کې د انفلاسیون د زیاتوالي ستر لامل د ترانسپورت، فرنیچرو، کورنیو توکو، روغتیا، ښوونې او روزنې، معلوماتو او کلتور، اړیکو او متفرقه توکو لوړې بیې په ګوته شوي دي. په دې ډله کې د ترانسپورت بیو خورا ډیر زیاتوالی موندلی چې د تیرې مودې د ۱.۴ سلنې په پرتله ۷.۵ سلنه لوړوالی ښکاره کوي. د دې برعکس، د کور جوړونې او غوښې د بیو په شاخصونو کې ټیټوالی راغلی دی.

په ټولیزه توګه، د خوراکي او غیر خوراکي توکو شاخصونو د زیات وزن لرونکو اقلامو بیو دیفلاسیوني بهیر ښکاره کړی دی چې موسمي بدلونونه او د تقاضا کموالی یې ستر لامل په ګوته شوی. د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې په یادو بیو کې نوسانونه لیدل شوي دي چې په زیاته کچه د تیلو او غازو عرضې، د کرنیزو فارمونو پراختیا او د ګاونډیو هیوادونو سره د سوداګرۍ ښه والي یې ستر لامل په ګوته شوی دی. د دې ترڅنګ، د هیواد په بیلابیلو برخو کې د شنو خونو (ګرین هاوسونو) جوړیدو او د عرضې او تقاضا ترمنځ د ښه انډول شتون په هیواد کې د دیفلاسیون په زیاتیدو کې ونډه لرلې ده.

په افغانستان کې د انفلاسیون نرخ د کرنې، صنعت او خدمتونو په سکتورونو کې د پرمختګونو او په نړیوال مارکیټ کې د توکو د بیو په بدلون پورې تړاو لري. د نړیوال بانک د راپورونو پر بنسټ، اټکل کیږي چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې د انرژۍ بیې راټیټې شي، حال دا چې د غیر انرژي توکو بیې به۱ سلنه لوړوالی ومومي چې د تېر کال په پرتله یو څه لوړیدونکی بهیر ښکاره کوي.


د نږدې مودې لیدلوري پر بنسټ په افغانستان کې د انفلاسیون نرخ ممکن په ۱۳۹۸ مالي کال کې لوړوالی وموميي او مثبت بهیر وساتي. د افغانستان بانک د وړاندوینو پربنسټ، اټکل کیږي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په لومړیو دوو ربعو کې به د ملي عمومي انفلاسیون نرخ د ۱ او ۳ سلنې او د وروستیو دوو ربعو پر مهال به دا نرخ د ۴ او ۵ سلنې ترمنځ وي.

**۴.۳ ګراف: د کابل د کلني انفلاسیون منحنی نرخ، ۲۰۰۴– ۲۰۱۸**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان

**۵.۳ ګراف: د کابل د عمومي انفلاسیون نرخ، ۲۰۰۴– ۲۰۱۸**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۳ جدول: د کابل عمومي انفلاسیون، ۲۰۱۸

| دوران | وزن | ۲۰۱۷ اکتوبر | ۲۰۱۷ نومبر | ۲۰۱۷ ډیسمبر | اوسط (۱۲ میاشتې) | ۲۰۱۸ جولای | ۲۰۱۸ اګسټ | ۲۰۱۸ سپټمبر | ۲۰۱۸ اکتوبر | ۲۰۱۸ نومبر | ۲۰۱۸ ډیسمبر | اوسط (۱۲ میاشتې) | اوسط (درې میاشتې) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۲۰۱۷ | | | | ۲۰۱۸ | | | | | | | |
| | | د ۲۰۱۵ د اپریل پر بنسټ | | | | | | | | | | | |
| ټولیز شاخص | **۱۰۰.۰** | **۳.۷** | **۳.۲** | **۲.۸** | **۵.۱** | **۰.۹** | **۰.۸** | **۰.۹** | **۱.۸** | **۱.۸** | **۱.٤** | **۱.٤۹** | **۰.۹** |
| خوراکي توکي او غیر الکولي څښاک | **۳۷.۲** | ۶.۱ | ۵.۸ | ۵.۵ | ۸.۵ | -۲.۹ | -۲.۴ | -۲.۱ | ۰.۳ | -۰.۴ | ۰.۷ | ۰.۱۶ | **-۲.۵** |
| ډوډۍ او حبوبات | **۹.۸** | -۱.۸ | -۱.۰ | ۱.۹ | ۰.۶ | ۰.۸ | ۰.۶ | ۴.۱ | ۱۰.۹ | ۱۱.۱ | ۹.۸ | ۴.۹۷ | ۱.۸ |
| غوښه | **٦.٤** | ۸.۸ | ۷.۰ | ۷.۱ | ۱۰.۴ | -۰.۹ | ۱.۳ | ۲.۹ | ۳.۵ | ۲.۵ | ۴.۸ | ۳.۰۵ | ۱.۱ |
| شیدې، پنیر او هګۍ | **۳.۲** | ۰.۳ | ۰.۳ | ۰.۰ | ۲.۸ | ۱.۷ | ۱.۵ | ۰.۴ | ۵.۳ | ۵.۹ | ۵.۶ | ۰.۹۱ | ۱.۲ |
| غوړي او شحمیات | **۳.٦** | ۳.۱ | ۲.۵ | ۱.۶ | ۹.۵ | -۳.۱ | -۲.۵ | -۱.۱ | ۰.۶ | ۱.۰ | ۰.۰ | -۱.۰۳ | -۲.۳ |
| تازه او وچه میوه | **۵.۲** | ۱۳.۹ | ۲۰.۸ | ۱۹.۰ | ۱۲.۷ | ۴.۸ | ۴.۲ | -۱.۶ | -۴.۳ | -۹.۱ | -۳.۳ | ۴.۰۲ | ۲.۵ |
| سبزیجات | **٤.۲** | ۳۳.۰ | ۲۲.۲ | ۱۴.۰ | ۲۲.۸ | -۱۹.۲ | -۱۸.۲ | -۲۱.۸ | -۱۷.۹ | -۲۰.۴ | -۱۹.۷ | -۹.۲۸ | -۱۹.۷ |
| بوره او خواږه توکي | **۲.۸** | -۰.۲ | -۰.۶ | ۰.۴ | ۱۳.۵ | -۶.۸ | -۵.۴ | -۰.۵ | -۲.۳ | ۱.۱ | ۱.۳ | -۳.۸۳ | -۴.۲ |
| اچار، ترشي او... | **۱.۰** | -۱۵.۱ | -۱۷.۵ | -۱۸.۱ | -۱.۰ | -۱۴.۱ | -۱۶.۷ | -۱۵.۳ | -۶.۷ | -۲.۴ | -۰.۴ | -۱۳.۶۱ | -۱۵.۴ |
| غیر الکولي څښاک | **۰.۹** | -۲.۵ | -۲.۵ | -۱.۷ | ۰.۳ | ۲.۱ | ۱.۹ | ۲.۲ | ۵.۱ | ۵.۹ | ۶.۱ | ۲.۳۸ | ۲.۱ |
| غیر خوراکي توکي، تنباکو او خدمتونه | **٦۲.۸** | ۲.۲ | ۱.۶ | ۱.۱ | ۳.۰ | ۳.۴ | ۲.۹ | ۲.۷ | ۲.۷ | ۳.۲ | ۱.۸ | ۲.۳۶ | **۳.۰** |
| تنباکو | **۰.۳** | ۷.۶ | ۷.۹ | ۶.۹ | ۱۳.۰ | ۵.۵ | ۴.۶ | ۵.۰ | ۴.۵ | ۳.۲ | ۳.۵ | ۳.۰۵ | ۵.۰ |
| پوښاک | **٤.۸** | ۰.۸ | ۴.۲ | ۴.۱ | ۲.۱ | ۴.۳ | ۴.۷ | ۵.۷ | ۴.۴ | ۲.۰ | ۵.۲ | ۴.۱۲ | ۴.۹ |
| کور جوړونه (استوګنځی) | **۲۳.۵** | ۴.۶ | ۱.۵ | ۰.۶ | ۵.۲ | ۴.۲ | ۲.۸ | ۱.۳ | ۰.۲ | ۰.۸ | ۲.۵- | ۱.۳۱ | ۲.۸ |
| فرنیچر او کورني توکي | **۱۷.٦** | ۲.۲ | ۳.۴ | ۲.۷ | ۲.۴ | ۲.۱ | ۲.۳ | ۳.۳ | ۴.۴ | ۵.۷ | ۵.۳ | ۳.۲۱ | ۲.۶ |
| روغتیا | **۵.۳** | -۰.۹ | ۰.۵ | ۰.۳ | ۰.۳- | ۳.۳ | ۲.۳ | ۱.۳ | ۲.۱ | ۱.۸ | ۱.۴ | ۱.۹۰ | ۲.۳ |
| ټرانسپورټ | **٤.٦** | ۴.۲ | ۰.۲ | -۰.۱ | ۴.۱ | ۶.۱ | ۵.۹ | ۶.۸ | ۷.۸ | ۹.۰ | ۵.۸ | ۴.۲۰ | ۶.۳ |
| اړیکې | **۲.۰** | -۴.۳ | -۴.۳ | -۴.۵ | -۳.۴ | ۰.۲ | ۰.۲ | ۰.۸ | ۱.۹ | ۰.۹ | ۱.۶ | -۰.۳۸ | ۰.۴ |
| معلومات کلتور | **۱.۷** | -۸.۳ | -۷.۳ | -۷.۳ | -۶.۴ | -۳.۳ | -۲.۳ | ۰.۰ | ۱.۴ | -۲.۱ | -۲.۶ | -۲.۱۹ | -۱.۹ |
| زده کړه | **۰.۷** | ۰.۷ | ۰.۲ | ۰.۴ | ۱۱.۹ | ۱۱.۸ | ۸.۲ | ۶.۶ | ۶.۳ | ۸.۸ | ۸.۷ | ۸.۰۵ | ۸.۹ |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | **۱.۰** | -۶.۴ | -۴.۰ | -۳.۳ | -۳.۰ | ۲.۴ | ۲.۴ | ۴.۱ | ۲.۳ | ۱.۷ | ۲.۸ | ۲.۲۸ | ۲.۹ |
| متفرقه | **۱.۳** | ۲.۵ | ۰.۹ | ۳.۱ | ۷.۱ | ۲.۲ | ۳.۱ | ۲.۳ | ۴.۴ | ۵.۷ | ۴.۲ | ۳.۱۳ | ۲.۵ |
| د مصرفي توکو د بیو شاخص (د ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمیاتو او تنباکو پرته) | | ۴.۳ | ۳.۹ | ۳.۱ | ۵.۵ | ۰.۸ | ۰.۷ | ۰.۳ | ۰.۵ | ۰.۴ | ۰.۳ | ۱.۰ | **۰.٦** |
| ۳۰ سلنه د اوسط موندلو میتود | | **۱.۲** | **۰.۹** | **۱.۵** | **٤.۳** | **۱.۵** | **۱.٦** | **۱.۹** | **۲.۷** | **۲.٦** | **۲.۷** | **۱.٦** | **۱.٦** |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

# ۴

# د بهرني سکتور بدلونونه

## د بهرني سکتور بدلونونه

بهرني سکتور په ۱۳۹۷ مالي کال کې تر يوې کچې وده کړې ده چې د توکو په صادراتو او خدمتونو کې دوامداره وده، د وارداتو کمښت او د لومړني حساب او د بهر څخه د کارګرو شخصي ليږدونو زياتې داخلي بهيدنې يې ستر لامل په ګوته شوی دی. د توکو د صادراتو او خدمتونو په عوايدو کې د پام وړ زياتوالي په کمه توګه پر وارداتو د جبرانيدونکو لګښتونو د زياتوالي لامل شوي دي. د خدمتونو صادرات لکه د رغونې، مخابراتو او دولتي خدمتونو د پام وړ وده ثبت کړې ده چې ياد بدلونونه او له بهر څخه د کارګرو د شخصې ليږدونو زياتوالی د جاري حساب په خارجي کسر کې د کموالي لامل شوي دي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې د جاري حساب خارجي کسر ۴،۰۵۵.۷۸ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير مالي کال د ۴،۱۴۵.۲۳ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله د پام وړ ټيټوالی ښکاره کوي.

د پانګې د ليږدونو له حساب څخه د پانګې حساب ته داخلي بهيدنې په ۱۳۹۷ مالي کال کې د پام وړ کمې شوي دي. په ورته وخت کې د ادراينو بيلانس په مالي حساب کې داخلي بهيدنې د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې دوامداره پاتې شوي دي. همدا ډول بهرنی مستقيمه پانګونه او خالصې داخلي بهيدنې د پام وړ زياتې شوې دي.

په ورته توګه، د بانکي سکتور د اسعارو په بڼه نورې شتمنی او بهرني امانتونه په ۱۳۹۷ مالي کال کې زيات شوي دي، حال دا چې په ورته موده کې ټوليزه پورراينو کموالی موندلی دی. دې بدلونونو ته په پام د ادراينو بيلانس په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۳،۰۶۵.۰۳ ميليون ډالره کسر ثبت کړی دی چې د تېر کال د ۲،۸۰۷.۸۳ ميليونه امريکايي ډالرو کسر په پرتله زياتوالی ښکاره کوي.

### ۱.۴ د ادراينو بيلانس

#### ۱.۱.۴ د جاری حساب بيلانس

د ادراينو د بيلانس جاري حساب په توکو او خدمتونو، د بهرنيو شتمنيو د پانګونې خالصو عوايدو او خالصو لېږدونو کې د سوداګرۍ بيلانس رانغاړي. د ادراينو د بيلانس جاري حساب په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۴،۰۵۵.۷۸ ميليونه امريکايي ډالره کسر ثبت کړی دی چې د تېر مالي کال د ۴،۱۴۵.۲۳ ميليونه امريکايي ډالرو کسر په پرتله ۲ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي (۱.۴ جدول او ۱.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

د جاري حساب د کسر د کموالي ستر لاملونه د توکو او خدمتونو د حساب په عوايدو کې زياتوالی، د کارګرو د حقوقو او د پانګونې د عايد په بڼه د لومړنيو عوايدو په حساب کې او د کارګرو د شخصي ليږدونو په بڼه د ثانوي عوايدو په حساب کې زياتې داخلي بهيدنې په ګوته شوي دي.

د سوداګرۍ د بيلانس کسر (توکي او خدمتونه) ۶ سلنې ته راټيټ شوی دی چې د وارداتو اړوند د توکو په صادراتو کې د پام وړ زياتوالی يې ستر لامل په ګوته شوی دی. همدا ډول د توکو له صادراتو څخه ترلاسه شوي عوايد په ۱۳۹۷ مالي کال کې په ټوليزه توګه ۸۷۵.۲۴ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ۷۸۳.۹۶ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۱۲ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د توکو پر وارداتو لګښتونه د تير کال د ۷۰،۲۳.۸۰ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله په ۱۳۹۷ مالي کال کې د۶،۸۹۹.۸۰ ميليونه ډالرو په ارزښت ۲ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. د خدمتونو د حساب لګښتونه د تير کال د ۷۳۷.۲۸ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله په ۱۳۹۷


مالي کال کې د ۵۱۵.۴۸ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د پام وړ ۳۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د دې زیاتوالی اصلي لامل د رغونې، مخابراتو، او دولتي توکو او خدمتونو څخه د خالصو ترلاسه شویو عوایدو زیاتوالی ګڼل کیږي.

خالص لومړني عواید د تیر کال د ۱۵۳.۴۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله په ۱۳۹۷ مالي کال کې د ۲۲۱.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د پام وړ ۴۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول، خالصې شخصي ترلاسه شوې پیسې چې په بهر کې د افغان کارګرو له لوري رالیږل شوې پیسې رانغاړي، د تیر کال د ۲۶۸.۸۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله په ۱۳۹۷ مالي کال کې د ۳۸۱.۱۰ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د پام وړ ۳۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول، دولتي سکتور ته خالصې جاري لیږدونې (جاري مرستې) په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱،۷۶۸.۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د ۲،۱۰۵.۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

### ۲.۱.۴ پانګه ایز حساب

۱.۴ ګراف: د جاري حساب بیلانس




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

د ادائینو د بیلانس په پانګه ایزه حساب کې ډیریدنه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱،۴۰۴.۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۱،۷۹۰.۷۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې لامل یې په روان کال کې دولتي سکتور، شرکتونو او کورنیو ته د پانګې کمه لیږدونه ګڼل کیږي. (د لا وضاحت لپاره ۱.۴ جدول او ۲.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

### ۳.۱.۴ مالي حساب

د ادائینو بیلانس د مالي حساب لاندې بهرنۍ پانګونه یوه مهمه برخه ګڼل کیږي چې بهرنۍ مستقیمه پانګونه (FDI)، بهرنۍ پورتوفولیو پانګونه (FPI) او نورې پانګونې په کې شاملې دي.

په هېواد کې د بهرنۍ مستقیمې پانګونې داخلي بهیدنې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۱۵.۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۵۱.۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۲۳ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

په پورتوفولیو پانګونه کې بېروني بهیدنه، په تېره بیا د پولي بازار د ابزار په برخه کې د تیر کال د ورته مودې د منفي ۲۹.۱۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۳.۵۱ میلیونه امریکایي ډالره کسر کړی دی.

د شمېرو شننه ښکاره کوي چې له هېواد څخه بهر د افغانانو ټولیزه مالي شتمنۍ په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۷۳.۳۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۳۵.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. (د لا وضاحت لپاره ۱.۴ جدول او ۳.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).


په ورته وخت کې ټولیزه مالي پوراینې په ۱۳۹۷ مالي کال کې منفي ۸۸.۳۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د

تېر کال د ورته مودې د ۶۷.۴۰ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

د شتمنۍ زیرمې ( د اداینې د بیلانس پر بنسټ) په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۶۷.۶۵ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۵۷۶.۲۹ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۷۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې عمده لامل یې د اسعارو د زیرمو کموالی په ګوته شوی دی.


د مالي حساب بیلانس په ۱۳۹۷ مالي کال کې په تولیزه توګه ۴۱۳.۷۸ میلیونه امریکايي ډالره ثبت شوی دی چې دا رقم د تېر کال په ورته موده کې ۴۵۳.۳۸ میلیونه امریکايي ډالره ښودل شوی دی.

**۲.۴ ګراف:** پانګه ایز او مالي حساب (په ملیون امریکایي ډالر)




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۳.۴ ګراف:** د افغانستان د مستقیمې بهرنۍ پانګونې داخلي بهېدنې (په ملیون امریکایي ډالر)




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۴ د توکو سوداګري (مال التجاره)

د بولټن دا برخه په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانستان د توکو د سوداګرۍ له کړنو شننه او د ۱۳۹۶ کال د سوداګریو کړنو سره د هغې پرتلنه وړاندې کوي.

د افغانستان سوداګریز بیلانس د ډیرې اوږدې مودې راهیسې په کسر کې دی. معنی دا چې د وارد شویو توکو ټولیز ارزښت د صادرو شویو توکو له ټولیز ارزښت څخه لوړ دی (د لا وضاحت لپاره ۲.۴ جدول او ۴.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د بهرنیو توکو د سوداګرۍ کسر ۶،۵۳۱.۳۶ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۶،۶۶۴.۲۱ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله ۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د توکو د ټولو صادراتو کچه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۸۷۵.۲۴ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۶۱۳.۸۰ میلیونه امریکايي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۲ سلنه زیاته شوې ده.

د صادریدونکو توکو ترمنځ د خرمنو او وړیو صادرات او طبي بذرونه لوړیدونکی بهیر ښکاره کوي، حال دا چې خوراکي توکو او غالیو او ټغرونو د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ټیټیدونکی بهیر ثبت کړی دی.

د خرمنو او وړیو صادرات په ۱۳۹۷ کال کې ۴۲.۳۲ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي چې د تېرې مودې د ۲۳.۱۳ میلیونه امریکايي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۸۳ سلنه زیات شوي دي.

په ورته وخت کې، د طبي بوټو/ بذرونو صادرات ۳۹۲.۸۸

میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲۹۵.۵۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د دې برعکس، د خوراکي توکو صادرات (تازه او وچې میوې او تیلي بذرونه) ۴۱۷.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۴۴۱.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله یې ۵ سلنه ټیټوالی کړی دی.

همدا ډول د غالیو او ټغرونو صادرات ۲۲.۳۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲۳.۷۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶ سلنه راکم شوي دي.

په ورته وخت کې، ټولیزه واردات په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۷،۴۰۶.۶۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر مالي کال د ۷،۴۴۸.۱۴ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د پرتلنې په دې دوره کې د وارداتي توکو د دوه عمده برخو، په تېره بیا د مصرفي توکو د وارداتو او د صنعتي موادو د وارداتو په بیو کې زیاتوالی راغلی دی.

د مصرفي توکو واردات په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲،۹۰۴.۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲،۹۸۱.۴۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳ سلنه کم شوي دي، حال دا چې د صنعتي موادو واردات ۸۲۵.۶۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۸۸۳.۲۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

د مصرفي توکو د بهیر برعکس، د تیلو او روغنیاتو واردات په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۹۴۹.۷۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۸۷۷.۶۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې د پانګه ایزو توکو واردات ۲،۷۲۶.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲،۷۰۵.۷۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

په ټوله کې د ۱۳۹۷ کال په درېیمه ربعه کې د وارداتو په ترکیب او په تېره بیا په صنعتي موادو کې د پام وړ بدلون راغلی دی. په صنعتي توکو کې په عمده ډول د فلزونو تولیدات، کمیاوي سرې او سیمنټ شامل دي چې په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لوبوي. په همدې توګه د دغو وارداتي توکو زیاتوالی په هېواد کې د اقتصادي کړنو، په تېره بیا د صنعتي او رغونې د سکتور د کړنو د چټکوالي ښکاره بېلګه ده.

۴.۴ ګراف: سوداګریزې کړنې او سوداګریز بیلانس




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۳.۴ د سوداګرۍ لوری

د افغانستان عمده سوداګریز ملګري پاکستان، ایران، هند، چین او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي. د افغانستان د صادراتو لپاره عمده هېوادونه پاکستان، هند، ایران، چین او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) رانغاړي، حال دا چې هیواد ته د توکو د وارداتو عمده

سرچينې پاکستان، هند، ايران، جرمني، چين، امريکا متحده ايالات، جاپان او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي.

**۱.۳.۴ د صادراتو لوری**

پاکستان له اوړدې مودې راهيسې د افغانستان د صادراتو يوائينی لوی پيرودونکی هېواد دی. پاکستان ته د افغانستان د ټولیزو صادراتو ونډه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۴۳ سلنې ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۳۸ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله زياته شوې ده چې له صادراتي توکو څخه ټوله ترلاسه شوې ګټه ۲۶ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. د ارزونې لاندې کال کې د ټولیزه صادراتو له ډلې پاکستان ته وچې مېوې، تازه ميوې، د پنبې توليدات، غالۍ او ټغرونه او طبي بوټي (بذرونه) په ترتيب سره ۹، ۶، ۲، ۲ او ۱ سلنه زيات شوي دي.


په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانستان د صادراتو دوهم لوی پېرودونکی هېواد هند ګڼل کېږي. هند ته د افغانستان ټولیزه صادراتو ونډه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۴۱ سلنې ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۴۳ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله ټيټه شوې ده چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټه کې ۷ سلنه کموالی ثبت کړی دی.

هند ته د وچې او تازه ميوې، طبي بوټو (بذرونو) او زعفرانو صادارات په ترتيب سره ۲۵، ۱۴ او ۲ سلنه محاسبه شوي دي.


په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانستان د صادراتو دريیم لوی پيرودونکی هېواد چين دی. چين ته د افغانستان د ټولیزو صادراتو ونډه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۳.۲۵ سلنې ته رسېږي چې د تېر کال د ۱.۲۴ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله زياته شوې ده چې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې يې ۱۹۲ سلنه زياتوالی ثبت کړی دی. وچې ميوې او وړې او د څارويو ويښتان چين ته عمده صادراتي توکي دي چې په ترتيب سره د ټولو صادراتو ۱.۳۸ او ۱ سلنه جوړوي.

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانستان د صادراتو وروستی لوی پېرودونکی هېواد ايران دی. ايران ته د افغانستان د ټولو صادراتو ونډه په روان کال کې ۲ سلنه راټيټه شوې ده، حال دا چې د تېر کال په ورته موده کې دا ونډه ۳ سلنه وه چې له صادراتو څخه په ترلاسه شوې ګټه کې ۳۳ سلنه کموالی ثبت کړی دی (د لا وضاحت لپاره۳.۴ او ۴.۴ جدول او ۵.۴ او ۶.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال**




**۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۶ مالي کال**




سرچينه: د احصائيې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

#### ۲.۳.۴ د وارداتو لوری

د ګڼو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانستان د وارداتو لپاره تر ټولو ستره سرچینه ده. د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ګڼو ګټو خپلواکو هېوادونو (CIS) څخه ټولیز واردات په ۱۳۹۷ مالي کال کې د ۲۶.۷۸ سلنه ونډې په درلودلو سره ۱،۹۸۳.۵۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲،۰۳۹.۵۰ میلیونه امریکایي ډالرو (۲۷.۳۸ سلنه ونډې) په پرتله ۳ سلنه کموالی ښکاره کوي. په ۱۳۹۷ مالي کال کې افغانستان ته دا مهال د ګڼو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) عمده وارداتي توکي (اوړه او غنم، نباتي غوړي، پطرول، بریښنا، فلزي تولیدات، کیمیاوي سرې او سیمنټ) جوړوي.


ایران په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانستان دویمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کېږي چې د ټولو وارداتو ۱۷ سلنه جوړوي. له ایران څخه افغانستان ته د ټولیزه وادراتو کچه ۱،۲۶۴.۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال په ورته موده کې د ۱،۲۲۰.۵۷ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له ایران څخه افغانستان ته په بنسټیزو وارداتي توکو کې پطرول، فلزي تولیدات، سیمنټ، بریښنا، کمیاوي سره، د موټرو پرزې او مصرفي توکي شامل دي.

چین په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانستان درېیمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کېږي چې د ټولیزه وارداتو ۱۵.۷ سلنه جوړوي. له چین څخه افغانستان ته د ټولیزه وادراتو کچه ۱،۱۶۵.۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال په ورته موده کې د ۱،۱۴۵.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له چین څخه افغانستان ته په مهمو وارداتي توکو کې د موټرو پرزې، فلزونه، کیمیاوي سرې، ټېرونه، ټوپونه او مصرفي توکي شامل دي.

پاکستان په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانستان څلورمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کېږي چې د ټولیزه وارداتو ۱۵ سلنه جوړوي. پـه ۱۳۹۷ مالي کـال کې له پـاکستان څخه افغانستان ته د ټولیزه وادراتي توکو کچه ۱،۰۸۶.۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال په ورته موده کې د ۱،۲۲۶.۷۷ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې له پاکستان څخه افغانستان ته په عمده وارداتي توکو کې د موټرو پرزې، صنعتي مواد او خوراکي توکي شامل دي.


جاپان او هند په ۱۳۹۷ مالي کال کې د افغانستان وروستۍ سترې وارداتي سرچینې ګڼل کېږي چې په ترتیب سره د ټولیزه وارداتو ۶ او ۵ سلنه جوړوي (د لا وضاحت لپاره ۷.۴ او ۸.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۷.۴ ګراف:** د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۸.۴ گراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۶ مالي کال




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه


## ۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب

### ۱.۴.۴ د وارداتو ترکیب

په ۱۳۹۷ مالي کال کې د وارداتو ترکیب ښکاره کوي چې:


- د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې د مصرفي توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره ۳۹.۲ سلنه برخه لري، حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې دا برخه ۴۰ سلنه ثبت شوې ده.
- د مصرفي توکو پر وارداتو باندې شوی لګښت ۲،۹۰۴.۲۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲،۹۸۱.۴۶ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۳ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.
- د وارداتو په ټوکرۍ کې دویمه ستره ونډه پانګه ایزو توکو ثبت کړې ده چې کچه یې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۳۷ سلنې ته راټیټه شوې ده چې د تېر کال د ورته مودې د ۳۶ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله یې زیاتوالی کړی دی.
- د پانګه ایزو توکو پر وارداتو باندې شوی لګښت ۲،۷۲۶.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲،۷۰۵.۷۵ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.
- د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې دریمه ستره ونډه تیلو او روغنیاتو (پطرولو) ثبت کړې ده چې کچه یې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۳ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱۲ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله یې یو څه زیاتوالی کړی دی.
- د تیلو او روغنیاتو (پطرولو) پر وارداتو باندې شوی لګښت ۹۴۹.۷۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۸۷۷.۶۵ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.
- د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو کمه ونډه صنعتي موادو ثبت کړې ده چې دا ونډه د تېر کال د ورته مودې د ۱۲ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۱۱ سلنې ته راټیټه شوې ده.
- د صنعتي توکو پر وارداتو شوی لګښت ۸۲۵.۶۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۸۸۳.۲۷ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۲.۴ جدول او ۹.۴ او ۱۰.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۹.۴ گراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۱۰.۴ گراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۶ کال دریمه ربعه**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۳.۴ د صادراتو ترکیب


په ۱۳۹۷ مالي کال کې د صادراتو ترکیب ښکاره کوي چې:

- په ۱۳۹۷ مالي کال کې د خوراکي توکو صادرات (تیلي تخمونه، وچې او تازه مېوې) د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره ۴۸ سلنه ونډه لري، حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې یاده ونډه ۵۶ سلنه ثبت شوې ده.
- له خوراکي توکو څخه ترلاسه شوې ګټه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۴۱۷.۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۴۴۱.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.
- د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې دویمه ستره ونډه طبي بوټو (بذرونو) ثبت کړې ده چې کچه یې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۴۵ سلنې ته راټیټه شوې ده چې د تېر کال د ورته مودې د ۳۸ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله یې زیاتوالی کړی دی.
- له طبي بوټو (بذرونو) څخه ترلاسه شوې ګټه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۳۹۲.۸۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲۹۵.۵۵ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۳۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.
- د افغانستان په تولیزه صادراتو کې دریيمه ستره ونډه څرمنو او وړیو ثبت کړې ده چې د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې یې کچه ۵ سلنې ته رسېږي، حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې دا کچه ۳ سلنه ښودل شوې ده.
- د څرمنو او وړیو له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۴۲.۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲۳.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.
- غالۍ او ټغرې چې په تیرو لسیزو کې د افغانستان

عمده صادراتي توکي ؤ، پر تېولیزه صادراتو کې تر تېولو کمه ۳ سلنه ونډه ثبت کړې ده.


- د غالیو او تېغرونو له صادراتو څخه ترلاسه شوې ګټه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۲.۳۵ میلیونه امریکایي ډالره ښودل شوې چې د تیر کال د ورته مودې د ۲۳.۷۴ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۲.۴ جدول- ۱۱.۴ او ۱۲.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

**۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۷ مالي کال**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۶ مالي کال**




سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۵.۴ بهرنۍ پورواینې

د افغانستان ټولیزه بهرنۍ پورواینې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲،۱۰۲.۱۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۲،۱۹۶.۹۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴ سلنه کمه شوې ده چې شاوخوا ۹۴.۷۶ میلیونه امریکایي ډالره کموالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۴.۵ جدول او۱۳.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).

افغانستان د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د نړیوال بانک، د آسیا پراختیایي بانک، د پرمختیا لپاره د سعودي صندوق او بلغاریا د پور د اصلي مبلغ بیا اداینه کړې ده، حال دا چې نړیوال بانک، آسیا پراختیایي بانک او کویټ صندوق ته د خدمتونو لګښتونه هم تادیه شوي دي.


په ورته وخت کې د افغانستان د سترو څو اړخیزو پور ورکوونکو په توګه نړیوال بانك او د آسیا پراختیایي بانک د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ځینې اصلي پوروونه او د خدمتونو لګښتونه افغانستان ته بخښلي دي.

د پاریس کلب پور ورکوونکو ته د ټولیزه ورکول کیدونکو پوروونو کچه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۸۸۹.۴۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې باید د روسیې فدراسیون ته ورکړل شي. له بلې خوا د پاریس کلب له غړو هیوادونو څخه د افغانستان د ټولیزه بهرنیو پوراینو کچه شاوخوا ۴۲.۳۱ سلنې ته رسېږي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله شاوخوا ۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

سربیره پر دې، ټولیزه پوراینې د پاریس کلب له غړو پرته لکه د پرمختیا لپاره د سعودي صندوق، بلغاریا، د کویټ صندوق او د ایران د پور ورکونې کچه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۰۰.۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۱۰۵.۴۹ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

له بله پلوه، افغانستان ته د خو اړخیزو پور ورکوونکو د پوراینې کچه ۱،۱۱۱.۹۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۱،۱۸۱.۵۸ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله په کې د ارزونې لاندې کال کې ۶۹.۶۵ میلیونه امریکایي ډالره ټيټوالی راغلی دی.

**۱۳.۴ ګراف: د بهرنی پوراینې پرتلنې (په میلیون امریکایي ډالر)، ۱۳۹۷ کال او ۱۳۹۶ کال**





سرچینه: د پوراینې د شتمنیو څانګه، مالیې وزارت

## ۶.۴ خالصه نړیوالې زیرمې

د وروستیو شمېرو پر بنسټ، خالصې نړیوالې زیرمې (NIR) په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۷،۷۰۴.۹۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۷،۳۴۵.۳۶ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۶.۴ جدول او۱۴.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ). د خالصه نړیوالو زیرمو (NIR) د کچې د زیاتېدو عمده لامل د شتمنیو د زیرمو زیاتوالی په ګوته شوی دی چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې یې کچه ۸،۳۶۲.۴۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۸،۱۵۹.۰۱ میلیونه امریکایي ډالرو کچې په پرتله ۲.۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول په ۱۳۹۷ مالي کال کې د پوراینې د زیرمو کچه ۶۵۷.۴۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۸۱۳.۶۵ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۱۹.۲ سلنه کموالی په ګوته کوي، د پورته شمېرو له مخې د پوراینې د زیرمو د کچې په پرتله د شتمنی د زیرمو کچه لوړه ده. د پوراینې د زیرمو د کچې د ټيټیدو اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه په ګوته شوي دي چې د تېر کال د ۶۸۸.۴۹ میلیونه امریکایي ډالرو کچې په پرتله په ۱۳۹۷ کال کې ۵۹۸.۰۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلي دي چې ۲۰.۳ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي. په بهرنیو اسعارو کې د نا میشتو امانتونو د پوراینې د زیرمو کچه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې څه نا څه ثابته پاتې شوې ده.

د خالصو نړیوالو زیرمو د زیاتوالي عمده لامل دولتي سکتور ته د اسعارو د پام وړ داخلي بهیدنه او له بهر څخه شخصي رالېږل شوې پیسې دي. اوس مهال خالصه نړیوالې زیرمې په ۱۲ میاشتو کې د توکو د وارداتو لپاره بسنه کوي او د بهرنیو ټکانونو په وړاندې د مقاومت په موخه هېواد د خپلو زیرمو د نسبتاً ښه وضعیت څخه برخمن کوي.

**۱۴.۴ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې (په میلیون امریکایي ډالر)، ۱۳۹۳ کال – ۱۳۹۷ کال**




سرچینه: د پولي سیاست آمریت، د افغانستان بانک

## ۱.۴ جدول: د افغانستان د ادایئو بیلانس، ۱۳۹۷ مالي کال (په ملیون امریکایي ډالرو)

| اقلام/کلونه | ۱۳۹۶ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۶ دوهمه ربعه | ۱۳۹۶ دریمه ربعه | ۱۳۹۶ څلورمه ربعه | ۱۳۹۶ مالي کال | ۱۳۹۷ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۷ دوهمه ربعه | ۱۳۹۷ دریمه ربعه | ۱۳۹۷ څلورمه ربعه | ۱۳۹۷ مالي کال | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جاري حساب | -١٬٠٥٥.٤٣ | -١٬٤٣٠.٢٨ | -٧٤٤.٢٠ | -٩١٥.٣٢ | -٤٬١٤٥.٢٣ | -١٬٢٦٧.٠٨ | -٨٤٢.٤٠ | -٨٨٩.٨٩ | -١٬٠٥٦.٤٢ | -٤٬٠٥٥.٧٨ | -٢٪ |
| کریډټ | ٨١٧.٩٧ | ۸۱۶.۶۰ | ۱٬۱۹۴.۰۵ | ۱٬۲۹۷.۵۰ | ۴٬۱۲۶.۱۳ | ۹۲۰.۹۹ | ۱٬۱۳۳.۷۴ | ۱٬۱۵۳.۷۳ | ۱٬۰۶۰.۷۰ | ۴٬۲۶۹.۱۶ | ۳٪ |
| ډبټ | ١٬٨٧٣.٤١ | ۲٬۲۴۶.۸۸ | ۱٬۹۳۸.۲۵ | ۲٬۲۱۲.۸۲ | ۸٬۲۷۱.۳۶ | ۲٬۱۸۸.۰۷ | ۱٬۹۷۶.۱۴ | ۲٬۰۴۳.۶۲ | ۲٬۱۱۷.۱۲ | ۸٬۳۲۴.۹۴ | ۱٪ |
| د توکو او خدمتونو حساب | -١٬٦٠٧.٥٧ | -١٬٩٨١.٨٢ | -١٬٥٧٣.٤٢ | -١٬٨١٤.٣١ | -٦٬٩٧٧.١١ | -١٬٨٣٤.٥٧ | -١٬٥٦٠.٨٥ | -١٬٥٤٣.١٦ | -١٬٦٠١.٤٦ | -٦٬٥٤٠.٠٥ | -٦٪ |
| کریډټ | ٢١٣.٧٠ | ۲۳۰.۵۴ | ۳۳۴.۶۷ | ۳۶۸.۷۸ | ۱٬۱۴۷.۷۰ | ۳۲۰.۴۹ | ۳۶۴.۲۱ | ۴۳۸.۰۴ | ۴۳۷.۴۱ | ۱٬۵۶۰.۱۶ | ٣٦٪ |
| ډبټ | ١٬٨٢١.٢٧ | ۲٬۲۱۲.۳۶ | ۱٬۹۰۸.۰۹ | ۲٬۱۸۳.۰۹ | ۸٬۱۲۴.۸۱ | ۲٬۱۵۵.۰۶ | ۱٬۹۲۵.۰۷ | ۱٬۹۸۱.۲۱ | ۲٬۰۳۸.۸۷ | ۸٬۱۰۰.۲۰ | -۰.۳٪ |
| د توکوحساب | -١٬٤٥٦.١١ | -١٬٨٠٢.٢٢ | -١٬٣٧٢.٠٩ | -١٬٦٠٩.٤٠ | -٦٬٢٣٩.٨٣ | -١٬٦٦٤.٤٩ | -١٬٤٩٩.٧٥ | -١٬٣٨٦.٩٣ | -١٬٤٧٣.٤١ | -٦٬٠٢٤.٥٧ | -٣٪ |
| کریډټ | ١١٥.٠٦ | ۱۲۴.۱۷ | ۲۵۱.۳۷ | ۲۹۳.۳۶ | ۷۸۳.۹۶ | ۱۷۲.۴۵ | ۱۴۶.۸۱ | ۲۶۱.۸۸ | ۲۹۴.۰۹ | ۸۷۵.۲۴ | ١٢٪ |
| ډبټ | ١٬٥٧١.١٧ | ۱٬۹۲۶.۳۹ | ۱٬۶۲۳.۴۶ | ۱٬۹۰۲.۷۷ | ۷٬۰۲۳.۸۰ | ۱٬۸۳۶.۹۴ | ۱٬۶۴۶.۵۶ | ۱٬۶۴۸.۸۱ | ۱٬۷۶۷.۵۰ | ۶٬۸۹۹.۸۰ | -٢٪ |
| د خدمتونو حساب | -١٥١.٤٥ | -١٧٩.٥٩ | -٢٠١.٣٣ | -٢٠٤.٩٠ | -٧٣٧.٢٨ | -١٧٠.٠٩ | -٦١.١١ | -١٥٦.٢٤ | -١٢٨.٠٥ | -٥١٥.٤٨ | -٣٠٪ |
| کریډټ | ٩٨.٦٤ | ۱۰۶.۳۷ | ۸۳.۳۰ | ۷۵.۴۲ | ۳۶۳.۷۴ | ۱۴۸.۰۳ | ۲۱۷.۴۰ | ۱۷۶.۱۶ | ۱۴۳.۳۲ | ۶۸۴.۹۲ | ٨٨٪ |
| ډبټ | ٢٥٠.١٠ | ۲۸۵.۹۷ | ۲۸۴.۶۳ | ۲۸۰.۳۲ | ۱۱۰۱.۰۲ | ۳۱۸.۱۲ | ۲۷۸.۵۱ | ۳۳۲.۴۰ | ۲۷۱.۳۷ | ۱٬۲۰۰.۴۰ | ٩٪ |
| د عوایدو لومړنی حساب | ١٩.٠٢ | ٣٦.٢٤ | ٢١.٣٩ | ٧٦.٨٠ | ١٥٣.٤٥ | ٢٤.٨٣ | ٥٤.٠٠ | ٩٨.٥٤ | ٤٤.٣٢ | ٢٢١.٦٩ | ٤٤٪ |
| کریډټ | ٣٣.٩٨ | ۴۸.۵۰ | ۳۲.۹۱ | ۸۹.۱۴ | ۲۰۴.۵۳ | ۳۵.۲۷ | ۶۵.۵۳ | ۱۰۹.۲۳ | ۶۷.۴۵ | ۲۷۷.۴۷ | ٣٦٪ |
| ډبټ | ١٤.٩٦ | ۱۲.۲۷ | ۱۱.۵۲ | ۱۲.۳۴ | ۵۱.۰۸ | ۱۰.۴۵ | ۱۱.۵۲ | ۱۰.۶۹ | ۲۳.۱۲ | ۵۵.۷۸ | ٩٪ |
| د عوایدو ثانوي حساب | ٥٣٣.١١ | ٥١٥.٣٠ | ٨٠٧.٨٣ | ٨٢٢.١٨ | ٢٬٦٧٨.٤٣ | ٥٤٢.٦٧ | ٦٦٤.٤٦ | ٥٥٤.٧٤ | ٥٠٠.٧١ | ٢٬٢٦٢.٥٧ | -١٦٪ |
| کریډټ | ٥٧٠.٢٩ | ۵۳۷.۵۵ | ۸۲۶.۴۷ | ۸۳۹.۵۸ | ۲٬۷۷۳.۸۹ | ۵۶۵.۲۳ | ۷۰۴.۰۰ | ۶۰۶.۴۶ | ۵۵۵.۸۵ | ۲٬۴۳۱.۵۳ | -١٢٪ |
| ډبټ | ٣٧.١٨ | ۲۲.۲۵ | ۱۸.۶۴ | ۱۷.۴۰ | ۹۵.۴۶ | ۲۲.۵۶ | ۳۹.۵۵ | ۵۱.۷۲ | ۵۵.۱۳ | ۱۶۸.۹۶ | ٧٧٪ |
| جاري لیږدوني | ٤٣٩.١٥ | ٤٢٨.٠٨ | ٦٦٥.٥١ | ٥٧٢.٣٩ | ٢٬١٠٥.١٢ | ٤٢٤.٠٨ | ٥٤٤.٣٥ | ٤١٨.٧٦ | ٣٨١.٠٥ | ١٬٧٦٨.٢٤ | -١٦٪ |
| کریډټ | ٤٣٩.١٥ | ۴۲۸.۰۸ | ۶۶۵.۵۱ | ۵۷۲.۳۹ | ۲٬۱۰۵.۱۲ | ۴۲۴.۰۸ | ۵۴۴.۳۵ | ۴۱۸.۷۶ | ۳۸۱.۰۵ | ۱٬۷۶۸.۲۴ | -١٦٪ |
| ډبټ | ٠.٠٠ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | #DIV/٠! |
| د کارګرو رالیږل شوې پیسې | ٥٠.٤٠ | ٥٥.١٦ | ٧٦.٥٣ | ٨٦.٧٩ | ٢٦٨.٨٨ | ٩١.٩٢ | ٩٦.٦٠ | ٩٥.٤٢ | ٩٧.١٦ | ٣٨١.١٠ | ٤٢٪ |
| کریډټ | ٥٨.٤٩ | ۷۱.۸۱ | ۸۵.۳۸ | ۹۷.۰۲ | ۳۱۲.۷۰ | ۱۰۲.۹۴ | ۱۱۴.۳۶ | ۱۰۷.۵۵ | ۱۱۲.۰۸ | ۴۳۶.۹۴ | ٤٠٪ |
| ډبټ | ٨.٠٨ | ۱۶.۶۵ | ۸.۸۴ | ۱۰.۲۴ | ۴۳.۸۲ | ۱۱.۰۲ | ۱۷.۷۶ | ۱۲.۱۳ | ۱۴.۹۲ | ۵۵.۸۴ | ٢٧٪ |
| پانګه ایز او مالي حساب | ١٨٦.٢٠ | ٤٥٤.٦٧ | ٣٢٧.٩٢ | ٣٦٨.٦٢ | ١٬٣٣٧.٤١ | ١٦.٨٠ | ٢٢٦.٠٩ | ٢٧٦.٥٧ | ٤٧١.٣٠ | ٩٩٠.٧٥ | -٢٦٪ |
| پانګه ایز حساب | ٢٣٧.٥٦ | ٤٢٨.٢٠ | ٥٥٥.٧٢ | ٥٦٩.٢٩ | ١٧٩٠.٧٨ | ٦٢.٨٩ | ٢٢١.٣٨ | ٤٧٨.٧٢ | ٦٤١.٥٣ | ١٬٤٠٤.٥٣ | -٢٢٪ |
| کریډټ | ٢٣٧.٥٦ | ۴۲۸.۲۰ | ۵۵۵.۷۲ | ۵۶۹.۲۹ | ۱۷۹۰.۷۸ | ۶۲.۸۹ | ۲۲۱.۳۸ | ۴۷۸.۷۲ | ۶۴۴.۷۱ | ۱٬۴۰۷.۷۱ | -٢١٪ |
| ډبټ | ٠.٠٠ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۳.۱۸ | ۳.۱۸ | |
| پانګه ایزې لیږدوني | ٢٣٧.٥٦ | ٤٢٨.٢٠ | ٥٥٥.٧٢ | ٥٦٩.٢٩ | ١٬٧٩٠.٧٨ | ٦٢.٨٩ | ٢٢١.٣٨ | ٤٧٨.٧٢ | ٦٤٤.٧١ | ١٬٤٠٧.٧١ | -٢١٪ |
| کریډټ | ٢٣٧.٥٦ | ۴۲۸.۲۰ | ۵۵۵.۷۲ | ۵۶۹.۲۹ | ۱۷۹۰.۷۸ | ۶۲.۸۹ | ۲۲۱.۳۸ | ۴۷۸.۷۲ | ۶۴۴.۷۱ | ۱٬۴۰۷.۷۱ | -٢١٪ |
| ډبټ | ٠.٠٠ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | |
| مالي حساب | ٥١.٣٦ | -٢٦.٤٦ | ٢٢٧.٨٠ | ٢٠٠.٦٨ | ٤٥٣.٣٨ | ٤٦.٠٩ | -٤.٧٠ | ٢٠٢.١٦ | ١٧٠.٢٣ | ٤١٣.٧٨ | -٩٪ |
| مستقیمه پانګونه | -١١.١٩ | -٢٠.٤٤ | -١٦.٩٨ | -١٣.٧٣ | -٦٢.٣٣ | -٣١.٥٨ | -٤٠.٨٥ | -٣٦.٧٤ | -٢٩.٨٥ | -١٣٩.٠٢ | ١٢٣٪ |
| د مالي شتمنیو خالصه پیرنې | -٣.٠٩ | -۳.۲۷ | -۳.۵۹ | -۰.۸۴ | -۱۰.۸۰ | ۳.۷۸ | ۳.۷۸ | -۱۲.۳۶ | -۱۹.۱۱ | -۲۳.۹۰ | ١٢١٪ |
| د پوراینو خالصه مشمولیت | ٨.١٠ | ۱۷.۱۶ | ۱۳.۳۹ | ۱۲.۸۹ | ۵۱.۵۳ | ۳۵.۳۶ | ۴۴.۶۳ | ۲۴.۳۸ | ۱۰.۷۵ | ۱۱۵.۱۲ | ١٢٣٪ |
| د پورتو فولیو پانګونې | ٣٦.٦٢ | -٣٠.١٥ | -١١.٥٧ | -٢٤.٠١ | -٢٩.١١ | -٥٤.٠٢ | ١٨.٢٢ | ٢٤.٣٧ | ٣٤.٩٤ | ٢٣.٥١ | -١٨١٪ |
| د مالي شتمنیو خالصه پیرنې | ٣٦.٦٢ | -۳۰.۱۵ | -۱۱.۵۷ | -۲۴.۰۱ | -۲۹.۱۱ | -۵۴.۰۲ | ۱۸.۲۲ | ۲۴.۳۷ | ۳۴.۹۴ | ۲۳.۵۱ | -١٨١٪ |
| د پوراینو خالصه مشمولیت | ٠.٠٠ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | |
| نورې پانګې | ١٢.١٩ | ٢٥.٥٨ | -١٢٧.٩٣ | ٥٨.٦٧ | -٣١.٤٨ | ١٠٩.٥٨ | ٥٧.٥٣ | ١٠٢.٠٧ | ٩٢.٥٤ | ٣٦١.٧٣ | -١٢٤٩٪ |
| شتمنۍ | ٣٢.٩٨ | ۵.۳۶ | ۱۰۰.۲۹- | ۹۷.۸۷ | ۳۵.۹۲ | ۸۰.۴۷ | ۴۴.۹۶ | ۷۹.۳۲ | ۶۸.۵۹ | ۲۷۳.۳۴ | ٦٦١٪ |
| پوراینې | ٢٠.٧٩ | -۲۰.۲۳ | ۲۷.۶۴ | ۳۹.۲۰ | ۶۷.۴۰ | -۲۹.۱۱ | -۱۲.۵۷ | -۲۲.۷۵ | -۲۳.۹۵ | -۸۸.۳۹ | -٢٣١٪ |
| د شتمنیو زیرمې | ١٣.٧٣ | -١.٤٥ | ٣٨٤.٢٨ | ١٧٩.٧٤ | ٥٧٦.٢٩ | ٢٢.١١ | -٣٩.٦١ | ١١٢.٤٦ | ٧٢.٦٠ | ١٦٧.٥٦ | -٧١٪ |
| خالصه خطاګانې او تیروتنې | ٨٦٩.٢٣ | ٩٧٥.٦١ | ٤١٦.٢٨ | ٥٤٦.٧١ | ٢٨٠٧.٨٣ | ١٢٥٠.٢٧ | ٦١٦.٣١ | ٦١٣.٣٢ | ٥٨٥.١٣ | ٣٠٦٥.٠٣ | ٩٪ |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۲.۴ جدول: د توکو سوداګري، ۱۳۹۷ مالي کال (په میلیون امریکایي ډالر)

| کلونه | ۱۳۹۲ مالي کال | | ۱۳۹۳ مالي کال | | ۱۳۹۴ مالي کال | | ۱۳۹۵ مالي کال | | ۱۳۹۶ مالي کال | | ۱۳۹۷ مالي کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تولیزه | ونډه (سلنه) | تولیزه | ونډه (سلنه) | تولیزه | ونډه (سلنه) | تولیزه | ونډه (سلنه) | تولیزه | ونډه (سلنه) | تولیزه | ونډه (سلنه) |
| واردات | ۹،۳۳۹.۶۰ | ۱۰۰٪ | ۷،۲۹۴.۶۳ | ۱۰۰٪ | ۷،۶۷۹.۰۹ | ۱۰۰٪ | ۶،۶۷۲.۳۹ | ۱۰۰٪ | ۷،۴۴۸.۱۴ | ۱۰۰٪ | ۷،۴۰۶.۶۰ | ۱۰۰٪ |
| صنعتي مواد | ۱،۲۷۲.۱٤ | ۱۳.۶٪ | ۸۶۳.۱۹ | ۱۱.۸٪ | ۷۰۹.۱۹ | ۹.۲٪ | ۵۳۶.۴۷ | ۸.۰٪ | ۸۸۳.۲۷ | ۱۱.۹٪ | ۸۲۵.۶۸ | ۱۱.۱ ٪ |
| تیل او روغنیات | ۲،۱٦۷.۳۷ | ۲۳.۲٪ | ۱،۱۵۵.۹۴ | ۱۵.۸٪ | ۱،۶۸۸.۵۸ | ۲۲.۰٪ | ۱۰۷۸.۷۳ | ۱۶.۲٪ | ۸۷۷.۶۵ | ۱۱.۸٪ | ۹۴۹.۷۸ | ۱۲.۸٪ |
| مصرفي توکي | ۱،۹٤۲.۸۵ | ۲۱٪ | ۲،۳۴۵.۸۶ | ۳۲.۲٪ | ۱،۷۱۵.۲۵ | ۲۲.۳٪ | ۲۱۲۰.۴۴ | ۳۱.۸٪ | ۲۹۸۱.۴۶ | ۴۰.۰٪ | ۲۹۰۴.۲۳ | ۳۹.۲٪ |
| پانګه ایزه توکي او داسې نور | ۳،۹۵۷.۲٤ | ۴۲.۴٪ | ۲،۹۲۹.۶۴ | ۴۰.۲٪ | ۳،۵۶۶.۰۷ | ۴۶.۴٪ | ۲،۹۳۷ | ۴۴.۰٪ | ۲۷۰۵.۷۵ | ۳۶.۳٪ | ۲۷۲۶.۹۰ | ۳۷٪ |
| صادرات | ۴۹۹.۸۱ | ۱۰۰٪ | ٦۲۰.۸۸۰ | ۱۰۰.۰٪ | ۵۵۵.۷۱ | ۱۰۰٪ | ٦۱۳.۸۰ | ۱۰۰٪ | ۷۸۳.۹۳ | ۱۰۰٪ | ۸۷۵.۲٤ | ۱۰۰٪ |
| غالۍ او ټغرونه | ۸۵.٤۹ | ۱۷٪ | ۸۷.۰۴ | ۱۴.۰٪ | ۱۰۸.۳۱ | ۱۹.۵٪ | ۵۲.۵ | ۸.۶٪ | ۲۳.۷۴ | ۳٪ | ۲۲.۳۵ | ۳٪ |
| خوراکي توکي | ۱۷۵.۹۲ | ۳۵.۲٪ | ۲۷۲.۱۳ | ۴۳.۸٪ | ۲۱۰.۱۷ | ۳۷.۸٪ | ۲۶۹.۹۱ | ۴۴.۰٪ | ۴۴۱.۵۱ | ۵۶٪ | ۴۱۷.۶۹ | ۴۸٪ |
| څرمن او وړۍ | ۵۹.۵٤ | ۱۲٪ | ۴۹.۳۵ | ۷.۹٪ | ۲۸.۴۷ | ۵.۱٪ | ۵۵.۰۰ | ۹.۰٪ | ۲۳.۱۳ | ۳.۰٪ | ۴۲.۳۲ | ۴.۸٪ |
| طبي بذرونه او نور | ۱۷۸.۸٦ | ۳۶٪ | ۲۱۲.۳۶ | ۳۴.۲٪ | ۲۰۸.۷۶ | ۳۷.۶٪ | ۲۳۶.۳۸ | ۳۸.۵٪ | ۲۹۵.۵۵ | ۳۷.۷٪ | ۳۹۲.۸۸ | ۴.۹٪ |
| سوداګریز بیلانس | -۸،۸۳۹.۷۹ | | -٦،٦۷۳.۷۵ | | -۷،۱۲۳.۳۸ | | -٦،۰۵۸.۵۸ | | -٦،٦٦٤.۲۱ | | -٦،۵۳۱.۳٦ | |

## ۳.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورۍ، ۱۳۹۷ مالي کال (په میلیون امریکایي ډالر)

| د هیواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | ۳۷۸.۲٤ | ٤۳٪ | ۱،۰۸٦.۸٦ | ۱٤.٦۷ ٪ | -۷۰۸.٦۲ |
| هند | ۳۵۹.٤٤ | ۴۱٪ | ۳۵۴.۲۸ | ۴.۷۸٪ | ۵.۱۶ |
| ایران | ۱۹.۵۱ | ۲٪ | ۱،۲۶۴.۱۸ | ۱۷.۰۷٪ | -۱،۲۴۴.۶۷ |
| جرمني | ٥.۳٤ | ۰.۶۱٪ | ۶۵.۵۶ | ۰.۸۹٪ | -۶۰.۲۲ |
| چین | ۲۸.٤۱ | ۳.۲۵٪ | ۱،۱۶۵.۹۴ | ۱۵.۷ ٪ | -۱،۱۳۷.۵۳ |
| ترکیه | | ۰.۰۰٪ | ۴۵.۴۱ | ۰.۶ ٪ | -۴۵.۴۱ |
| انګلستان | | ۰.۰۰٪ | ۴.۶۶ | ۰.۰۶ ٪ | -۴.۶۶ |
| سعودي عربستان | ٦.٦۰ | ۰.۷۵٪ | ۵۸.۴۶ | ۰.۷۹٪ | -۵۱.۸۵ |
| د امریکا متحده ایالات | | ۰.۰۰٪ | ۵۵.۰۳ | ۰.۷۴٪ | -۵۵.۰۳ |
| د ګډو ګټو خپلواک هیوادونه | ۱۲.٦۷ | ۱.۴۵٪ | ۱،۹۸۳.۵۹ | ۲۶.۷۸٪ | -۱،۹۷۰.۹۲ |
| جاپان | | ۰.۰۰٪ | ۴۱۴.۰۲ | ۵.۵۹٪ | -۴۱۴.۰۲ |
| نور هیوادونه | ٦٥.۰۳ | ۷.۴۳ ٪ | ۹۰۸.۶۲ | ۱۲.۲۷٪ | -۸۴۳.۵۹ |
| تولیزه | ۸۷۵.۲۴ | ۱۰۰٪ | ۷،٤۰٦.٦۰ | ۱۰۰٪ | (٦،۵۳۱.۳٦) |

## ۴.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لورى، ۱۳۹۶ مالي کال (په میلیون امریکایي ډالر)

| د هیواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | **۲۹۹.۳۵** | **۳۸٪** | **۱،۲۲٦.۷۷** | **١٦.٤٧٪** | **– ۹۲۷.٤۲** |
| هند | **۳۳۷.۵۰** | ۴۳٪ | ۲۳۵.۴۸ | ۳.۱۶٪ | ۱۰۲.۰۲ |
| ایران | **۲۸.۹٦** | ۴٪ | ۱۲۲۰.۵۷ | ۱۶.۳۹٪ | –۱۱۹۱.۶۱ |
| جرمني | **۱۰.۳۳** | ۱.۳۲٪ | ۴۹.۳۶ | ۰.۶۶٪ | – ۳۹.۰۳ |
| د ګډو ګټو خپلواک هیوادونه | **۲۰.۰۱** | ۲.۵۵٪ | ۲،۰۳۹.۵۰ | ۲۷.۳۸٪ | – ۲۰۱۹.۴۹ |
| چین | **۹.۷۱** | ۱.۲۴٪ | ۱،۱۴۵.۷۳ | ۱۵.۳۸٪ | –۱۱۳۶.۰۲ |
| ترکیه | | ۰.۰۰٪ | | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰ |
| سعودي عربستان | **۳.۹۵** | ۰.۵۰٪ | | ۰.۰۰٪ | ۳.۹۵ |
| جاپان | | ۰.۰۰٪ | ۳۵۹.۲۴ | ۴.۸۲٪ | –۳۵۹.۲۴ |
| انګلستان | | ۰.۰۰٪ | ۸.۱۳ | ۰.۱۱٪ | – ۸.۱۳ |
| امریکا متحده ایالات | | ۰.۰۰٪ | ۶۳.۸۵ | ۰.۸۶٪ | – ۶۳.۸۵ |
| نور هیوادونه | **۷٤.۱۲** | ۹.۴۵٪ | ۱۰۹۹.۵۱ | ۱۴.۷۶٪ | –۱۰۲۵.۳۹ |
| ټولیزه | ۷۸۳.۹۳ | **۱۰۰.۰۰٪** | **۷،٤٤٨.١٤** | **۱۰۰.۰۰٪** | **–٦،٦٦٤.۲۱** |

## ۵.۴ جدول: بهرنۍ پورراینې، ۱۳۹۷ مالي کال (په ټاکل شویو واحدونو کې)

| | په ملیون ډالر | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|
| ټولیزه بهرنۍ پورراینې | ۲،۱۰۲.۱۹ | ۱۰۰.۰۰ |
| دوه اړخیزه | **۹۹۰.۲٦** | ۴۷.۱۱ |
| پاریس کلب | **۸۸۹.٤۰** | ۴۲.۳۱ |
| د روسیې فدراسیون | **۸۸۹.٤۰** | ۴۲.۳۱ |
| امریکا متحده ایالات | – | ۰.۰۰ |
| جرمني | – | ۰.۰۰ |
| د پاریس کلب پرته | **۱۰۰.۸٦** | ۴.۸۰ |
| څو اړخیزه | **۱،۱۱۱.۹۳** | ۵۲.۸۹ |
| د پراختیا نړیواله ټولنه (نړیوال بانک) | **۳٤٦.۹۵** | ۱۶.۵۰ |
| آسیا پراختیایي بانک | **٦٤۹.۹۱** | ۳۰.۹۲ |
| د پیسو نړیوال صندوق | **٦۸.۲۰** | ۳.۲۴ |
| اسلامي پراختیایي بانک | **٤٥.۲۱** | ۲.۱۵ |
| د اوپیک صندوق | **۱.٦۷** | ۰.۰۸ |

## ۶.۴ جدول: خالصه نړیوالې زیرمې ( په میلیون امریکایي ډالر)

| په تیره ربعه کې بدلونونه | ۱۳۹۳ مالي کال | د بدلون سلنه | ۱۳۹۴ مالي کال | د بدلون سلنه | ۱۳۹۵ مالي کال | د بدلون سلنه | ۱۳۹۶ مالي کال | د بدلون سلنه | ۱۳۹۷ مالي کال | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیوالې زیرمې (په ملیون امریکایي ډالر) | ۶،۶۹۳.۶۵ | **۲۳.۲۲** | ۶،۳۴۳.۳۶ | **– ۵.۲۳** | ۶،۷۷۷.۸۷ | **٦.٨٥** | ۷،۳۴۵.۳۶ | **۸.۳۷** | ۷،۷۰۴.۹۸ | **٤.٩** |
| د شتمنی زیرمې | **٧،٢٤٧.٧٦** | ۲۲.۷۱ | ۶،۹۲۷.۹۴ | ۴.۴۱– | ۷،۵۸۱.۹۸ | ۹.۴۴ | ۸،۱۵۹.۰۱ | ۷.۶ | ۸،۳۶۲.۴۲ | ۲.۵ |
| د پوراینې زیرمې | **٥٥٤.١٢** | ۱۰.۹۱ | ۵۸۴.۵۸ | ۵.۵۰ | ۸۰۴.۱۱ | ۳۷.۵۵ | ۸۱۳.۶۵ | ۱ | ۶۵۷.۴۴ | ۱۹.۲ – |
| **په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه** | **٤٤٣.٨٠** | ۴.۰۰ | ۴۹۸.۲۷ | ۱۲.۲۷ | ۷۳۲.۶۶ | ۴۷.۰۴ | ۷۵۰.۶۶ | ۲ | ۵۹۸.۰۸ | ۲۰.۳– |
| **په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانتونه** | **٠.١٤** | – ۸۹.۵۷ | ۰.۱۴ | ۰.۰۱ | ۰.۱۴ | ۰.۰۰ | ۰.۱۴ | ۰.۰۴– | ۰.۱۴ | ۱.۳ |
| **له تمویلي سرچینو څخه ګټه اخیستنه** | **١١٠.١٨** | ۱۷.۵۳ | ۸۶.۱۷ | ۲۱.۷۹– | ۷۱.۳۱ | ۱۷.۲۴– | ۶۲.۸۵ | ۱۲– | ۵۹.۲۲ | ۵.۸ – |
| نا خالصه نړیوالې زیرمې (د وارداتو د میاشتې په اساس) | ۹.۳۱ | | **١١.٤٠** | | **١١.٨٥** | | **١٤.٦٧** | | **١٣.٤٧** | |
| خالصه نړیوالې زیرمې (د وارداتو د میاشتې په اساس) | ۹ | | **۱۰** | | **۱۱** | | **۱۳** | | **۱۲** | |

سرچینه: د احصائیې او معلوماتو ملي اداره، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

# ۵

# د مالي سکتور بدلونونه

# ۵

# د مالي سکتور بدلونونه

د مالیاتي سکتور بنسټیزې موخې د عوایدو د راټولېدو زیاتوالی او د هغو کړنو پر له پسې پوښښ رانغاړي چې د عملیاتي او پراختیایي لګښتونو له لارې تأمینیږي او په ورته وخت کې د دې برخې موخه د افغانستان د سولې او د پراختیا له ملي اړانې (ANPDF) سره سم د لګښتونو له تخصیص څخه د ډاډ ترلاسه کول دي.


سربېره پر دې، د عامه لګښتونو د ودې مدیریت، د مالي پالیسۍ جوړول، په عامه تشبثاتو کې اغیزناکتیا، د مالیې او ګمرکونو اداره کول د دې سکتور نورې موخې ګڼل کیږي.

د غوړیدو او پرمختګ په حال کې هېوادونو په شان افغانستان هم په دوامداره توګه د بودجې له کسر سره مخ هېواد دی.

همدا ډول ټولیزه اصلي لګښتونه چې د ټولیزه کورنیو عوایدو په پرتله ډېر دي، په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۹۴.۶۷ میلیارده افغانۍ کسر ښکاره کوي، حال دا چې د نورو عوایدو له ډلې بسپنو په پرتلیزه توګه ۱۳.۶۱ میلیارده افغانۍ د بودجې ډېریدنه ثبت کړې ده چې اصلي لاملونه یې په مالیې او ګمرکي عوایدو لکه؛ عایداتي مالیاتو، ثابتو مالیاتو، د توکو د پلور او خدمتونو عوایدو، استخراجي صنعت، د پانګه ایزې شتمنۍ عوایدو او متفرقه عوایدو کې زیاتوالی او په غیر مالیاتي عوایدو کې لوی توپیر ګڼل کیږي. د دې ترڅنګ ټولیزه کورني عواید په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۸۹.۸۴میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۱۶۹.۶۸ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۲۰.۴۶ میلیارده افغانۍ یا ۱۲.۰۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې، ټولیزه اصلي لګښتونه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۳۸۴.۵۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۳۵۶.۶۳ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲۷.۸۸ میلیارده افغانۍ یا ۷.۸۲ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي چې عمده لامل یې د کارکوونکو او د پانګې په لګښتونو او همدا ډول د مالي مرستو، بسپنو او د تقاعد په لګښتونو کې زیاتوالی ګڼل کیږي.

**۱.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو، لګښتونو، بودجې او بسپنو پرتله، ۱۳۹۶ مالي کال – ۱۳۹۷ مالي کال**




سرچینه: د مالیې وزارت / د پولي سیاست لوی آمریت د کارکوونکو محاسبه

له بلې خوا، د بسپنه ورکوونکو مالي مرستې (بسپنو) عملیاتي او پراختیایي لګښتونه تر پوښښ لاندې نیسي. د بسپنه ورکوونکو ټولیزه بسپنې چې عملیاتي او پراختیایي برخو ته ځانګړې شوې دي، په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۲۹.۷۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ورته مودې د ۱۹۶.۴۷ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۳۳.۳۲ میلیارده افغانۍ یا ۱۷ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د مهمو بسپنه ورکوونکو لکه د افغانستان د بیا رغونې لپاره د پیسو صندوق (ARTF)، د افغانستان د قانون او نظم لپاره د پیسو صندوق(LOTFA) او د امنیت د لیږد لپاره د ګډو ځواکونو قوماندانۍ( CSTC-A )، نړیوال بانک، اسیا پراختیایي بانک او نورو لخوا په کلنۍ ژمنې او د بسپنه ورکوونکو د مبلغ په ورکړه کې بدلون ګڼل کیږي.

سربېره پر دې، ټولیزه اصلي بودجه په ۱۳۹۷ مالي کې ۳۷۷.۱۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ورته مودې د ۴۲۹.۴۱ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۵۲.۲۲ میلیارده افغانۍ یا ۱۲ سلنه کموالی ښکاره کوي.


په ورته وخت کې، ټولیزه عملیاتي بودجه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۶۶.۱۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲۶۸.۴۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۰.۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.

همدا ډول، پراختیایي بودجه چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۱۱.۰۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي، د تېر کال د ورته مودې د ۱۶۱.۰۰ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳۱ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د مالي مرستو (بسپنو) ټیټه کچه او په پرتلیزه توګه د ۱۳۹۷ مالي کال لپاره د بودجې په تخصیص کې کموالی ګڼل کیږي.

### ۱.۵. د بودجې د اجراء نرخ

د ۱۳۹۶ مالي کال د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې دولت د ۳۷۷.۱۹ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې بودجې ۷۷ سلنه په لګښت رسولې، حال دا چې دولت د ۱۳۹۶ مالي کال کې له ۴۲۹.۴۱ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې بودجې څخه ۸۳ سلنه بودجه مصرف کړې وه چې په ټولیزه توګه د بودجې د اجراء په نرخ کې ۱۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. د بودجې د اجراء په نرخ کې د کمېدو اصلي لاملونه په خپل وخت د تدارکاتو د ملي اداري لخوا د لګښتونو (مخارجو) د پروسې د مراحلو نه ترسره کول او تصویب، په ولایتونو کې امنیتي وضعیت او د بودجې د اړوندو ادارو لخوا په چټکه توګه د کړنو نه ترسره کول ګڼل کیږي.


۲.۵ ګراف: د ۱۳۹۶ او ۱۳۹۷ مالي کلونو د ټولیزې بودجې پرتله




سرچینه: د مالیې وزارت / د پولي سیاست لوی آمریت د کارکوونکو محاسبه

د عملیاتي بودجې د اجراء نرخ په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۷۸ سلنې ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۹۲ سلنې په پرتله ۱۳.۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. همدا ډول د پراختیایي بودجې د اجراء د نرخ سلنه د ۱۳۹۶ مالي کال د ۶۷ سلنې او د ۱۳۹۵ مالي کال د ۷۳.۲ سلنې په پرتله په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۷.۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

۳.۵ ګراف: د ۱۳۹۶ او ۱۳۹۷ مالي کلونو د عملیاتي او پراختیایي بودجې د اجراء د نرخ پرتله




سرچینه: د مالیې وزارت / د پولي سیاست لوی آمریت د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۵. د اصلي بودجې (کسر او ډېریدنه)

د بسپنه ورکوونکو له مرستو مخکې د ټولیزې بودجې کسر په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۹۴.۶۷ میلیارده افغانۍ ته رسیده چې د تېر کال د ورته مودې د ۱۸۷.۲۵ میلیارده افغانۍ کسر په پرتله ۷.۴۲ میلیارده افغانۍ یا ۳.۹۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کاوه. په ورته وخت کې بهرنۍ تمویلي سرچینې له ۱۸۲.۴۶ میلیارده افغانۍ څخه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۰۸.۲۸ میلیارده افغانۍ ته لوړې شوې دي. د دې ترڅنګ، ټولیزه بهرنۍ پلان شوې کلنۍ تمویلي سرچینې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۹۱.۲۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۲۵۸.۸۰ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲۶.۰۹ سلنه کموالی په ګوته کوي چې د دې ټولیزه تمویلي سرچینې د کمېدو بنسټیز لامل په ټوله کې د بسپنه ورکوونکو لخوا په کلنۍ ډول د ژمنو او ادائنو کموالی ګڼل کیږي.

**۴.۵ ګراف: د اصلي بودجې کسر او ډېریدنه (د بسپنو په ګډون او له بسپنو پرته**




سرچینه: د مالیې وزارت / د پولي سیاست لوی آمریت د کارکوونکو محاسبه


### ۳.۵ د عوایدو راټولول

د بسپنو په ګډون ټولیزه عواید د ۱۳۹۷ مالي کال د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې ۳۹۸.۱۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ورته مودې د ۳۵۱.۸۴ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۴۶.۲۸ میلیارده یا ۱۳.۲ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

د پلان شویو کورنیو سرچینو کلنی راټولیدنې په یاده موده کې ۱۶۱.۶۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې د ۱۶۰.۵۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱.۰۶ میلیارده افغانۍ یا ۰.۶۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.


سربېره پر دې، د ۱۳۹۷ مالي کال د بودجې د کسر په له منځه وړلو او د ټولیزه عوایدو په راټولولو کې ټولیزه کورنیو عوایدو او د بسپنه ورکوونکو مرستو د پام وړ رول لوبولی څو د هېواد کلنی بودجه ډېره کړي.

**۵.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ونډه، ۱۳۹۶ – ۱۳۹۷ مالي کال**




همدا ډول په ۱۳۹۷ مالي کال کې د عوایدو په زیاتیدو کې د مثبت بهیر بنسټیز لاملونه په عایداتي مالیاتو، د پلور په مالیاتو، د توکو په پلور او خدمتونو او استخراجي صنعت کې د پام وړ زیاتوالی ګڼل کیږي. حال دا چې په اداري فیسونو، د امتیاز په حقونو او د پانګه ایزو شتمنیو په عوایدو او متفرقه عوایدو کې کموالی راغلی دی او په ټولنیزو مرستو او د عوایدو په نورو سرچینو کې هم د پام وړ بدلون راغلی دی.

**۶.۵ ګراف: په ۱۳۹۷ مالي کال کې د ټولیزه عوایدو ونډه**





سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست آمریت د کارکوونکو محاسبه

### ۱.۳.۵ کورني عواید

د کورنیو عوایدو د راټولیدو ټولیزه کړنې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ښې شوي دي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ورته مودې په پرتله د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي، حال دا چې دا اقدامات په ۱۳۹۷ مالي کال کې د دولت لخوا د کورني ناخالصه تولیداتو د کسر د کمولو لپاره کافي ګڼل کیږي. د کورنیو عوایدو په راټولېدو کې د بدلونونو اصلي لاملونه له ګمرکي محصول، د عوایدو مالیو، اداري فیسونو، د خرڅلاو مالیو، د پانګه ایزو شتمنیو عوایدو، د توکو د خرڅلاو او خدمتونو، استخراجي صنعت څخه په زیاته کچه ترلاسه شوي عواید او په متفرقه عوایدو کې د پام وړ بدلون په ګوته شوي دي. له بلې خوا، ټولیزه کورني عواید په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۸۹.۸۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۱۶۹.۳۸ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۲۰.۴۶ میلیارده افغانۍ یا ۱۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.


**۷.۵ گراف: د ټولیزه کورنیو عوایدو پرتله، ۱۳۹۶ – ۱۳۹۷ مالي کال**




سرچینه: د مالیې وزارت / د پولي سیاست د آمریت د کارکوونکو محاسبه

د دې ترڅنګ، د ټولیزه عوایدو د راټولېدو ډله بندي ښکاره کوي چې د ټولیزه عوایدو بېلابېلو اجزاوو لکه؛ مالیاتي او غیر مالیاتي جریمې او د شکمنو سرچینو جریمې او عواید په ۱۳۹۷ مالي کالي کې د ۲۷.۲۴ سلنه کموالي په درلودلو سره د تېر کال له ۲.۷۰ میلیارده افغانۍ څخه ۱.۹۶ میلیارده افغانۍ، غیر مالیاتي جریمې د ۱۱.۹۰ سلنه کموالي په درلودلو سره له ۰.۷۷ میلیارده افغانۍ څخه ۰.۴۳ میلیارده افغانۍ او د شکمنو سرچینو جریمې او عواید د ۵.۷۵ سلنه کموالي په درلودلو سره له ۲.۷۸ میلیارده افغانۍ څخه ۲.۶۲ میلیارده افغانۍ ته راټیټ شوي دي.

**۸.۵ ګراف: عمده کورني عواید، ۱۳۹۷ مالي کال**





سرچینه: د مالیې وزارت / د پولي سیاست د آمریت محاسبه

### ۲.۳.۵. غیر مالیاتي عواید

غیر مالیاتي عواید چې د کورنیو عوایدو عمده برخه جوړوي، په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۷۷.۱۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۶۵.۶۷ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۱۷ سلنه یا ۱۲.۵۷ میلیارده افغانۍ د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د کورنیو عوایدو د زیاتېدو اصلي لامل د پانګه ایزو شتمنیو، د توکو او خدمتونو د خرڅلاو، اداري فیسونو، د تقاعد د ونډې او د متفرقه عوایدو د پام وړ زیاتوالی ګڼل کیږي.

۹.۵ ګراف: د ټولیزه غیر مالیاتي عوایدو د عمده اجزاوو پرتله




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د آمریت محاسبه


د غیر مالیاتي عوایدو تر ټولو ستره برخه د تقاعد ونډه جوړوي چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۵.۴۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۴.۶۳ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۸.۶۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د توکو خرڅلاو او خدمتونه د تیر کال له ۷.۹۲ میلیارده افغانۍ څخه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۹.۳ میلیارده افغانۍ ته راکم شوي دي چې ۱۷.۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې د پانګه ایزې شتمنۍ عواید بیا د ۳۲.۸۹ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۲.۲۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۱.۸۳ میلیارده افغانۍ په پرتله د پام وړ زیاتوالی

ښکاره کوي. همدا ډول، متفرقه عواید د ۱۳۹۶ مالي کال له ۲۰.۲۲ میلیارده افغانۍ څخه په ۱۳۹۷ مالي کال کې منفي ۲۵.۵۰ میلیارده افغانۍ ته زیات شوي دي.

### ۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې

د بسپنه ورکوونکي مرستې د ملي بودجې مهمه برخه جوړوي چې دا بسپنې په دواړو عملیاتي او پراختیایي بودجو کې عمده لګښتونه تمویلوي. همدا ډول د افغانستان حکومت له بېلابېلو بسپنه ورکوونکو، د پیسو له صندوقونو او نړیواله کمپټو څخه د یو لړ پروګرامونو د عملیاتي او پرمختیایي لګښتونو د تمویل په موخه مالي مرستې او کله کله پورونه ترلاسه کوي. سربېره پر دې مالي ټینګښت هغه ته وایي چې ټولیزه کورني لګښتونه د ټولیزه کورني عوایدو له لارې تمویل شي، حال دا چې د افغانستان کورني لګښتونه د بهرنیو مالي مرستو، بهرنیو پورونو او کورنیو عوایدو له لارې تمویلیږي.


**۱۰.۵ ګراف: د ۱۳۹۶ او ۱۳۹۷ مالي کلونو د ټولیزه کلنی بسپنو شننه**




سرچینه: د مالیې وزارت / د پولي سیاست د آمریت د کارکونکو محاسبه

له بلې خوا، ټولیزه پراختیایي او عملیاتي بسپنې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۲۹.۷۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۱۹۶.۴۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳۳.۳۲ میلیارده افغانۍ د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.


**۱۱.۵ ګراف: په ۱۳۹۷ مالي کال کې د بسپنه ورکوونکو د مرستو اجزاوې**




سرچینه: د مالیې وزارت / د پولي سیاست لوی آمریت د کارکوونکو محاسبه

د عملیاتي او پراختیایي لګښتونو د مرسته کوونکو تر ټولو ستره برخه د افغانستان د قانون او نظم لپاره د پیسو صندوق (LOTFA) لخوا بسپنې جوړوي چې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۵.۰۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ورته مودې د ۲۷.۱۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۸ سلنه کموالی ښکاره کوي او د امنیت د لیږد لپاره د ګډو ځواکونو د قوماندانۍ-د فاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او ناټو مالي مرستې په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۵۹.۵۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېر کال د ۴۸.۴۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲۲ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

**۱۲.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د مرستو پرتله، ۱۳۹۷ مالي کال ربعه**




سرچینه: د مالیې وزارت /د پولي سیاست د کارکوونکو محاسبه

اصلي لګښتونه په پراختیایي او عادي لګښتونو ډله بندي شوي چې د اتو بېلابېلو سکتورونو لکه؛ امنیتي، دولتي، ښوونې او روزنې، روغتیا، کرنې، ټولنیزه خوندیتوب، بیخ بنسټونو او د اقتصادي مدیریت لپاره ځانګړي شوي دي. همدا ډول دا


لګښتونه د سکتور دواړو برخو یعنې عملیاتي او پراختیایي بودجو لپاره ځانګړي شوي، حال دا چې د بیخ بنسټونو، د اقتصاد د مدیریت او د کرنې د سکتورونو لګښتونو زیاتوالی موندلی او د افغانستان د پراختیا د ملي ستراتیژۍ د لومړیتوبونو له مخې ترسره شوي دي. سربېره پر دې، ټولیزه اصلي لګښتونه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۳۸۴.۵۲ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تېر کال د ۳۵۶.۶۳ میلیارده افغانۍ په پرتله په ټولیزه پراختیایي او عملیاتي لګښتونو کې ۲۷.۸۸ میلیارده افغانۍ یا ۷.۸ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي. په اصلي لګښتونو کې د زیاتېدو اصلي لاملونه د کارکوونکو په معاشونو، د بسپنه ورکوونکو په مرستو، تقاعد او پانګه ایزو لګښتونو کې زیاتوالی ګڼل کیږي.

**۵.۵. لګښتونه**

همدا ډول عملیاتي لګښتونه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۸۵.۰۲ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د ۱۳۹۶ مالي کال د ۲۵۳.۰۹ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱.۹۵ سلنه یا ۴.۹۳ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې پراختیایي لګښتونه د ۲۲.۱۶ سلنه یا ۲۲.۹۵ میلیارده افغانۍ د پام وړ زیاتوالي په درلودلو سره د ۱۳۹۶ مالي کال له ۱۰۳.۵۴ میلیارده افغانۍ څخه په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۱۲۶.۴۹ میلیارده افغانۍ ته لوړ شوي دي. په ټولیزه لګښتونو کې تر ټولو کم زیاتوالی په کلنی پراختیایي بودجه او په کلني اصلي لګښتونو کې راغلی دی.

۱۳.۵ ګراف: د ټولیزه لګښتونو پرتله، ۱۳۹۶ مالي ـ ۱۳۹۷ مالي کال




سرچینه: د مالیې وزارت / د پولي سیاست آمریت محاسبه

# ۶

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

# ۶
# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د بانکي نظام بنسټیزو مالي شاخصونو د تېر کال په پرتله په ۱۳۹۷ مالي کال کې تر یوې کچې زیاتوالی ښکاره کړی چې د دې زیاتوالي لویه برخه د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ کسر په ګوته شوی دی. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو، خالصو پورونو، د اسعارو د مبادلې نرخ د نوسانونو پرته د امانتونو او ګټورتیا د زیاتېدو اصلي لاملونه د عوایدو او امانتونو زیاتېدل او ګټې په ګوته شوي دي. همدا ډول سیالیت په کافي حد کې پاتې دی، خو بانکي نظام لا هم د شتمنیو د ټیټ کیفیت له امله له ستونزو سره مخ دی.

- د بانکي نظام شتمنۍ د تېر کال د ۵.۳ سلنه ثبت شوې ودې په پرتله د ۲۰۱۸ مالي کال د ډسمبر تر پایه پورې ۰.۲۰ سلنه وده ښکاره کوي. د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۳۱۷.۱۶ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې اصلي لامل يې د بانکونو ترمنځ طلباتو، پانګونو، خالصو پورونو، نورو شتمنیو، ثابتو شتمنیو او د نالمموسو شتمنیو زیاتوالی ګڼل کېږي. که څه هم د افغانستان بانک په خزانه کې نغدو پیسو او طلباتو د کال په اوږدو کې کموالی موندلی دی.
- د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورتوفولیو په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۴۱.۴۳ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تېرې دورې د ۱.۳۱ سلنه زیاتوالي په پرتله ۰.۸۷ سلنه کموالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو د زیاتېدو اصلي لاملونه د پورونو حذفول، د پورونو تصفیه کول او د یوه خصوصي بانک د ملکیت ترلاسه کول ګڼل کېږي، حال دا چې په زیرمو کې له زیاتوالي وروسته خالص پورونو هم زیاتوالی موندلی دی.
- امانتونه د بانکي نظام د مهمې تمویلي سرچینې په توګه د بانکونو ترمنځ امانتونه او د مشتریانو امانتونه رانغاړي، په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۷۳.۷۸ میلیارده افغانۍ ته رسېږي او د ټولیزه پوراینو په سلو کې ۹۶.۹۶ جوړوي. بانکونه په دې توانیدلي څو د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې اضافي امانتونه تنظیم کړي، په داسې حال کې چې د ۳.۴۸ میلیارده افغانۍ یا ۱.۲۸ سلنه زیاتوالي لویه برخه د اسعارو د مبادلې نرخ له نوسانونو څخه ترلاسه کېږي. همدا ډول ټولیزه امانتونه ۵.۱۰ میلیارده افغانۍ د بانکونو ترمنځ امانتونه او ۲۶۸.۶۸ میلیارده افغانۍ د مشتریاتو امانتونه رانغاړي. د بانکي نظام د امانتونو د زیاتېدو اصلي لامل د مشتریانو د امانتونو، په تېره بیا د جاري او موده ایزو امانتونو زیاتوالی ګڼل کېږي، حال دا چې د بانکونو ترمنځ امانتونه د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې راکم شوي دي. د بانکي نظام ډېری امانتونه په امریکایي ډالرو (۶۴.۰۴ سلنه) او وروسته افغانۍ امانتونه (۲۹.۳۸ سلنه) دي. د بانکي نظام افغانۍ امانتونو د ۲۰۱۷ کال د ډسمبر د ۱۴.۱۸ سلنه زیاتوالي په پرتله ۱۰.۶۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د امریکایي ډالرو امانتونه د ۲۰۱۷ کال د ډسمبر د ۰.۵۴ سلنه زیاتوالي پر وړاندې ۹.۰۰ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.
- د بانکي نظام پانګې د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې پیاوړی وضعیت درلوده چې د ۴.۳۲ سلنې کموالي په درلودلو سره ۳۴.۳۹ میلیارده افغانۍ ته رسېږي. د بانکي نظام د پانګې د کمېدو اصلي لامل د پورونو وېش او د یوه خصوصي بانک د ملکیت اخیستل ګڼل کېږي. د یو

بانک د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت (CRA) لـه ټاکل شوي حد څخه ټيټ ثبت شوی دی. د خطر پر اساس عیاري شوې پانګې لپاره د بازل معیار ۸ سلنه دی. د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت (CRA) پـه ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲۶.۶۹ سلنه ثبت شوی دی.

- بانکي نظام په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۲.۴۳ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې چې د تېر کال د ۱.۷۷ میلیارده افغانۍ خالصې ګټې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کـوي. پـه ۱۳۹۷ مالي کال کې له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه (ROA) ۰.۸۰ سلنې او له پانګې (اکویټۍ) تـرلاسـه شـوې ګـټـه (ROE) ۶.۸۳ سلنې ته رسېږي. د بانکي نظام د ګټورتیا د زیاتېدو بنسټیز لامل لکه څنګه چې په ۶.۵ جـدول P/L کې لیدل کېږي، په غیر ټکټانه عوایدو کـې زیـاتـوالی ښودل شوی دی. په نورو لاملونو کې یې په غیر ټکټانه لګښتونو، د مالیاتو په لګښتونو او د پورونو په ورکړه کې کموالی رانغاړي. حال دا چې د معاشونو لګښتونـه او د خالصې ټکټانې عواید د کال په تېرېدو سره راکم شـوي دي. د یادونې وړ ده چې دولتي بـانـکـونـو، خصـوصـي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو ۱۳۹۷ مالي کال لـه ګټې سره پای ته رسولی دی.


**۱.۶ د بانکي نظام شتمنۍ**

د بانکي نظام شتمنۍ د ۲۰۱۷ کال د ډسمبر د ۵.۷۳ سـلـنـه زیاتوالي په پرتله د ارزونې لاندې مـوده کـې ۰.۲۰ سـلـنـه زیاتوالی کړی دی.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو اجزاء ښکاره کوي چې تر ټولو ښکاره زیاتېدنه تر ډېره د امریکایي ډالرو په حسابونو کـې د بانکونو ترمنځ په خالصه طلباتو کې (چې د ټولیزه شـتـمـنـیـو ۲۶.۲۷ میلیارده افغانۍ یا ۳۸.۴۷ سلنه جوړوي) ثـبـت شـوې ده؛ ورپسې په ترتیب سره پانګونې (۱.۴۹ میلیارده افغانـۍ یـا ۸.۴۰ سلنه)، نورې شتمنۍ (۱.۴۴ میلیارده افغانـۍ یـا ۱۱.۴۸ سلنه)، ثابتې شتمنۍ (۳۰۵ میلیونه افغانۍ یا ۳.۸۷ سـلـنـه)، نـا ملموسې شتمنۍ (۱۴۰ میلیونه افغانۍ یا ۱۷.۷۴ سلنه) او خالص پورونه (۱۰۹ میلیونه افغانۍ یا ۰.۲۹ سلنه) زیاتـې شـوې دي. حال دا چې د افغانستان بانک په خزانه کې نغـدو پـیـسـو او طلباتو او بیا ترلاسه شویو شتمنیو د ارزونې لاندې موده کـې ( په ترتیب سره ۲۹.۵۷ میلیارده افغانۍ یا ۱۷.۹۳ سلنـه او ۳۰ میلیونه افغانۍ یا ۱.۲۱ سلنه ) کموالی موندلی دی.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورټوفولیو مهمې بـرخـې پـه خزانه کې نغدې پیسې/ د افغانستان بانـك بـانـدې طـلـبـات (۴۲.۷۳ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۲۹.۸۵ سلنه)، خالصه پورونه (۱۱.۷۹ سلنـه)، پـانـګـونـې (۷.۹۳ سـلـنـه)، "نـورې شتمنۍ" (۴.۴۲ سلنه) او ثابتې شتمنۍ د ټولیزه شتمنـیـو ۲.۵۹ سلنه جوړوي. (د زیاتو معلوماتو لپاره ۱.۶ جدول ته مراجعـه وکړئ).

۱.۶ ګراف: په بانکي ګروپونو کې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ونډه




**سرچینه:** د مالي چارو د څارنې لوی آمریت


۱.۶ جدول: د شتمنیو او پوراینو ترکیب

| مبلغ په میلیون افغانی | ۱۳۹۷ غبرګولی/ ۲۰۱۸ جون | ۱۳۹۷ تله /۲۰۱۷ سپتمبر | د ټولیزه شتمنیو/پوراینو سلنه | وده |
|---|---|---|---|---|
| **شتمنی** | | | | |
| په خزانه کې نغدي پیسې او په افغانستان بانک باندې طلبات | ۱۶۴,۹۴۳ | ۱۳۵,۳۷۰ | ٤۲.۷۳ | **-۱۷.۹۳** |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | ۶۸,۲۸۴ | ۹۴,۵۵۸ | ۲۹.۸۵ | ۳۸.۴۷ |
| پانګوني (خالصې) | ۲۳,۱۶۳ | ۲۵,۱۱۰ | ۷.۹۳ | ۸.۴۰ |
| پورونه (خالصه) | ۳۷,۲۴۷ | ۳۷,۳۵۶ | ۱۱.۷۹ | ۰.۲۹ |
| نا ملموسه شتمنی | ۷۸۹ | ۹۲۹ | ۰.۲۹ | ۱۷.۷۴ |
| بېرته ترلاسه شوي شتمنی | ۱,۲۳۸ | ۱,۲۲۳ | ۰.۳۹ | -۱.۲۱ |
| ثابته شتمنی | ۷,۹۱۴ | ۸,۲۲۰ | ۲.۵۹ | ۳.۸۷ |
| نور | ۱۲,۵۵۹ | ۱۴,۰۰۱ | ۴.۴۲ | ۱۱.۴۸ |
| ټولیزه | ۳۱۶,۱۳۷ | ۳۱۶,۷۶۷ | | ۰.۲۰ |
| **پوراینې** | | | | |
| امانتونه | ۲۷۰,۳۰۴ | ۲۷۳,۷۸۷ | ۹۶.۹۶ | ۱.۲۸ |
| پور اخیستنې | ۳,۷۳۶ | ۳,۰۶۸ | ۱.۰۹ | -۱۷.۸۸ |
| نور | ۶,۱۴۸ | ۵,۵۱۷ | ۱.۹۵ | -۱۰.۲۶ |
| ټولیزه | ۲۸۰,۱۸۸ | ۲۸۲,۳۷۲ | | ۰.۷۸ |
| **مالي پانګه** | ۳۵,۹۴۹ | ۳۴,۳۹۵ | | -۴.۳۲ |

### ۱.۱.۶ ناخالصه پورونه

د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورټفولیو د ۱۳۹۷ مالي کال په پای کې ۴۱.۴۳ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د تېرې کال په پرتله ۳۶۶ میلیارده افغانی یا ۰.۸۷ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۳.۰۸سلنه جوړوي. د ټولیزه ناخالصه پورونو د زیاتیدو اصلي لاملونه د پورونو حذفول، د پورونو تصفیه کول، د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه او د یو خصوصي بانک د ملکیت ترلاسه کول او په امریکایي ډالرو حسابونو کې کموالی ګڼل کېږي.

۲.۶ ګراف: د ناخالصه پورونو په پورتفولیو کې د بانکي ګروپونو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د پور په پورتوفولیو کې زیاتوالی په شپږو بانکونو پورې تړاو لري، په داسې حال کې چې شپږو نورو بانکونو د خپل پور په پورتوفولیو کې کموالی او پاتې دریو بانکونو په پور ورکړه کې ونډه اخیستې نه ده.

د بانکي ګروپونو ترمنځ جلا شننه ښکاره کوي چې دولتي بانکونو د بانکي نظام د ټولیزه پورتوفولیو د ۱۰.۰۳ سلنې په درلودلو سره ۸.۴۸ سلنه او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو چې د بانکي نظام د ټولیزه پورتوفولیو ۱.۰۹ سلنه جوړوي، ۸.۶۷ سلنه وده کړې ده، حال دا چې خصوصي بانکونو په تېر کال کې د بانکي نظام په پورتوفولیو کې د ۸۸.۸۸ سلنې سترې ونډې په درلودلو سره ۱.۹۳ سلنه کموالی ثبت کړی دی.

### ۲.۱.۶ د پور د زیان زېرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه باید د خطر د کمولو د اړانې له مخې د اعتباري خطر د کمولو

ابزارونو ته پاملرنه وکړي. بانکونه اړ دي چې د دواړو عمومي زېرمو (معیاري شتمنیو) او د ځانګړي تدارکاتو (غیر معیاري شتمنیو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتباري خطرونه راکم کړي. د شتمنیو د تصفیې او چمتو کولو د تعدیل شوې مقررې او د شتمنیو د تصفیې د نوې مقررې له مخې د معیاري پورونو په برخه کې د زېرمو جوړول اختیاري ګڼل کېږي.

د ۱۳۹۷ مالي کال تر پایه پورې د ناخالصه پورونو تولیزه تأمین شوې ونډه ۹.۸۴ سلنې ته رسېږي، په داسې حال کې چې د ۱۳۹۶ مالي کال په پای کې دا شمېره ۱۰.۸۹ سلنه ثبت شوې ده.

**۳.۱.۶ د کریډټ وېشنه**

د دې لپاره چې د پور د پورتوفولیو کچه پراخه او د خطر تنوع پراخوالی ومومي او د نویو عوایدو پر ترلاسه کولو سربېره مالي سرچینو ته لاسرسی زیات شي، د افغانستان بانک د نورو سوداګریزو پورونو د وېش سکتور په ۳۰ نورو سکتورونو وېشلی دی. په بیلابېلو سکتورونو کې د کریډټ د پراختیا له شننې څخه معلومېږي چې د پور د پورتوفولیو ستره برخه "په سوداګریز سکتور کې"( د ۴۲.۲۹ سلنې په پرتله ۴۵.۳۵ سلنه) په پانګه اچول شوې ده چې په تولیزه توګه د "پټرولیم او روغنیاتو" لپاره ( ۱۱.۴۸سلنه)؛ نور بنسټیز سکتورونه: "د خدمتونو سکتور" لپاره ( د ۲۷.۴۹ سلنې په پرتله ۲۰.۵۴ سلنه )، د "مخابراتو سکتور/ د موبایل کارتونو وېشونکو" لپاره (۵.۹۸ سلنه)، د "تولیدي او صنعت سکتور" لپاره ( د ۹.۳۵ سلنې په پرتله ۱۲.۱۹ سلنه)، د "سوداګریزه حقیقي ملکیتونو او رغونې سکتور" لپاره ( د۸.۷۰ سلنې په پرتله ۹.۰۳ سلنه) او " د بېخبنسټیزو پروژو" سکتور لپاره (۵.۶۶ سلنې په پرتله ۶.۸۳ سلنه)، د کرنې، مالدارۍ او فارمونو سکتور لپاره (۴.۱۷ سلنې په پرتله ۴.۱۶ سلنه) او د مصرفي توکو سکتور لپاره ( ۰.۸۶ سلنې په پرتله ۱.۹۰ سلنه ) ځانګړې شوي دي. د تولیدي او صنعت سکتور، د سوداګرۍ سکتور، د بېخبنسټیزو پروژو سکتور او د مصرفي توکو په سکتورونو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی، حال دا چې د خدمتونو، کرنې، مالدارۍ او فارمونو، او اشخاصو ته د استوګنیزه رهني پورونو په سکتورونو کې کموالی راغلی دی. د کوچنیو پورونو سکتور ته ځانګړي شوي پورونه ۴۴۳ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې ارزښت یې ۴.۹۸ میلیارده افغانۍ ته رسېږي او د څلورو بانکونو لخوا ورکړل شوي، حال دا چې د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو لپاره ځانګړي شوي پورونه ۲.۳۸ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې ۵۶ میلیونه افغانۍ کموالی ښکاره کوي او د پنځو بانکونو لخوا ورکړل شوي دي. څو اقتصادي سکتورونو ته د پورونو په ځانګړي کولو سره بانکونه د ځانګړي سکتور د کړکیچن کېدو په صورت کې د هغه له اعتباري خطر سره مخ کېږي چې دا کار پر بانکي نظامونو باندې ناوړه اغېزه پرېږدي. له همدې امله بانکونه باید د صعب الحصول پورونو د لوړ نسبت په پام کې نیولو سره د مهمو سکتورونو اړوند خطرونه له نږدې وڅاري.

شاوخوا ۶۹.۷۲ سلنه پورونه د کابل لپاره ځانګړي شوي، حال دا چې د بلخ او هرات ولایتونه په ترتیب سره په دویم او دریم ځای او ورپسې قندهار او بادغیس ولایتونه په څلورم او پنځم ځای کې راغلي دي. په نورو ولایتونو کې د پورونو تخصیص(تناسب) ډېر لږ دی. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې لازمه تنوع راغلې نه ده، خو تمه کېږي چې د وخت په تېرېدو

سره د پورونو وېش متنوع شي. دا به ښه وي چې ټول بانکونه په پور ورکولو کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې خپل رول په ښه توګه ترسره کړي.

**۲.۶ جدول: د پورونو وېش، د ۲۰۱۴ ډسمبر– د ۳۰۱۸ سپټمبر**

| د سکتورونه[۱] | د ۱۳۹۳ لیندۍ (د ۲۰۱۴ ډسمبر) | د ۱۳۹۴ لیندۍ (د ۲۰۱۵ ډسمبر) | د ۱۳۹۵ لیندۍ (د ۲۰۱۶ ډسمبر) | د ۱۳۹۶ لیندۍ (د ۲۰۱۷ ډسمبر) | د ۱۳۹۷ لیندۍ (د ۲۰۱۸ ډسمبر) |
|---|---|---|---|---|---|
| د ملکیتونو او ودانیو سوداګریز پورونه | | | | | |
| **رغونه او ودانۍ** | ۱۴.۳۲٪ | ۹.۴۴٪ | ۱۱.۱۲٪ | ۸.۷۰٪ | ۹.۰۳٪ |
| بېخبنسټیزې پروژې | | | | | |
| پاور | ۰.۳۵٪ | ۰.۲۲٪ | ۰.۳۸٪ | ۰.۴۰٪ | ۰.۴۸٪ |
| سړکونو او ریل پټلۍ | ۲.۴۱٪ | ۱.۱۷٪ | ۰.۶۴٪ | ۱.۳۲٪ | ۲.۱۸٪ |
| بندونه | ۰.۶۱٪ | ۰.۰۹٪ | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۳۶٪ |
| کانونه | ۰.۰۸٪ | ۱.۴۸٪ | ۰.۵۲٪ | ۰.۴۸٪ | ۰.۵۲٪ |
| نورې بېخبنسټیزې پروژې | ۱.۸۱٪ | ۲.۴۴٪ | ۲.۴۴٪ | ۳.۴۶٪ | ۳.۲۸٪ |
| تولیدات او صنعت | | | | | |
| د فلزونو، لرګیو، پلاستیک، ربړ، خرمنو او کاغذونو تولیدات او توکي | ۲.۴۷۷٪ | ۴.۴۲۳٪ | ۳.۴۶۹٪ | ۲.۶۷۱٪ | ۴.۱۰٪ |
| تولیدات، لاسي او ماشیني تولیدات | ۴.۱۸۷٪ | ۴.۲۳۹٪ | ۳.۷۴۳٪ | ۳.۱۶۴٪ | ۳.۶۷٪ |
| سمنټ او ودانیز مواد | ۲.۸۶۴٪ | ۱.۹۶۲٪ | ۱.۲۷۴٪ | ۳.۵۲۰٪ | ۴.۴۲٪ |
| سوداګري | | | | | |
| منسوجات (نساجي) | ۲.۵۹٪ | ۰.۵۲٪ | ۰.۷۲٪ | ۱.۵۴٪ | ۲.۲۱٪ |
| عمده پلورنه | ۴.۹۳٪ | ۹.۸۹٪ | ۴.۳۴٪ | ۴.۶۷٪ | ۳.۶۲٪ |
| ماشینونه | ۰.۱۲٪ | ۰.۲۵٪ | ۰.۱۳٪ | ۰.۰۹٪ | ۰.۴۱٪ |
| پټرولیم او روغنیات | ۸.۷۴٪ | ۹.۸۰٪ | ۱۱.۰۸٪ | ۱۰.۷۸٪ | ۱۱.۴۸٪ |
| پرزه جات | ۰.۲۴٪ | ۱.۴۲٪ | ۰.۲۶٪ | ۱.۳۹٪ | ۱.۷۸٪ |
| برېښنا | ۱.۴۰٪ | ۱.۵۸٪ | ۱.۹۱٪ | ۲.۷۶٪ | ۳.۲۱٪ |
| سمنټ اور نور ودانیز مواد | ۱.۸۷٪ | ۲.۷۳٪ | ۲.۳۵٪ | ۲.۵۷٪ | ۵.۱۴٪ |
| خوراکي توکي | ۴.۵۲٪ | ۸.۲۴٪ | ۷.۸۰٪ | ۷.۲۷٪ | ۶.۴۴٪ |
| نور ټول توکي | ۵.۷۲٪ | ۳.۴۷٪ | ۴.۱۷٪ | ۳.۲۸٪ | ۷.۹۲٪ |
| پرچونه سوداګري | ۳.۹۲٪ | ۳.۲۸٪ | ۷.۳۱٪ | ۸.۱۵٪ | ۳.۱۳٪ |
| خدمتونه | | | | | |
| زده کړه | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۰۳٪ |
| هوټلونه او ریسټورانټونه | ۱.۲۰٪ | ۱.۴۶٪ | ۱.۳۳٪ | ۲.۰۴٪ | ۲.۱۶٪ |
| مخابرات / د موبایل کارتونو ویشونکي | ۲.۹۲٪ | ۵.۷۰٪ | ۵.۹۶٪ | ۵.۵۲٪ | ۵.۹۸٪ |
| ځمکنی ټرانسپورټ | ۴.۸۷٪ | ۵.۳۱٪ | ۴.۸۶٪ | ۱.۸۶٪ | ۳.۰۸٪ |
| هوایي ټرانسپورټ | ۴.۱۸٪ | ۲.۶۶٪ | ۲.۳۵٪ | ۲.۹۰٪ | ۱.۲۱٪ |
| روغتیا | ۰.۷۱٪ | ۱.۱۶٪ | ۱.۴۲٪ | ۱.۷۳٪ | ۱.۷۴٪ |
| رسنۍ، اعلانونه او چاپ | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۴٪ | ۰.۰۵٪ | ۱.۱۸٪ | ۱.۲۸٪ |
| نور ټول خدمتونه | ۶.۱۹٪ | ۱۱.۳۶٪ | ۱۳.۲۲٪ | ۱۲.۲۶٪ | ۵.۰۷٪ |
| څاروي او فارمونه | | | | | |
| څاروي او کرنه | ۰.۰۴۳٪ | ۰.۰۲۶٪ | ۰.۰۵۹٪ | ۰.۲۲۵٪ | ۰.۳۰٪ |
| کرنیز پورونه | ۲.۶۱٪ | ۲.۶۷٪ | ۳.۲۰٪ | ۳.۹۴٪ | ۳.۸۶٪ |
| مصرفي پورونه | ۰.۲۶٪ | ۰.۳۰٪ | ۰.۶۵٪ | ۰.۸۶٪ | ۱.۹۰٪ |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | ۷.۱۴٪ | ۲.۶۸٪ | ۲.۷۸٪ | ۰.۷۱٪ | ۰.۰۰٪ |
| نور ټول پورونه | ۶.۶۸٪ | ۰.۰۰٪ | ۰.۴۳٪ | ۰.۵۷٪ | ۰.۰۰٪ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

۱ د ۲۶/۰۶/۱۳۹۳ نیټې د ۹۳/۰۱ شمیرې د محاسبې متحد المال

## ۲.۶ د پورونو ډله بندي

### ۱.۲.۶ صعب الحصول پورونه

بانکونه باید د خپل اعتباري خطر مدیریتي تدبیرونه پیاوړي کړي څو د صعب الحصول پورونو لوړه کچه چې مطلوبه نه ګڼل کیږي، راکمه کړي. سربېره پر دې، داسي انګېرل کېږي هغه بانکونه چې د پور ورکولو په برخه کې کمزوره کړنې لري، د خطر مدیریت یې بې اغیزې دی. پکاره ده چې د پور په برخه کې لږ کیفیت لرونکي بانکونه د پور لپاره غوښتنلیکونه په کره توګه وارزوي، له ټولو نافذه قوانینو، مقررو، متحدالمالونو، داخلي پالیسیو او کړنلارو سره سم عمل وکړي او د پور اخیستونکو مالي وضعیت له نږدې وڅاري څو ډاډمن شي چې د نورو پورونو ورکړه د مالي نظام د ثبات لپاره کوم خطر نه متوجه کوي.

په پولي اصطلاح، د ۲۰۱۸ مالي کال په پای کې د بانکي نظام په ټولیزه ناخالصه پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه ۳.۶۹ میلیارده افغانۍ او د بانکي نظام په مقرراتي پانګه کې یې ونډه ۱۲.۱۲ سلنې تـه رسېږي چې د ۲۰۱۷ مالي کال د ډسمبر میاشت د ټولیزه ناخالصه پورونو د ۵.۱۹ میلیارده افغانیو یا ۱۲.۴۲ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې موده کې ۱.۴۹ میلیارده افغانۍ کموالی ښکار کوي چې د پورونو حذفول او د یو خصوصي بانک د ملکیت ترلاسه کول یې ستر لاملونه په ګوته شوي دي. له ۸.۹۲ سلنه صعب الحصول پورونو څخه ۶.۷۶ سلنه یې په دوو خصوصي بانکونو پورې تړاو لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو ۳۷.۳۴ سلنه او د مقرراتي پانګې په سلو کې ۱۰.۹۱ جوړوي.

د صعب الحصول پورونو سکتوري شننه ښکاره کوي چې د صعب الحصول پورونو ستره برخه (۳۰.۱۸ سلنه) د خدمتونو سکتور جوړوي، په څمکني ټرانسپورټ (۱۶.۳۱ سلنه)، د سوداګرۍ سکتور د صعب الحصول پورونو د (۲۲.۶۲ سلنې) ونډې په درلودلو سره په دویم ځای کې او د پرچونې سوداګرۍ سکتور ۴.۷۲ سلنه جوړوي. د رغونې او ودانیو سکتور چې د ټولیزه صعب الحصول پورونو ۲۰.۹۴ سلنه جوړوي، په دریېم ځای کې دی، حال دا چې د ښځښستېیزو پروژو او دتولیدي او صنعت سکتورونو په ترتیب سره د یادو شویو پورونو ۱۴.۹۳ سلنه او ۹.۵۴ سلنه جوړوي چې سړکونه او ریل پټلۍ د ۱۰.۸۳ سلنې او د فلزونو، لرګیو، پلاستېیک، ربړ، څرمنو او کاغذونو تولیدات او توکي د ۷.۷۱ سلنې په درلودلو سره ستره ونډه ولري.

۳.۶ ګراف: د پور د پورتفولیو کیفیت




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

د مالي چارو د څارنې لوی آمریت له هغو مالي ادارو سره له نږدې کار کوي چې د پور کمزوره کړنې لري، څو د خپلو شتمنیو د کیفیت د ښه والي لپاره یې پلانونه طرحه او تطبیق کړي. دا وضعیت مقرراتي څارنې او چټکه اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري څو د دغو کمزورو بانکونو د ګټورتیا او د پانګې پر کفایت باندې د منفي اغیزو د مخنیوي لپاره د اعتباري خطر مدیریت پیاوړی کړي.

### ۲.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پورونه

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه)[۲] پورونه په ۱۳۹۷ مالي کال کې د ۲.۵۱ میلیارده افغانۍ کموالي په درلودلو سره ۶.۰۶ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۴.۶۳ سلنه او د مقرراتي پانګې ۱۹.۸۹ سلنه جوړوي. د معکوس ډله بندي شویو پورونو د کموالي ستر لاملونه د پورونو حذفول، د پورونو بیاځلي ډله بندي او د یو خصوصي بانک د ملکیت ترلاسه کول ګڼل کېږي. سره له دې چې معکوسه ډله بندي شوي پورونه راکم شوي دي، خو لا هم د عامل پلاوي لخوا پیاوړې څارنې او اصلاحي اقداماتو ته اړتیا لري، څو د معکوسو ډله بندي شویو پورونو کچه مطلوب حد ته راښکته کړي. سربېره پر دې، د هغو بانکونو چې د پور ورکړې کیفیت یې ټیټ دی، د ګډې ادارې د پیاوړي کولو، د داخلي کنټرول د اغېزمنتیا زیاتولو او د داخلي او غیر سیستماتیک خطر پر بنه مدیریت باندې ډېر ټینګار وشي. د بانک مدیریت باید مناسبه تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي، څو په هغو مسایلو او کمزورتیاوو باندې غور وکړي چې د احتیاطي مقررو له مخې د پور د کمیدو لامل کېږي.

که څه هم سیستماتیک خطر او اقتصادي رکود به له اصولي پلوه د بانکونو د مهمو شتمنیو کیفیت کمزوری کړي په تېره بیا د بانک عامل پلاوی باید داسې میکانیزمونه طرحه کړي چې د دا ډول خطرونو وړاندوینه، د بالقوه خطرونو مخنیوی وکړي او د احتیاطي مقررو له مخې مناسبه احتیاطي تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي.

### ۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه

تر نظر لاندې کټګورۍ[۳] کې ډله بندي شوي پورونه ۴.۶۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۱۱.۲۹ جوړوي او د ۲۰۱۷ کال له ډیسمبر راهیسې ۲.۸۵ سلنه کموالی ښکاره کوي چې دا کموالی د بانکي نظام په پنځو سوداګریز بانکونو پورې تړاو لري. د پورونو دا کټګوري دقیقې څارنې او څېړنې ته اړتیا لري، ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې معکوسه ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه) پورونو ته واوړي او په راتلونکي کې د زیان په کټګورۍ کې وشمېرل شي.

### ۴.۲.۶ په خساره کټګورۍ کې پورونه[۴]

د ۲۰۱۸ مالي کال د ډسمبر تر پایه پورې په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۷۱۱ میلیونه افغانۍ یا ۱.۷۲ سلنه جوړوي او د بانکي نظام په دوو بانکونو پورې تړاو لري.

### ۵.۲.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات

د بانکونو تر منځ ناخالصه طلبات چې د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري. اوس مهال د بانکونو ترمنځ طلبات د بانکي نظام د ټولیزه شتمنو ۹۴.۶۴ میلیارده افغانۍ یا ۲۹.۸۵ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۷ مالي کال د ډیسمبر راهیسې ۲۶.۱۵ میلیارده افغانۍ یا ۳۸.۱۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې په نهو بانکونو پورې تړاو لري. دا بهیر ښکاره کوي چې بانکي نظام د امانتونو په توګه له خلکو څخه د راجلب شویو پیسو یوه برخه نورو مالي ادارو ته لیږدولې ده. له بلې خوا د هېواد د امنیتي او اقتصادي وضعیت په بنه کېدو سره بانکي نظام کولای شي له دې شتمنیو څخه زیاته ګټه ترلاسه کړي. بانکونه باید نه یوازې د یو انفرادي بانک اړوند خطرونه وارزوي، بلکې په کوم هېواد یا

۲. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي مبلغ یا ټکټانه یې د ۶۱ تر ۱۲۰ ورځو پورې (تحت المعیار) ناتصفیه (ناترلاسه) شوې پاتې وي.


۲. پاتې راغلي شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا د ټکټانې مبلغ یې د ۱۲۱ تر ۴۸۰ ورځو (مشکوکه) ورځو لپاره نا تصفیه شوی پاتې وي. پاتې راغلي شتمنۍ چې اصلي یا د ټکټانې مبلغ یې د ۴۸۱ ورځو څخه زیات وي، په خساره کټګورۍ کې پاتې کیږي.

۳. د شتمنیو د ډله بندۍ او تخصیص د نوي مقررې له مخې، هغه شتمنۍ او مخکې ورکړې چې اصلي یا ټکټانې مبلغ یې د ۳۱ تر ۶۰ ورځو پورې (د نظر لاندې) ناتصفیه شوی پاتې وي.

۴. د ۱۶/۰۹/۱۳۹۲ نېټې د ۰۳/۹۲ شمېرې د محاسبې لیک له مخې، هغه شتمنۍ چې د اصلي یا ټکټانې مبلغ اداینه یې د ۵۴۰ یا زیاتو ورځو لپاره نا ادا شوې پاتې وي.

هېوادونو کې چې د دوی مالي وجوه ایښې وي، هم وځاري. د لا وضاحت لپاره ۶.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ.

**۴.۶ ګراف: د بانکونو ترمنځ د طلباتو ونډه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۶.۲.۶ پانګه اچونه

د بانکي نظام د خالصې پانګې[۵] پورتوفولیو په اړوندو کمپنیو کې پور پاڼې، دولتي بیه لرونکي پاڼې او پانګه اچونه رانغاړي. د بانکي نظام د پانګې کچه د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د ډیسمبر میاشتې راهیسې ۸.۴۰ سلنه یا ۱.۹۴ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې د ټولیزه شتمنیو ۲۵.۱۱ میلیارده افغانۍ یا ۷.۹۳ سلنه جوړوي او دا زیاتوالی په درې بانکونو پورې تړاو لري. د بانکي نظام د پانګونې ستره برخه له هېواده بهر ترسره شوې ده. د پانګونې په پورتوفولیو کې دا زیاتوالی په دوو دولتي بانکونو، پنځو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو په دوو نمایندګیو پورې تړاو لري.

### ۷.۲.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات


په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه شتمنیو تر ټولو لویه کټګوري ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴۲.۷۳ سلنه جوړوي او د ۲۰۱۷ مالي کال د ډسمبر راپدېخوا د ټولیزې شتمنۍ په دواړو مطلق او همدا ډول سلنه ایز کې ۲۹.۵۷ میلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي او ارزښت یې د ۲۰۱۸ مالي کال د ډسمبر میاشت په پای کې ۱۳۵.۳۷ میلیارده افغانۍ ته رسېږي. د دې کموالي اصلي لاملونه په خزانه کې نغدې پیسې، د افغانستان بانک سره اړوند حساب، له د افغانستان بانک سره د شپې امانتونو حسابونه، او د افغانستان بانک پانګه ایزې پاڼې ګڼل کېږي.

بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زېرمې له مقررې سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوې پیسې د شتمنیو په نورو ډولونو کې ځای پر ځای کوي.

### ۳.۶ پوراینې

د بانکي نظام ټولیزه پوراینې د ۲۰۱۸ کال په ډسمبر میاشت کې ۲۸۲.۳۷ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تیر کال د ۲۸۰.۱۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲.۱۸ میلیارده افغانۍ یا ۰.۷۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې له امانتونو پرته د ټولیزه پوراینو بېلابېلو برخو لږ څه کموالی کړی دی. د پوراینو تر ټولو ډېره برخه امانتونه (۹۶.۹۶ سلنه) جوړوي چې نورې پوراینې په دویم او پور اخیستنې په دریم ځای کې راځي (د لا وضاحت لپاره ۶.۳ جدول ته مراجعه وکړئ.

**۵.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ د پوراینو ونډه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت

۵. په پانګې اچونې کې په پور پاڼو، بیه لرونکو پاڼو، اړوندو کمپنیو او فرعي شرکتونو کې پانګه اچونې شاملې دي.

### ۱.۳.۶ امانتونه

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمويلي سرچينه ګڼل کيږي او د بانکونو ترمنځ امانتونه او د مشتريانو امانتونه رانغاړي، د ۲۰۱۸ کال په ډسمبر مياشت کې ۲۷۳.۷۸ ميلياره افغانۍ ته رسيږي چې د تېر کال د ورته مياشتې په پرتله ۳.۴۸ ميلياره افغانۍ يا ۱.۲۸ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام ټوليزه امانتونه ۵.۱۰ ميلياره د بانکونو ترمنځ امانتونه او ۲۶۸.۶۸ ميلياره د مشتريانو امانتونه رانغاړي. د بانکي نظام په امانتونو کې د زياتېدو اصلي لامل د مشتريانو د امانتونو زياتوالی ګڼل کېږي چې جاري او موده ايز امانتونه يې ستره برخه جوړوي. په ورته وخت کې د بانکونو ترمنځ امانتونو په کچه کې کموالی ثبت شوی دی. د اسعارو شننه ښکاره کوي چې په افغانۍ اېښودل شوي امانتونه د ۱۰.۶۴ سلنې کموالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۲۹.۳۹ سلنه جوړوي، حال دا چې په امريکايي ډالرو اېښودل شوي امانتونه د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د ۹ سلنې زياتوالي په درلودلو سره ۶۴.۰۴ سلنې ته رسيږي.

د خصوصي بانکونو ټوليزه امانتونه د ۸.۷۷ سلنه زياتوالي په درلودلو سره ۱۸۸.۵۲ ميلياره افغانۍ ته رسيږي او د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۶۸.۸۶ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټوليزه امانتونو کې د دولتي بانکونو ونډه د ارزونې لاندې موده کې ۷۰.۶۵ ميلياره افغانۍ ته رسيږي چې د ۲۰۱۷ کال د ډسمبر مياشت راهيسې ۶.۴۷ سلنه کموالی ښکاره کوي او د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۲۵.۸۱ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټوليزه امانتونو کې د بهرنيو بانکونو د نمايندګيو ونډه ۱۴.۶۱ ميلياره افغانۍ ته رسيږي چې د ۳۱.۸۵ سلنه کموالي په درلودلو سره د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۵.۳۴ سلنه جوړوي.


د امانتونو د ډولونو له پلوه، جاري امانتونه د ۲۰۱۷ زيږديز کال د ډسمبر مياشت راهيسې د ۱.۵۶ سلنه زياتوالي په درلودلو سره د ټوليزه امانتونو ۷۷.۴۱ سلنه، د سپما امانتونه د ۱۰.۸۴ سلنې زياتوالي په درلودلو سره د ټوليزه امانتونو ۷.۴۲ سلنه جوړوي، حال دا چې د بانکي نظام د موده ايزه امانتونو پورټوفوليو د ۳.۰۲ سلنه کموالي په درلودلو سره د ټوليزه امانتونو ۱۹.۱۵ سلنه جوړوي.

**۶.۶ ګراف: په افغانۍ اېښودل شوي امانتونه**





سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت/ د افغانستان بانک

**۷.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکيب**





سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت/ د افغانستان بانک

**۸.۶ ګراف: د بانکي ډلو ترمنځ امانتونه**




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت/ د افغانستان بانک

**۹.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي**




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت / د افغانستان بانک

### ۲.۳.۶ پور اخيستنې

د بانکي نظام د تمويل په ټوليزه جوړښت کې د پور اخيستنې ونډه د ۱۷.۸۵ سلنه کموالي په درلودلو سره د ۲۰۱۸ کال د ډيسمبر مياشتې په پای کې ۳.۰۶ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د بانکي نظام د ټوليزه پوراينو ۱.۰۹ سلنه جوړوي. اوس مهال د بانکي نظام درې بانکونه پوروړي دي.

### ۴.۶ نقدينه ګۍ (سياليت)

د نقدينه ګۍ خطر کولای شو د پور اخيستونکو او امانت اېښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سيالو شتمنيو نه درلودل تعريف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو له نقدينه ګۍ څخه د رامنځته شويو ستونزو د مخنيوی لپاره سياليت په مطلوب حد کې وساتي.

له همدې کبله، بانکونه بايد د شتمنيو يوه مسؤوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دندې د بانک د سياستونو په پام کې نيولو سره د نيمګړتياوو د تحليل او تجزيې له لارې د بانک د نقدينه ګۍ، د حساسيت د ټيسټ، د سناريو د شننې، د نغدي جريان د شننې او داسې نورو له مديريت څخه عبارت دي.

### ۱.۴.۶ د سياليت نسبت (پراخه کچه)

بانکونه اړ دي چې د نغدي (سيالو) شتمنيو نسبت له ۱۵ سلنې ټيټ ونه ساتي. دا کار د سياليت د کمېدو د مخنيوي لپاره ښه لاره ګڼل کيږي.

د بانکي سکتور د نقدينه ګۍ کچه په ټوليزه توګه په دې دوره کې زياته شوې ده چې د ټوليزه شتمنيو ۷۲.۶۱ سلنه نغدې شتمنۍ جوړوي. په منځنۍ ډول د ټول بانکي نظام د سياليت کچه ۷۶.۵۷ سلنې ته رسيږي. حال دا چې د ټولو بانکونو د سياليت نسبت له ټاکل شوي حد څخه لوړ دی. ( د لا معلوماتو لپاره د ۵.۶ جدول ته مراجعه وکړئ).

### ۵.۶ پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري چې د ۱۳۹۷ مالي کال په اوږدو کې **۳۴.۳۹** ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د تير کال په پرتله **۰.۰۳۴** سلنه يا **۱.۵۵** ميليارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي. د بانکي نظام د مالي پانګې د کموالي عمده لامل د ونډو ورکړه او د يوه خصوصي بانک د ملکيت ترلاسه کول ګڼل کيږي.

په ټوليزه توګه، د بانکي نظام د پانګې د کفايت نسبت ۲۶.۶۹ سلنې ته رسيږي. ( د لا زياتو معلوماتو لپاره د ۵.۶ ګراف وګورئ).

ناټوليزه شننه او تجزيه ښکاره کوي چې د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې حد لوړ ټاکل شوی دی. همدا ډول له يوه بانک پرته د بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي حد (د خطر پر اساس د عيار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. د بازل معيار د پانګې او د خطر په اساس د عيار شوې شتمنۍ لپاره په سلو کې ۸ دی.

### ۶.۶ ګټورتيا (نافعيت)

بانکي نظام د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر په مياشت کې په ټوليزه توګه **۲.۴۳** ميليارده افغانۍ خالصه ګټه کړې چې د تېر کال د ورته مودې د ۱.۷۷ ميليارده افغانۍ خالصه ګټې په پرتله د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ګټورتيا زياتوالی چې د ګټې/ زيان په 6.5 جدول کې وړاندې کيږي، عمده لامل يې د غير تکتانې عوايدو زياتوالی ښودل شوی دی. په نورو شته عواملو کې

يې په غير ټکټاني لګښتونو، د ماليې په لګښتونو او د پور په ورکړه کې کموالی بلل کيږي. حال دا چې د کال په تيريدو سره د معاشونو لګښتونه زيات شوي او د خالصې ټکټانې عوايد کم شوي دي (د لا زياتو معلوماتو لپاره ۶.۵ جدول ته مراجعه وکړئ).

له شتمنيو څخه ترلاسه شوې ګټه (ROA) دا په ډاګه کوي چې يو بانک د ښه مديريت په پايله کې له هرې شتمنۍ څخه څومره ګټه تر لاسه کړې ده. د بانکي نظام له شتمنيو څخه تر لاسه شوې ګټه ۰.۸۰ سلنې ته رسيږي، حال دا چې له پانګې څخه تر لاسه شوې ګټه چې په بانک کې د پانګه اچول شوې اکويټۍ د ونډه لرونکو ونډه په ګوته کوي، په کلني ډول د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر مياشتې تر پايه پورې ۶.۸۳ سلنه ثبت شوې ده.

د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر مياشت په پای کې د دولتي بانکونو (SOB)[۶] له شتمنيو څخه تر لاسه شوې ګټه ۱.۲ سلنه، د بهرنيو بانکونو د نمايندګيو (BOFB)[۷] له شتمنيو څخه تر لاسه شوې ګټه ۲.۱۸ سلنه، حال دا چې د خصوصي بانکونو (PB)[۸] له شتمنيو څخه تر لاسه شوې ګټه ۰.۴۶ سلنه ثبت شوې ده.

په ټوليزه توګه د بانکي نظام دوو بانکونو د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۴۹ ميليونه افغانۍ خالص زيان کړی، حال دا چې د ۲۰۱۷ مالي کال په ډسمبر کې دوو بانکونو ۷۹۰ ميليونه افغانۍ خالصه زيان ثبت کړی ؤ. د اصلي عايد (Core Income) پر بنسټ، نهو بانکونو د ارزونې لاندې موده له زيان سره پای ته رسولې، حال دا چې د ۲۰۱۷ کال په ډسمبر کې څلور بانکونه په زيان کې ؤ.

د ډلې پر بنسټ شننه ښکاره کوي چې دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنيو بانکونو نمايندګيو د ارزونې لاندې موده له ګټې سره پای ته رسولې ده. (د زياتو معلوماتو لپاره ۶.۱۰ جدول ته مراجعه وکړئ).

د ۲۰۱۸ زيږديز کال د ډيسمبر تر پايه پورې د بانکي نظام د ګټورتيا تر ټولو ستره برخه دولتي بانکونو جوړوله چې ۱.۰۶ ميليارده افغانۍ، د خصوصي بانکونو ګټه ۹۰۱ ميليونه افغانۍ او د بهرنيو بانکونو د نمايندګيو ګټه ۴۷۱ ميليونو افغانۍ ثبت شوې ده.

**۳.۶ جدول: د بانکي نظام د مالي ټينګښت مهم شاخصونه**

| نسبتونه | د ۲۰۱۴ ډسمبر | د ۲۰۱۵ ډسمبر | د ۲۰۱۶ ډسمبر | د ۲۰۱۷ ډسمبر | د ۲۰۱۸ ډسمبر |
|---|---|---|---|---|---|
| د پانګې د کفايت د نسبت مجموعه | **۲٦.٤٦** | **۱۹.۹٤** | **۲۷.٦۸** | **۲۹.۸۱** | **۲۵.٦۹** |
| په ۱ رديف کې د پانګې د کفايت نسبت | **۲٦.۰۹** | ۱۹.۶۶ | ۲۲.۹۳ | ۲۸.۱۷ | ۲۴.۴۰ |
| په ټوليزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | **۸.۰۹** | ۱۲.۳۴ | ۱۲.۶۷ | ۱۲.۴۲ | ۸.۹۲ |
| له شتمنيو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | **۰.۹۰** | ۰.۲۰ | ۰.۱۱ | ۰.۶۴ | ۰.۸۰ |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه(ROE) | **۷.۳۵** | ۱.۶۹ | ۱.۰۸ | ۳.۳۸ | ۶.۸۳ |
| د سياليت نسبت ( پراخه منځنی کچه ) | **۷۳.٦** | ۶۸.۲۲ | ۶۷.۷۴ | ۶۵.۹۲ | ۷۶.۵۷ |
| په ټوليزه شتمنيو کې د سيالو شتمنی ونډه | **۷۳.۲۸** | ۷۵.۰۵ | ۷۱.۹۸ | ۷۳.۹۵ | ۷۲.۶۱ |

سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت/ د افغانستان بانک


۶. SOB دولتي بانکونه ۷. BOFB د بهرنيو بانکونو نمايندګي ۸. PB خصوصي بانکونه

**۴.۶ جدول: د ګټې/ زیان جدول**

| توکي | ۱۳۹۵ لینډۍ (د ۲۰۱۶ ډیسمبر) | ۱۳۹۶ لینډۍ (د ۲۰۱۷ ډیسمبر) | د بدلون سلنه (کلنۍ) |
|---|---|---|---|
| د ټکتاڼي عاید | ۸,۹٦٤ | ۷,٤۹۸ | -۱٦.۳٥ |
| د ټکتاڼي لګښت | ۱,۷٤۳ | ۱,۱۳۷ | - ۳۴.۷۶ |
| د ټکتاڼي خالص عاید | ۷,۲۲۱ | ۶,۳۶۲ | -۱۱.۸۹ |
| د غیر ټکتاڼي عاید | ۷,٦٤۷ | ۸,۳۶۸ | ۹.۴۲ |
| د غیر ټکتاڼي لګښتونه | ٦,۳٦۰ | ۶,۰۳۰ | - ۵.۱۸ |
| د معاش لګښت | ٤,۱٦۷ | ۴,۳۷۴ | ۴.۹۶ |
| د پور تخصیص | ۱,٤۸۸ | ۹۸۳ | -۳۳.۹۳ |
| د مالیې مخکې ګټه/زیان | ۲,۸٥۳ | ۳,۳۴۳ | ۱۷.۱۷ |
| د مالیې وروسته ګټه/ زیان | ۱,۷۷٦ | ۲,۴۳۳ | ۳۶.۹۹ |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا**





سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱۱.۶ ګراف: د بانکي نظام له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه او د شمتنیو څخه ترلاسه شوې ګټه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱۲.۶ ګراف: د خالصې ټکتاڼې**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۷.۶ د اسعارو خطر**

د اسعارو پرانیستی عمومي وضعیت د خطر کچه تر ډېره حده پورې د بانکونو لخوا په هغه محدوده کې په پام کې نیول شوې چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې شتون لري، پرته له درېیو بانکونو څخه چې د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعیت (د امریکایي ډالرو اوږد مهاله وضعیت) له ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده. دا بانکونه باید خپل اسعاري وضعیت په ټاکلي محدوده کې واقع کړي، که نه نو د امریکایي ډالرو د ارزښت کموالی د بانکونو د لا زیان لامل کېدای شي.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغېزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړېدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۱.۸۹ میلیارده افغانۍ ډېرېږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۳۸۰ میلیونو افغانیو په کچه بدلون راولي او کمېدل یې د دې بر عکس بدلون راوستلی شي.

**۸.۶ د ټکټانې د نرخ خطر**

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د ۰.۰۳ سلنې نرخ د زیاتوالي (د ټکټانې د زیاتیدونکي نرخ شاک) له امله ۱.۲۴ میلیارده افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چېرې د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټیدونکي نرخ شاک) وموږ له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۱.۲۴ میلیارده افغانۍ ټیټ شي. که چیرې د پنځو بانکونو د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیات شي دا کار به دراتلونکو ۱۲ میاشتو په ترڅ کې د دې بانک د خالصې ټکټانې عاید راکم کړي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پورواینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ټولیزه ګټه زیاتوي، خو په بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.


د ریاست د دفتر عمومی آمریت

برښنالیک: info@dab.gov.af

ټیلیفون: +۹۳ ۲۰ ۲۱۰۴۱۴۶